Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غزني شابهار

# او د باختر د بودايي هنر سرچينه

ليکوال : ارواښاد استاد احمد علي کهزاد
ژباړن : محمد داود وفا

د استاد کهزاد له ژوندليک، کتابښود، لمنو، نښلونو
او ويپيانګې سره

PROPERTY OF ARIC Established 1989

PROPERTY OF ACKU 82920

۱۳۷۸ ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

+۹۲-۹۱-۲۵۶۴۵۱۳

نوم : د غزني شابهار او د باختر د بودايي هنر سرچينه

ليکوال : استاد احمد علي کهزاد

ژباړن : محمد داود وفا

د چاپ زيار : عبدالغفور لېوال

خپرندوی : دانش خپرندويه ټولنه

چاپ شمېر : ۵۰۰ ټوکه

نېټه : وږی ۱۳۷۸ ل - اګست ۱۹۹۹

کمپوزر : وحيد الله وردګ

چاپځی : دانش کتابتون قصه خوانی پېښور
فون ۲۵۶۴۵۱۳

# د خپرندوی یادښت

افغانستان د کولتورونو او تهذیبو د نړۍ والې څلور لارې په توګه پېژندل شوی، چې په ټوله نړۍ کې له تاریخي ارزښتونو برخمن هېواد ګڼل کېږي. په ځانګړې توګه د دغه هېواد لرغوني هنرونه د نړۍ په تاریخ کې ساری نه لري.

خپرندویې فرهنګي ټولنې ښايي د خپل هېواد د لرغونيو هنرونو د تاریخ په اړه لیکل شوې لیکنې او کتابونه خپاره کړي او خپل تاریخ د نړۍ پر مخ وځلوي.

دانش خپرندویه ټولنه پرهمدغه پار د هېواد[د] نامتو تاریخپوه او لرغونپوه اروانباد استاد احمد علي کهزاد د دوو لیکليو کوچنیو کتابونو: د غزني شابهار د لرغوني مزدك (معبد) او په کوندوز کې تر سر شوې لرغونپلټنې- چې زموږ د هېواد پرلرغوني هنر و تاریخ رڼا اچوي- د ښاغلي محمد داود وفا په قلم پښتو ژباړه د ده له ژوندلیك او کتابښود سره یوځای خپروي.

هیله ده، د هېواد د لرغوني تاریخ و هنر مینه وال یې له لوستنې خوند واخلي او تاریخپوهان ترې په خپلو څېړنو کې ګټه پورته کړي.

په درناوي
دانش خپرندویه ټولنه
وږی ۱۳۷۸ هـ ل پېښور

# لیکلــړ


ګڼه ........................ مخګڼه

۱. د استاد محمد پرویش شاهین سریزه................................ الف

۲. د ژباړن خبرې .............................................. و

**لومړۍ برخه:**

۳. د استاد کهزاد سریزه.......................................... ی

۴. شابهار یا شاویهاره په غزني کې د بودایي واکمنۍ مزدك .............. ۱

۵. د شابهار په دښته کې د غزنوي لښکرو د رسم ګذشت ډګر ............ ۱۵

۶. "نغاره خانه" او شابهار ډګر .................................... ۲۱

**دویمه برخه:**

۷. د باختر بودایي هنر (د پښتو ټولنې سریزه) ........................ ۲۴

۸. کوندوز: جغرافیاي او تاریخي لنډیز ................................ ۲۵

۹. د باختر بودایي هنر او د ګریك و بودیك هنر سرچینه .................. ۲۸

۱۰. د انځورنو لیکلړ او څېړنه ....................................... ۳۸

**درېیمه برخه:**

۱۱. اروابناد استاد احمد علي کهزاد د افغاني فرهنګ ځلنده ستوری .... ۴۰

۱۲. د استاد احمد علي کهزاد خپاره شوي کتابونه او لیکنې ............... ۴۹

الف: کتابونه............................................................ //

ب : ژباړې.............................................................. ۶۷

۱۳. په بهرنیو ژبو د استاد کهزاد خپاره شوي کتابونه........................ ۷۱

۱۴. د استاد کهزاد ناخپاره شوي کتابونه ................................ ۷۴

۱۵. په خپرونو کې د استاد کهزاد لیکنې ................................ ۷۷

۱۶. اخځونه او پایلیکونه ............................................... ۸۱

۱۷. وییپانګه .......................................................... ۸۲

۱۸. د کتاب انګریزي پېژنـدنه........................................... 1

# سریزه

داد پښتو ژبې او ادب لویه نېکمرغي ده، چې له قهرمان خوشال-خان خټك نه وروسته ورته ځو داسې پوهان په لاس ورغلي، چې که د خوشال بابا تر پوره رسېدلي نه دي؛ نو د خپلې پوهې، زیار او کړاو له امله يې پښتو ژبې، پښتو فرهنګ او پښتو ادبیاتو ته دومره څه وربښلي، چې نن پرې پښتانه وياړي. دخوشال بابا اوننني پېر ترمنځ چې کومه خلا را منځته شوې وه، هغه زموږ دغه پوهانو په داسې کوټلي ډول ډکه کړې چې پښتو ادب پرې دسيالۍ په ځای کې خپله شمله هسکولی شي.

زموږد ژبې او ادب دا پوهان د ګوتوپه شمار دي، خو درې تنه په کې سرلاري دي:

اروابناد علامه پوهاند عبدالحی حبيبي، اروابناد استاد احمدعلی-کهزاد اواروابناد دوست محمد خان کامل.

اروابناد ډاکټر احمدعلي کهزاد، سره له دې چې په خټه پښتون نه و، خو افغان و او د افغانستان په خاوره کې پيدا شوی، لوی شوی اوپالل شوی او د خپلې پوهې او ربښتينولۍ په زيار يې د لويې پښتونخواد تاريخي نښو او حقايقو د رابرسېره کولو لپاره په داسې بې پرې توګه څېړنې کړې دي، چې نن پرې تمامه لره اوبره پښتونخوا وياړي. ځکه نو پښتانه هرهغه څوك خپل ګڼي چې په ريښتيني توګه يې تاريخي پلټنې بشپړې کړې وي.

استاد کهزاد زموږ د هېواد لوی مورخ، ژبپوه، لرغونپوه، نژاد پوه او لوی دانشور و، ده زموږ د هېواد زوړ او ننني تاريخ داسې سره نښلولی چې د خپلې ريښتينې څېړنې او زيار په ترڅ کې يې نن کار ټولو کورنيو او

بېرنیو خپرونکیو ته یو سندي او باوري کار ګرځېدلی دی

د ګران هېواد افغانستان او ان د دې ټولې سیمې په تاریخ پوهانو کې یو کمی دا دی، چې زیات شمېر یې د خپلو عینکو او سترګیو تر کتنې لاندې پلټنې تر سره کوي. چې په ترڅ کې یې تعصب، ضدیت، جهل، انا، بې ځایه بې ثبوته خبرې د ریښتینولۍ پرځای تینګې نیسي او بیا که تر سرکه هم وي، له خپلو خبرو نه اوړي. هرڅو که د نویو پلټنو په ترڅ کې ریښتینې نتیجه هم تر لاسه شي.

تر کومه ځایه چې ما د ارواښاد استاد کهزاد آثار او افکار لوستي، نه یوازې دا چې د ده په لیکنو کې د پورته خبرو څرک نه شته بلکې څېړنې یې دومره پخې، مستندې او مدللې دي، چې زما په اند ورسره د مخالفت رابرسېره کېدنې هډو سوال نه پیدا کېږي که د ده آثار په ځیرلې ښه ولوستل شي. د افغانستان اود سیمې د ریښتینې تاریخ دښمنان اومخالفین به په خپله د ده د نظرونو منښته وکړي.

استاد کهزاد خپلې ټولې څېړنې په دري ژبه بشپړې کړي او خپرې کړې دي او یوه ډېره لږه برخه یې په پښتو ژباړل شوې. اوس دا ضرورت رامنځته دی، چې د ده ټولې لیکنې په پښتو وژباړل شي او ګته یې ټولو پښتنو ته ورسېږي.

اوس چې نړۍ ساینتیفیکه شوې او د پرمختګ په حال کې ده، پښتانه باید نور لاس تر زنې کښېني او د دوی د قوم ژبې او توکم په اړه ورکړل شوي نظرونه او لیکل شوې پېښې خپلې ژبې ته راواړوي او خپل خلک پرې خبر کړي. په پښتو کې د ژباړې برخه ډېره لږه ده په تېره بیا د بهرنیو ژبو د افغانستان په تاریخ او فرهنګ- چې نننۍ پښتونخوا هم ورسره ګډه ده- په بهرنۍ نړۍ کې په ټولېز ډول په هرو دریوورځو کې لس لیکنې کېږي، چې یا د کتاب یاد رسالې اویا هم د یوې کوچنۍ لیکنې په بڼه وي، په دغو لیکنو کې ډېرې داسې هم وي، چې زموږ له اصیل تاریخ او فرهنګ سره سر نه خوري او څېړونکي او لیکونکي په ناسمو لارو سر شوي وي، خو په پښتونخوا او پښتنو کې داسې څوک شته چې د هغوی دې نظرونو ته ځواب ووايي؟دا د پښتنو بدمرغي ده!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورې نړۍ والې ژبې خوپرېږد. په ایران کې هره ورځ په لسګونو ټوکه داسې کتابونه خپرېږي، چې پښتو ژباړه یې پر موږ فرض او قرض وي. دري ژبه زموږ د پښتو خور ده او ویونکي یې له موږ سره ګډ فرهنګي او کولتوري اړیکې لري. له دې امله له دري ژبې نه پښتو کونه زموږ د ادبیاتو په پرمختګ کې یو اهم ضرورت دی.

ستاسې په لاس کې کتاب د ارواښاد استاد کهزاد په دري ژبه د دوو داسې لیکلیو کتابونو ژباړه ده، چې پښتو کول یې پښتنې فرهنګ ته سراسر ګټه ده.

داکتاب په اصل کې دری کتابونه دي. یو یې د غزني په شابهار کې تر سره شوې تاریخي پلټنې. دویم یې په کوندوز کې ترسره شوې لرغونپلټنې او دریم یې د دغه دوو کتابونو د لیکوال ژوند لیک او آثار درپېژني.

لومړنی کتاب د استاد کهزاد لیکنه ده او په متن کې به یې تاسې ولولئ، چې د افغانستان په یوه تاریخي سیمه کې د دغه ځای د پخوانیو استوګنو فرهنګ، ژبه اودود ودستور څه ډول وو. هلته د خلکو ګروهېزو اړیکو څه ډول درلود؟ دا تاریخي پلټنې د استاد کهزاد د خپلو سترګو لیدلی حال دی، چې په خوږه او ادبي ژبه لیکل شوې او ښاغلي ژباړن پښتو کړې دی.

دویم کتاب له فرانسوي ژبې نه استاد کهزاد ژباړلی او داهغه ګزارش دی چې ښاغلی پروفیسر موسیوهاکن په کوندوز کې لرغون پلټنې کړې او د دغه پلټنو په ترځ کې په لاس ورغلي حقایق او پېښې یې په کې لیکلي ،په دغه کتاب کې تاریخي پېښو ته یوازې اشارې شوي دي چې اوږدو څېړنو ته اړتیا لري.

دا دواړه کتابو نه ګزارشي بڼه لري، خو اخباري ګزارشونه نه دي، بلکې تاریخي او لرغوني ګزارشونه. د دې کتاب دریيمه برخه په خپله ځانله یو کتاب دی. چې ښاغلی ژباړن د ارواښاد کهزاد په اندو ژوند او لیکلیو کتابونو ښکلې کړې ده.

دا کتاب د محمد داود وفا خپله لیکنه ده چې لومړی د استاد

کیږاد اوبیایي د دد آثار په کې را ټولېږندلي دي. چې یوه کتورد خبره دد
د استاد کهزاد د ژوند او آثارو په اړه ما دوه دري خایه لیکنې
لوستي، یو خو هغه ټولې په دري ژبه وې او پښتو کې یې هم لیکل ضرورت
ؤ او بل دا چې دا راته تر نورو لږه بشپړه بنکارده شوه او داچکه چې
ښاغلي محقق حسین نایل، چې لیکنه یې ترنورو لږه بشپړه ښکاري،
د استاد کهزاد آثار راټولېږندلي له هغو پرته د استاد کهزاد په لیکنو کې نور
ډېر داسې څه موندل شول چې هلته یې هدو یادښت راغلی نه دی، لکه
په انګلیسي ژبه داستاد کهزاد لیکلی کتاب (د کابل تاریخي لاربنود) چې
(۷۰۰) مخونه لري او یا په ننګرهار (پخواني اتحاد مشرقي) کې دتاریخي
څېړنو په اړه داستاد کهزاد په پښتو ژبه پرله پسې خپرې شوې مقالې، همدا
ډول ډېر داسې کتابونه چې ښاغلي نایل یې هسې یو یادښت کړی، دده مور
ته پوره راټولېږندلي دي.
همدارنګه دښاغلي نایل په کتاب کې د استاد کهزاد له آثارو سره
د تعصب په قلم چال چلند تر سره شوی، چې له ورا څرګندېږي او دا خو
حتمي خبره ده چې د یوه متعصب په لاس لیکل شوې سوانح به سمې وي
او که د یوه بې تعصبه په قلم. دا اندازه تاسې په خپله ولګوئ.
د استاد کهزاد د سوانحو د لیکلو بله ګټه دا ده چې دلږې
پښتونخوا استوګن خو نه انګرېزان شول او نه پښتانه، نه یې انګرېزي داسې
یاده کړه چې بهرنیانو ته پرې خپل فرهنګ وځلوي اونه یې خپله پښتو په
اصیله بڼه پرېښوده. له همدې امله یې دخپلې پښتو ژبې خور (دري ژبه) نه
زده او هدو پروایې نه ورځي، تیارې ته ناست دي. که څا ورته پښتو ولیکل
وبه یې لولي، ګنې غوږ پرې نه ګروي. نودا دوی ته هم یوه ګټه شوه، چې
د خپل لرغوني فرهنګ له یوې څنډې نه خبر شي.
د ښاغلي وفا (۱) ټول کتاب (ژباړه ، لیکنه) په نسبتاً سوچه او کره
پښتو لیکل شوې، سره له دې چې زه په خپله دومره کره لیکونکی نه یم،
خو کیدای شي دایوازې زماستونزه وي. زه په خپله تر ډېره د دې **کاروړلوی**

يم. پرېږده چې نور هرڅه خپل ولرو. که څوك بياهم په دې اړه له ستونزو سره مخ وي، وييپانگې ته مراجعه کولی شي.

د ښاغلی وفا دا کتوز کار په ډېرو ستاينو ارزي، خو که زه دا کار وکړم، گرانو لوستونکيو ته به څه پاتې نه شي. پرېږده چې تاسې هم په کې يو څه ووايـاست.

زه په خپله د ښاغلي وفا استعداد ته خوشاله يم او په گانده (آينده) کې ترې د خپلو ملي وياړونو د لا څلونې په تمه يم، خدای دې نور پښتانه ځوانان هم پر داسې لار ورسم کړي.

په درناوی
محمد پرونش شاهين
نورستان. سنکلور. سوات
دمارچ دويمه ۱۹۹۹

# دژباړن خبرې

ارواښاد استاد احمدعلي کهزاد دافغانستان نامتو تاریخ لیکونکی اولیکوال دی. دی یوازې دافغانستان دلرغوني تاریخ نه، بلکې دافغانستان داوسمهالي (معاصر)تاریخ لیکونکی اواستاد هم و.ده په ډېره خوږه ادبي ژبه په بې پرې توګه دافغانستان پروني اونني (لرغوني-معاصر)تاریخ سره نښلولی او د دغه لرغونې تاریخي خاورې د تاریخ اوفرهنګ په څلونه کې یې نه ستړې کېدونکې هڅې کړې دي.

د ارواښاد کهزاد مورنۍ ژبه دري وه، خو ورسره یې په خپله بله ملي ژبه (پښتو) هم لیکنې کړي اوخپرې کړي. خو استاد یو سر و او په یوه سر د دومره ډېرو لکنو کول او بیا د هغو ژباړل څه اسانه خبره نه ده. له همدې امله ده همدومره کړي چې په دري ژبه- چې ده ته اسانه وه- یې د افغانستان د تاریخ تیاره او تت ګوټونه رڼا کړي او د خپلو لیکنو ژباړه اوخپرونه یې نورو ته پرېښې ده.

دافغانستان په تاریخپوهانو کې دوه تنه:ارواښاد علامه پوهاند عبدالحی-حبیبی او ارواښاد استاد احمد علي کهزاد هغه پوهان دي، چې په بې پرې توګه اود تعصب له زاویې پرته یې دخپل لرغوني مدنیت په څلونه کې ځانونه تر مرګه بښه ستړي کړي او د خپل هېواد دفرهنګ په تاریخ کې یې داسې کتابونه او نښې پرایښې، چې تر هغې افغانستان ژوندی وی، د دوی نومونه به ورسره ژوندي وي.

اوس نو داد ځوانو لیکوالو او څېړونکیو دنده ده، چې د خپلې ویاړلې خاورې اومدنیت په اړه دا ډول لیکنې اوخپرونې راواخلي وې لولي، وې ژباړي او خپرې یې کړي.

ارواښاد استاد کهزاد لکه د ارواښاد پوهاند حبیبي په څېر پر موږ دا حق لري، چې لیکنې یې وژباړو او په یوځل نه په ځوځو ځل یې خپرې کړو، که موږ دا کار ونه کړو د خپلې خاورې او فرهنګ حق به مو نه وي تر سره کړی.

ستاسو په لاس کې کتاب د ارواښاد استاد کهزاد د دوو کوچنیو کتابونو ژباړه ده، چې په همدغه پار ژباړل شوې او ده د خپلو پلټنو، کروېږنو او د سترګو

تبدلي حال په توګه، د افغانستان د لرغوني تاریخ یوه څانګه په کې څېړلې ده.

لومړی کتاب په غزني کې پر ۱۳۳۸ ل کال دیوه موندل شوي بودایي مزدك (معبد) په اړه چې "شابهار" یا "شاوبهاره" نومېږي مونږ ته څرګندوني کوي.

دغزني د دغه مزدك د سپړنو او څېړنو په اړه دیادشوي کال په دوبي کې دافغانستان دوخت لرغونپوهنې څانګې د ایټالیې له یوه رابلل شوي لرغونپوه پلاوي سره یو پرېکړه لیك لاسلیك کړی و، چې د همدې پر بنسټ هغوی کار پیل کړ او استاد کهزاد له دغه پلاوي سره د افغاني استازي په توګه ملګری و.

پخوا د دغه مزدك په اړه څوك په څه نه پوهېدل اود "شابهار" نوم یوازې د یوې دښتې په توګه یادېده، خو چې استاد کهزاد له ایټالوي لرغونپوه پلاوي سره اوږه پر اوږه پرله پسې (٦) کاله څېړنه وکړه، نو څرګنده یې کړه چې دلته د کوشاني لړۍ د نامتو پاچا "هوویشکا"- چې د "کنیشکا" په ځای ناستو کې تر ټولو پیاوړی واکمن و- په لاس یو جوړ شوی مزدك چې د دویمې زېږدې پېړۍ له پای د اتمې زېږدې پېړۍ تر پایه د لمانځې یو لوی منځي و، تر خاورو لاندې دی.

د څېړنې په ترڅ کې په دغه مزدك کې ډول ډول ډېرلیکونه، د کاروني لوښي، د راهبانو د استوګنې خونې، ډېرې اوسېکې ترلاسه شوې، چې د افغانستان د بودایي ګروهې دیو بل منځي په زیاتون د افغانستان د لرغوني تاریخ یوه ورکه پاڼه وموندل شوه.

د هېښندې وړ خو دا ده، چې همدا بودایي لوی منځی د غزنوي پېر د لوی واکمن "سلطان محمود غزنوي" پلازمېنه هم وه، خو تر ده له مخه د دویمې لېږدې (هجري) پېړۍ پر اوومه لسیزه د یحیي د زوی فضل په امر- چې د عباسي واکمن هارون الرشید له خوا د افغانستان سیمه ایز واکمن ټاکل شوی و- د جبرائل د زوی ابراهیم په لاس ویجاړ کړای شوی و.

غزنوي لوی واکمن محمود پر همدغه شابهار غونډۍ، چې سیمه ایز خلك یې نغاره او سردار غونډۍ هم بولي، خپله پلازمېنه جوړه کړې وه او هغه مهال چې به هند ته له لښکر سره ووت، دلته به یې خپل لوی سلطنتي تجیر ودراوه او په لیکو (صفونو) کې به یې د سپرو پیلانو او پلیو لښکرو ننداره کوله. وروسته به د تلك د چمتوالي نغاره ډنګېده او بیا به دا نغاره په غزني ښار کې د ټولو خلکو د خبروني لپاره هم وهل کېده او په دې توګه به ده له شابهار غونډۍ خپل تلك پیل کړ.

غزنوي محمود هند د تلك په لاره او همهلته په هند کې ډېرې بوت خانې (بودایي منځي) ویجاړې کړې، خو دا پته وړته نه وه چې دی چې په خپله

پلازمېنه کې پر کوم پلاز ناست دی. دهمدې تر پښو لاندې روغ جوړ بودايي مزدك ښخ دی. دغه مزدك ته د ده د واکمنۍ تر پایه پام شوی نه دی او روغ ترې پاتې شوی دی.

د استاد کهزاد په دغه کوچني کتابګوټي کې دا او ددې په شاوخوا کې نورې خبرې شوې دي او د څېړنې په ترځ کې یې څرګنده کړې ده. چې د پېریو په پوړیو کې په دغه سیمه کې د خلکو اند ژوند څه ډول وو؟

په دې اړه به لږ په غځېدلې بڼه تاسو د دغه کتاب په منځپانګه کې څرګندونې ولولئ!

پر دې سربېره به تاسې ته دا هم څرګنده شي چې استاد په څومره ځېرلې بڼه د افغانستان لرغوني تاریخ څېړي.

دويم کتاب په باختر کې د بودايي هنرېلا ښېلې خواوې څېړي، چې دا کتاب هم له کوندوز نه د تر لاسه شويو تاريخي نښو په اړه موږ ته څرګندونې کوي.

دا کتاب لومړی ځل ښاغلي موسيوهاکن په فرانسوي ليکلی ——

اواستاد کهزاد پر ۱۳۱٦ل کال په کابل کې په دري ژباړلی اوله فرانسوي آرمنځپانګې سره يې يوځای خپور کړی، چې دلته ورسره فرانسوي متن نه دی يوځای شوی.

پردغه دواړو کتابونو استاد کهزادسريزې کښلې چې ورسره په دويم کتاب کې د پښتو ټولنې سريزه هم مله ده- په پښتو ژباړه کې دا دواړه په خپل خپل ځای کې راوړل شوي‌دي.

د دې لپاره چې د استاد کهزاد د شخصيت او کړي کار ياد مو تاند ساتلی وي، د کتاب په پای کې د استاد کهزاد لنډه پېژندګلوي او هم د ده د څرګندو چاپ او ناچاپو کتابونو لنډه يادونه او د ده څو عکسونه مو ورسره يو ځای کړل.

هيله ده د اړتيا په مهال ترې ګټه واخيستل شي.

په پای کې ښايي د پښتو ژبې د خوږژبي او اورژبي شاعر او تاند ليکوال زړه ته راتبر عبدالغفور لېوال د مينې هم درناوی وشي چې.د ده په هڅو دا کتاب د خپراوي جوګه شو.

په درناوي

محمد داود وفا

۱۳۷۷ دمرغومې / ۲٦ مه

کامه - ننګرهار

# سریزه

"شاویهاره" په لرغوني پېرکې د بودایي واکمنۍ دمزدك او "شابهار" د غزنوي لښکرو د رسم ګذشت د ډګر په توګه سرسري شهرت درلود.
د ایټالوي لرغونپوه پلاوي دپلټنو په وياړه چې په "سردارپته" کې یې تر سره کړې وې دغزني د دغه مزدك، آرځای اولرغونیو فوکلوري نومونو په باب ما د تاریخي او ادبي لاسوندونو او ولسي روایاتو په باور یوه اوږده لیکنه ولیکله. چې د ۱۳۳۷ ل کال د تلې میاشتې پر لومړیو د اصلاح ورځپاڼې په شپږو ګڼو کې خپره شوه.
د لوستونکیو دهرکلي له امله د کتاب چاپولو مؤسسې دیوه کتابګوټي په څېر د دغه لیکنې د بیا خپرونې تکل وکړ. دوه نورې ورې لیکنې چې پر ۱۳۳۷-۱۳۳۸ ل کلونو د ژوندون په مجله کې- په کابل راډیو کې تر اورولو وروسته- خپرې شوې وې، مې هم ورسره یوځای کړې او دا رساله ترې جوړه شوه.
سره له دې چې د لرغونپېژندنې پلټنې پای ته نه دي رسېدلي اوکېدای شي چې په راتلونکیو کلونو کې هم رواني وي، بیاهم هیله من یم چې په دغه څو مخونو کې د بودایي ګروهي د یوه ښکلي پرتمین مزدك په اړه - چې دغزني داوسني ښار په شاوخوا کنډوالو کې دی - لوستونکیو ته نوې څرګندونې روښانه شي.

احمد علي کوهزاد

د تلې ۲۵مه ۱۳۴٦ لمریز

ګذرګاه ، کابل

PROPERTY OF ACKU 8220

# "شابهار"

# یا

# "شاویهاره" په غزني کې د بودایي واکمنۍ مزدک

لکه چې په راډیو کې مو اورېدلي او په ورځپاڼو کې مو لوستي له دوو اوونیو راهیسې ایټالوي لرغونپوه پلاوی غزني ته تللی او د کیندنو په زیار ایستنه یې پیل کړی. د دې لپاره چې مینه وال د دغه زیار له آرېځموخې (اصلي هدف)، د کیندلو له ځای او څېړنو نه خبر شي په لاندې څو مخونو کې څرګندونې کېږي:

پر ۱۳۳٦ لمریز کال درسمي دندې له مخې دایټالیې دختیځ پېژندنې ټولنې او د ایټالیې لرغونپوه پلاوي له مشر پروفیسر توچې سره د غزني ښارته د سپړل کېدونکیو ځایونو دټاکنې لپاره لاړم.

تر ډېرو ګرځېدو او پلټنې وروسته، چې د زاړه ښار کنډرې مو وکتې، دوه ځایونه د ډېرې پاملرنې وړ وو. یو د درېیم مسعود د څلي په شاوخواکې د سلطان ابراهیم د زیارت خو او شاه او بل د غزني د بالاحصار سهیل ختیز لوری، چې که د روضې له کلي یې وګڼو، نو د سلطان محمود غزنوی د زیارت سهیل لویدیځ لورته درې کیلومتره لرې د پراخې دښتې په منځ کې و.

دا دوه ځایونه له دې امله وټاکل شول، چې یو ځای دغزنویانو پرېپېر او بل تر اسلام وړاندې پېر پورې اړه درلوده او زموږ خوښه دا وه، چې

د دغه دواړو پېرونو نښې تر لاسه کړو.

په ۱۳۳۷ ل کال يو ځل بيا له پروفيسر توچي سره غزني ته لاړم او ښه مې په ياد دی، چې د سلطان ابراهيم د زيارت ختيز لوري ته د سلو مترو په شاوخواکې مو د سپېړنو ځای وټاکه. چې د ايټالوي پلاوي دوه پوهانو(شراتو)او(بمباچي) پرې کار پيل کړ.

سره له دې چې په دغه ځای کې لا کار پای ته نه دی رسېدلی او کېدای شي، چې څوکاله به نور هم روان وي، ديوې لويې ودانۍ پايڅوړ را څرګند شو، چې ايټالويانو دا وداني د درېيم مسعود ماڼۍ وبلله. زه په دې ګروهه يم چې په دغه ځای کې موږ له يو ښوونځي (مدرسې) سره مخ شو. په هره توګه د دغه سپړنو او ډېرليکونو بشپړه څېړنه اوږدې ليکنې او پنډو کتابونو ليکلو ته اړتيا لري. چې يادښتونه يې ايټالويانو وخت پروخت ليکلي او د کار پايله به د يوه کتاب په ترڅ کې راوباسي، له دغه ځايه د غزني د اسلامې موزيم نښې رامنځته شوي دي. دا موزيم په روضه کلي کې هماغه د سلطان عبدالرزاق د موزيم پا يڅوړ دی، چې له بيا جوړونې وروسته پر موزيم اوښتی او موندل شوې نښې په کې د ننداريې لپاره اېښوول شوي دي.

د دغه ليکنې بنسټيزه موخه دا ده، چې دويمه نومره سپړنې وڅېړو د دغه سپړنو ځای هغه دی، چې د ولسی خلکو په وينا په "سردارتپه" ، "نغاره تپه" او "بوت خونه" يادېږي. دغه سپړنو تر اسلام وړاندې دغزني تاريخ راڅرګند کړ.

د دغه غونډۍ کيندنې چې د ولسي خلکو له خوا فوکلوري نومونې به يې له آرو تاريخي نومونو سره وروسته وڅېړو، د ۱۳۳۸ ل کال په دوبي کې د ايټاليې له نامتو لرغونپوه (ادامستيانو) له لوري پيل شوې( نوموړي د سپړونوپه دواړو ځايونو کې يو ډول کار کړی) چې پرله پسې څلور کاله روانې وې- وروسته دوه کاله ودرېدې او دادی سږ کال بيا دا سپړنې پيل شوې.

پر ۱۳۳۸ ل کال کيندل شوي ځايونه ما دوه ځله وکتل. لومړی ځل د وږې مياشتې پر ۲۸-۲۹ مه او دويم ځل د تلې مياشتې پر ۲۴ مه او ۲۵ مه.

د ښېرنې او پلټنې په پایله کې مې دغزني دویجاړو کنډرو هوایي عکسونه او دهغو چاپیریال داسې وموندل چې:

دغزني دغه ویجاړې کنډرې یوازې د غزنوي پر دوه سوه کلن پېراړه نه مومي، تر تاریخ وړاندې پېرونو ان تر د بربریانو یاګورګانیانو د وروستیو واکمنیو چې یوناني، کوشاني، کوشانو ساساني، یفتلي، زاولي، د بودایي ګروهې نښې، جیني، شیوایي، زونی(یالمرلمانځنه) د منځنیو اسلامي پېړیو پایځوړ، صفاري، غزنوي، غوري، تیموري، ګورګاني، او ارغوني په کې را اټاله دی، دټولو پېرونو نښې دلته لیدل کیدای شي.

پر ۱۳۳۸ ل کال چې مې پرسر دار غونډۍ دسپرنو لړۍ کتله، پر شمال لویدیزې خوا مې په دښته کې د غزني دعسکری قطعاتو پوځي تمرینونه لیدل. د غزنوي پېر د پوځي تمرینونو او رسم ګذشت د ډګر "شابهارا"ځای ټاکنې ته ځیر شوم. په دې کې مې ناڅاپه د خپلې ځانګړې کتابچې په پاڼوکې د امیر فرخي پر هغه بولله سترګې ولګیدې، چې ځینې جغرافیایي نښې په کې ښوول شوي، د دغه بوللې دا بیتونه مې همغلته- ایتالویانوته واورول: ۱

ژباړه:

له ماسره په شه بهار کې یوه غرمه داسې سپوږمۍ مل وه. چې څوارلسمې سپوږمۍ ورسره حسد درلود، وې ویل چې دومره لویه او پراخه دښته د څه لپاره ده!

ورته مې وویل چې دا دیوه داسې پاچا د راټولیدلو ځای دی، چې بې شماره لښکرې لري. وې ویل چې د دې خپلواك پاچا نوم څه دی؟ ورته مې وویل "یمین دولت محمود دین پناه"

---

بامن به شه بهار بهم بود چاشتګاه
ماه من آنکه رشك بروزد دو هفته ماه
ګفت این فراخ پهنادشت ګشاده چیست؟
ګفتم که عرصه ګاه شهٔ بی عدد سپاه
ګفتا چه خوانم این شه آزاده را به نام
ګفتم یمین دولت محمود دین پناه

۱۹ کاله مخکې همداسې له يو بلې پېښې سره مخ شوم، چې هغه د ۱۳۲۷ ل کال د وري پر ۲٦ مه اوتر دې يوه اووني. وروسته د هېرمند او د بست کلا د کنډرو په خوا کې د غزنويانو د لښکرګاه د موندنې پر مهال رامنځته شوه.

پر ياد شوي مهال د هيرمند د کږو لارو په کنډرو کې د"لښکري-بازار" په نامه يو ځای د کندهار د هغه مهال د نايب الحکومه ښاغلی محمد يونس خان له خوا ماته راوپېژندل شو، چې له ښاغلی موسيو شلوم-برژه او خليل الله خان خليلي سره يو ځای مو دغه ځايونه وکتل. خو په بېرته راستنېدوکې د استاد ابوالفضل بيهقي يادښتونه، په ځانګړي توګه د امير فرخي د بوللې ديوې برخې يادښت راپه زړه شو چې وايي: ۱ ژباړه:

"په دې فکر کې وم، چې د بست د ښار له اړخه د هېرمند د اوبو غږ مې ناڅاپه غوږ ته راغی. د پاچا عليشانه څېره د ستر دېوال له سره راښکاره شوه او دپاچا ماڼۍ دلکان له دښتې څخه راڅرګنده شوه"

پوره باوري شوم، چې د هيرمند تر څنګ چې د لښکري بازار په نامه ما کوم ځای وليد دا د غزنويانو مشهوره لښکرګاه ده.
سملاسې مې په انيس ورځپاڼه او آريانا مجله کې يوه اوږده ليکنه خپره کړه.

استاد خليلی بيا د امير عنصری يوه بله بولله را واستوله، چې زما خبرې يې لا باورې کړې. د دغه بوللې دوه بيته دا دي: ۲

---

۱-

اندرين انديشه بودم كز كنار شهر بست
بانگ اب هيرمند آمد بگوشم ناگهان
منظر عالی شهٔ بنمود از بالای دژ
كاخ سلطان پديدار آمد از دشت لكان

۲-

بفرقصر تو شد خوب همچو عقد به در
هوای بست ولب هيرمند ودشت لكان

ژباړه:

«ستا د ماڼۍ د شان او شوکت د لوړتیا لپاره په دروازه وتړل شوه دبست هوا او د هیرمند د سیند غاړه او د لګان دښته. کـه نعمان ستاښکلی انګړ لیدلی وای، نو د ډېرو لویو انګړونو دروازې به یې پرایښې وای.»

په دې ډول د غزنویانو د واکمنۍ مشهورې ماڼۍ د بست د کنډرو تر څنګ په لښکر ګاه کې وموندل شوې. دفرانسې لرغونپوه پلاوی غریو دا الواك (نظر) باوري کړ او ویې مانه چې تفصیل یې په لښکرګاه کتاب کې راغلی دی.

(دا کتاب د افغانستان دتاریخ ټولنې له خوا پر ۱۳۳۲ ل کال خپور شوی دی)

البته په لښکرګاه کې لومړی مالرلید وړاندې کړ او بهرنیو لرغونپلایو ومانه او په غزني کې لومړی پر سردار غونډۍ کار پیل شو او وروسته د "شابهار دښتې" په ټاکنه کې د پوځي رسم ګذشت د ډګر په موندنه بریالی شو، چې خبرنه به یې راشي دا "شابهار" له آره په بنستېزه توګه بودایي مزدك و.

په دې اړه ما "د شابهار په دښته کې دغزنویانو د پوځي لښکرو د رسم ګذشت ډګر" په نامه پر ۱۳۳۸ ل کال په ژوندون مجله کې یو لیکنه خپره کړه. او همدارنګه مې یو شمیر نورې لیکنې پر همدغه کال کابل راډیو ته واستولې، چې اوس د "افغانستان دتاریخ په رڼاکې "کتاب په ډول تر چاپ لاندې دي، په هغو کې هم په دې اړه څېړنه شوې ده.

موږ ټولو "شابهار" د غزنوی لښکرو د رسم ګذشت د ډګر په توګه اوریدلی. د استاد ابوالفضل بیهقي او د غزنوی دربار دنورو شاعرانو امیر فرخی او امیر عنصري له یادښتونو هم داځرګندیږي، چې "شابهار دښته" دغزني ښارتر څنګ وه او دا پراخه اوغځېدلې دښته د غزنویانو په دو ــوه

---

اګربدیدی نعمان سرای فرخ تو
رهٔ شدید و خورنق نکوفتی نعمان

کلن پېر کې د پوځي تمرینونو پرډګره سربېره دخوښۍ، اخترونو، او مذهبي ورځو، د اخترونو د لمانځه د سدې دجشن[1] دلمانځنې شپو، ډګر هم و.
په ادبي نړۍ کې دا ډول خبرې تولو اوریدلي، خو په څرګنده توګه دا نه وه معلومه چې" شابهار دښته" (دغزنوی لښکرو د پوځي تمرینونو منځی)چېرته وه؟
لکه چې پر ۱۳۳۸ کال چې مې ویلی او دا دی د دویم ځل لپاره یې هم وایم: شابهار یوه پراخه او غځېدلې دښته ده، چې د غزني د بالاحصار سهیل ختیز او دروضې کلي سهیل رانغاړې، ختیزې برخې ته یې کوچنۍ غونډۍ او تر شایې اسمانڅك غرونه را چاپېر دي د کوچي قبیلو لاره ده'سردار یا نغاره غونډۍ چې ولسي خلك یې بت خونه بولي، نژدې د دغه دښتې په منځ کې پرته ده.
سردار غونډۍ د دزې کیلومترۍ په برید د سلطان محمو د زیارت سهیل لویدیځ ته د دښتې پر سر پرته ده.دا داسې غونډۍ ده چې له بېلابېلو ګډوډو تیږو چې "شیت" ډبرې هم په کې دي، جوړه ده: پرمخ یې کلکه ختهه اواره ده، چې د مزدك او ستوپو له ورانیو رامنځته شوې ده.
ځایي خلك وایي چې دا غونډۍ له هغه مهاله په سردارغونډۍ ونومول شوه، چې اعلیحضرت امیر حبیب الله خان غزني ته راغلي و او پر دغه غونډۍ یې یوه خیمه او شاهي تجیر ودرولی و.
دا چې "نغاره"غونډۍ ولې ورته وایي، لامل یې دادی چې دځایي خلکو په وینا سلطان محمود غزنوي او دغزني نورو واکمنو به چې هر سهار

---

[1] "سده" له "صد" ویي جوړ شوی، چې "ه" یې اوسترېل دی، سلکلن پېر (دورې) ته وایي، پېړۍ هم بلل کېږي، سلو ورځو ته هم وایي، همدارنګه د هغه جشن نوم هم دی، چې لرغونیو اریایانو به د ورې میاشتې پر لسمه جوړاوه، چې پر لومړۍ شپه به په کې اور پورته کېده او د اور ترڅنګ به د خوښۍ اتنونه جوړ وو، څرنګه چې "۵۰" شپې او "۵۰"ورځې و، ځکه یې نو "سده" باله داسې هم وایي چې له ژمي د "۱۰۰" ورځو تر تېرېدو وروسته دا جشن جوړېده، ځکه "سده" بلل کېږي.
ژباړن"

د خپلو لښکر و تمرينات دلته کتل، نو لويه شاهي خېمه(تجير) به دلته ودرول کېده او هر وخت به چې غزنوي لښکرو له خپلو پيلانو سره هندوستان ياداوه او هلته به د غزا په نيت روانېدل، لومړنۍ نغاره به همدلته وهل کېده. او تر دې وروسته به بيا غزنوي بريالي لښکر تگ ته چمتو و، بيا به کاله پر کاله نغاره وهل کېده او په دې ډول به غزنوي لښکر د هندوستان تر مرکزه رسېده.

د ولسي خلکو په اند د دغه غونډۍ درېيم نوم بوتخانه (بوت خونه)دی، چې د لاسته راغليو پايلو اوزيار په اړه دانوم ډېرغوره دی-دا نوم دا څرگندوي، چې د ولسي خلکو ذهنونه تل ريښتني وي.

(مانا دا چې دلته په ريښتيني توگه بوتان موجود وو.)(ژباړن)

د دغه بوت خونې څلورم نوم، چې د دغه ځای آر(اصل) نوم دی، په اټکلي ډول تر اسلام وړاندې د کوشاني واکمن"شاويهار" له خوا د دغه غونډۍ له بنسټ سره يو ځای ايښوول شوی و.

د دغه ويي(کلمې) لومړنۍ توری "شاه"دی چې د دويمې زېږدې پېړۍ له دويمې نيمايي راهيسې د بغلان د کنېشکا له ډبرليکه تر نن ورځې په ټاکلې او ټينگه مانا زموږ په ټولو ژبو کې منل شوی. او دويم توری "ويهار" يا "ويهاره" د بودايي ادب په سانسکرېټ او پراکرېټ لهجو کې د (بوديي مزدك) په مانا کارول شوی، چې د دري ژبې په ادبياتو کې د (بهار) په ډول راغلی دی.

د زرو کلو په ترڅ کې په افغانستان کې د بودايي گروهې دسراسري دود او د چيني گرځندويانو په غوڅو څېړنو دغلته په سلگونو څه، چې په زرگونو بودايي مزدکونه په بېلابېلو سيمو لکه هډه، نجراو، کابل، باگرام، غزني، غوربند، باميان، سمنگان، بلخ، کندوز، بغلان، فرخار او نورو کې ودان وو. چې په ځينو عربي او فارسي اخځونو کې دغه يا دښتونو هم اغېز ښندلی، لکه د بلخ د(نوبهار)چې په ناسمه بڼه اورتون (اتشکده) گڼل کېده په داسې حال کې چې دا نامتو بودايي مزدك و.

د سانسکرېټ او پراکرېټ په ادبياتو کې د دغه مزدك ارنوم (نو-اويهاره) يا (نو اويهارا) و چې داهم يو گډ (ترکيبي) نوم دی، چې له (نوا)ياني(نوي) او (ويهاره)ياني(ويهار) نه جوړ شوی، چې د نوی مزدك مانا

دبودايي ادب په اخځونو کې له اړنګ پرته يو بل ويي هم لرو چې "سنګهارمه" دی او په (دير بودايي) (بودايي مزدك ) ژباړل شوی. سنګهار چې په ټولېز ډول مزدك او "دير بودايي" د راهبانو د استوګنو له خونو او ستهو په يا ستهوپو سره يوځای مزدك بلل کېده.

له اړنګ پرته چې واکمنو د مزدکونو او ستهوپو په ودانېوکې لويه برخه لرله.

چيني ګرځندويانو په ډېرو ځايونو لکه: کوندوز،بلخ، باميان، باګرام، هډه او غزني کې شاهي بودايي مزدکونه يا"شابهار" ياد کړی دی او د عربي متنونو او اسلامي اخځونو په لاسوند په لومړيو سپوږميزو (هجری) کلونوکې "شابهار" د ځانګړې نومونې په توګه پرځای‌پاتې وو.

(۱۹)کاله له مخه مې د "باګرام" کتاب په ۸٦ مخ کې(دا کتاب دتاريخ ټولنې د خپرونو په ۳ \ ۱٦۱ مه نومره خپور شوی دی) د چيني ګرځندوی هيوان څانګ په وينا ليکلي چې:

د پلازمېنې"کاپيسا" يانی بګرام په شمال لويديځ کې يو مزدك و، چې د يوه لرغوني واکمن ودانې وه اوهغه ته يې "شاه مزدك" ويلې.

همدارنګه شل کاله مخکې دافغانستان د پخواني تاريخ د دويم ټوك په ۵۴۳-۵۵۴ مخونو کې(دا کتاب پر ۱۳۲۵ل کال د افغانستان د تاريخ ټولنې له خوا خپور شوی دی) د يوې اوږدې څېړنې په ترڅ کې يادونه شوې، چې پر ۱۷٦ سپوږميز(۷۹۲-۳ ز) کال د شابهار په نامه يو بودايي مزدك د ابراهيم د جبريل زوی په لاس د يحی د زوی فضل په امر، چې د عباسي واکمن هارون الرشيد له‌خواد خراسان والی ټاکل شوی و۔وران شوی و.

دا وران شوی شابهار بېل شابهار دی، چې بايد د باګرام يا کاپيسي شابهار وګڼل شي، نه دا د غزني شابهار، چې د هغې ځای د ګلبهار د غرونو په بېخ د غوربند درې په خواوشاه او يا که په غوڅه تو ګه ووايو دچاريکار تر څنګ په توپ دره کې و.

د دغه شابهار ځای ښوونه په دې وروستی ځای کې غوره دده. د دغه مزدك ستهوپې په ټول افغانستان کې تر اوسه يوازينی هغه دي، چې تر

ټولو لوړې دي، مانا دا چې د چاریکار تر څنګ د توپ درې د وران شوي مزدك له ستوپو نورې لوړې په ټول افغانستان کې نه شته.

سربېره پر دې د دغه مزدك په شا وخواکې کوشاني سیکې هم ډېرې موندل کېږي. لکه چې د باګرام په کتاب کې څېړل شوی دا مزدك په باګرام کې د چینی ګرځندوی هیوان څانګ د اوریدلې کیسې پر بنسټ په ډېر اټکل د(کنېشکا) کوشانی واکمن ودانی وه او د شابهار د نومونې لامل په دغه ځای کې تاریخي سمون رابنيي.

د غزني"شابهار" د غزني لوی او نامتو بودایي مزدك دی، لکه چې وڅېړل شول د ایټالوی ختیځ پوه پروفیسرتوچي تر لارښوونې لاندې د ایټالې دغه لرغونپوه پلاوی له۱۳۳۸ کال راهیسې د سردار غونډۍ په کنډرو کې زیار باسي او کیندنې کوي، دوه کاله دا کار ونه شو او دادی دا دوه اوونی کېږي، چې اوس بیا د لرغون پېژندنې چارې پیل شویدي.

د سردار غونډۍ پر سر بودایي مزدك" شابهار" په درېو پوړیو کې د سرې پاملرنه را اړوي:

د ټېړو دغه غونډۍ له سهیل نه شمال ته یا که په خیرلي توګه یې ووایو له سهیل ختیځ نه شمال لویدیځ ته غځېدلې ده.

لکه چې پورته مو نغوته ورته وکړه له درې ګونو پوړیو، لومړۍ او دویمه هغه یې د بودایي راهبانو د پرو او حجرو نېولې او درېیمه پوړۍ چې دغونډۍ لوړه برخه ده، "شاویهاره" مزدك پرې ودان شوی. د لومړنیو دوو کلنو د پلټنو په پایله کې د مزدك د ېوالو اوپراخ غولی دلوېې منځنۍ ستوپې له څو نورو وړوستوپو او پایځوړ سره یو ځای وموندل شوې، چې ټولې ځای پرځای شته.

بنسټیزه(اساسي) پوړۍ له لویدیځ لوري نه د منځنۍ ستوپې پرلوري او له هغه ځایه بیانورو ستوپو ته غځیدلې وه. منځنۍ ستوپې او په ختیزلوري کې نوري وړې ستوپې په یوه ډول دسرې پاملرنه ځانته راړوي.

د ودانۍ د جوړښت ډول د لویو کوشانیانو د پېر ځانګړې کلاسیك ډول سرې ته ورپه یاد وي، د دېوالو په دننه مخونو کې د ټېړو لوېې ټوټې د نازکو نریو ټېړو د ټوټوپه منځ کې نیول شوې- دا ډول هم کلکې شوي او هم ښکلا لري.

ستنې چې د دېوال په پرتله لاکلکې دي، ټولې له نريو توږل شويو تېږو نه جوړې شوي اويايې د ديوالو پر مخ د پلستر او ان د سرې رنګونې نښې هم ښکاري. دا رنګونه ډېر ژوره ده، چې په ځينو ځايونو کې يې اغېز له پلستر نه هم تېر شوی او د دېوالونو په تېږو کې هم ځای پر ځای ښکاري.

د مزدك په بهرنيو اړخونو کې" تنديسونه" يانې بودايي لوی بتان، چې له ۱۰-۱۲ مترو پورې يې لوړ والی لارۀ، لګېدلي وو، کېدای شي لږ ترلږه له دغو پڅيو(مجسمو) نه يې يوه پر شمال ختيز خوا د خاورې پر مخ پاتې وه، چې د سپړنو تر پايه په سملاسي توګه په اخېږ پوښل شوې وه.

شابهار مزدك پر يوې لوي غونډۍ له لوړو ستوپو او پرتمينو بودايي پڅيو سره د بهار دښتې په منځ کې ځانګړی برم وپرتم لارۀ.

پرتمينه ګومبزه، ستوپه او د پڅيو پر مخونو طلايي رنګ يې د غزني ښار له ليروليرو ځايو هم ښکارېده.

پر لومړي او دويم ځل سپړنو له ختو جوړې ورې پڅۍاو د ونو پر پوټکيو ليکل شوې ټوټې تر لاسه شوې، څومره چې زه خبر يم د وروستيو څو ورځو د هڅو په ترڅ کې څو نورې ليکل شوې ټوټې هم تر لاسه شوي، دا ليکنې په براهمي ليکدود دي، چې پر درېيمې او څلورمې زېږدې پېړۍ اړه مومي او په منځنۍ آسيا کې له خپلو سيالو ليکنو سره بېلا بېل نېژدېتوب لري.

لکه چې لوړ ياد شول، د مزدك په ختيزه خوا کې څو کوچنۍ ستوپې ودانې شوې وې، چې تر اوسه يې د ويجاړ تيا نښې ښې نه ښکاري، داستوپې څلور واړو خواو ته پورۍ لري، دا پورۍ پريوې بودايي"اسطورې" اړه لري چې په لنډه توګه دلته ليکل کېږي:

په بودايي اسطورو(لرغونيو کيسو) کې داسې راغلي و چې:

هغه مهال چې بودا د خپلې مور د کتنې لپاره له"جوهوا" نه تېرېده د بنارس تر څنګ په (سالکاشا) کې راښکته شو. د غزني بودايي راهبانو دا بودايي اسطورې داسې ګڼلې وې، چې بودا لکه چې په کيسه کې راغلي د خپلې مور تر ليدو وروسته دغزني له"جوهوا" نه په شابهار مزدك کې کوز شوی و.

د ستهوپو دپوړیو ښتېرې دارابنوود، چې بودا له تحیلي اسطورو سرد سم د ستهوپې د یادې شوې پوړۍ له لوړونه د مزدك غولي ته راكوز شوی و.

خو د دغه خیالي كیسې منل هسې یو خیال دی،آره موخه یې دا وه چې راهبان خلكو ته د دغه مزدك د لا سپېڅلتیا په بنوولو سره ډېرې پیسې تر لاسه كړي.

❀❀❀

لكه چې پورته یاده شوه د سلگونو او زرگونو مزدكونو په منځ كې ویهاره او سنگهارمه، چې د افغانستان په نیمه ختیزو بېلابېلو سیموكې(د بلخ و كندهار پرلیكه) موجود وو. له دغه ډلې ځینې یې"دشاویهاره" یا "شاویهار" په نامه یادېدل. ځینې یې د "بهارها" او "شابهارها"په نامه د هند د موری واكمن"آشوكا" نښې(یادگارونه) وو. او هم ځینې یې د كوشاني واكمنو كنېشكا او هوویشكا او نورو په امر جوړ شوي وو.

د بگرام شمال لویدیځ ته"شابهار" مو- لكه چې چیني گرځندوی هیوان ځانگ پر ٦٣٢ زیږدی كال په بگرام كې د بودایي كیسو په ترڅ كې اوریدلې- دكوشاني واكمن"كېنشكا" وگاڼه.

د غزني شابهار هم ارو مرو د كوشاني پېر ودانیز یادگار دی، چې د زیږدې پېر پر لومړیو دوه نیمو پېړیو ودان و.

د غزني د شابهار مزدك د جوړوونكې واكمن د پېژندنې په اړه تر اوسه كوم باوري لاسوند نه لرو، خو څرنگه چې د وردگو دخوات په لوی مزدك كې د(هوویشكا)په نامه یو ډېرلیك لرو، اټكلوم او په ډېر غوره اټكل دا ویلای شم، چې د غزني شابهار به هم د كوشاني پېر د همدغه لوی واكمن په لاسوجوړ شوی وي. لوی واكمن مې ځكه ورته وویلې چې هوویشكا د كنېشكاد ځای ناستو په منځ كې تر ټولو ډېر پېژندوی دی او د ودانولوډېر مینه وال و. ده د هند د ډیلي سهیل خواته په ماتورا كې هم د یو لوی مزدك بنس‍ـ ایښی و. څرنگه چې د وردگو خوات له غزني نه دومره ډېر لرې نه دی.ډېراټكل همداسې كېږي چې د غزني شابهار به د همده په امر اوغوښتنه جوړ شوی وي. او له همدې امله د"شاویهار" یاني"شاهي بوتخونه" یا شابهار په نامه پېژندل شوی دی.

په دې څو وروستيو ورځوکې مې د فرانسوي لرغونپوه پلاوي د مشر ښاغلي"موسيوبرنارد" له خولې هم واورېدل چې په دې وروستيو کې د فرانسې د څمکپوهنې يو تن پوهاند د غزني سهيل لويديځ ته ۱۵۰ کيلو- متره ليرې د ناور په دښته کې په هېښنده ډول(۴۲۰۰) متره يوه لوړه تيږه موندلې چې په منځپانګه کې يې په کوشاني ليکدوديانې يوناني خروشتی،دوه درې ځايه ليکنې شوي دي.

دا ځمکپوه(آندره بودتير) نوميږي، چې له درې کالو راهيسې په افغانستان کې پر څېړنه بوخت دی. نو موړی د دغه لويې تيږې له موندلو وروسته ما(کهزاد)ته راغی او د دغه ډبرليك عکسونه يې را وښوول. د دغه عکس يوه کاپي وروسته په پاريس کې نامتو لرغونپوه او ژبپوه د"کولژ- دوفرانس" استاد پروفيسر"بن و نيست"ته واستول شوه، چې تر څېړنې لاندې ده.

زما ډېر اټکل دا دی، چې دا ډبرليك هم په"هوويشکا"اړه لري دا اټکل زمادا خبره لاباوری کوي، چې شاهي بودايي مزدك هم د همدغه لوی کوشاني پاچا- چې د دويمې زېږدې پېړۍ په پای کې ژوندی واکمن و- نښنه ده.

د دغه شابهار ويجاړتيا لکه د کاپيسا د شابهار په څېر هم چې مخکې وويل شول د ليږدي(هجری)څلورمې پېړۍ د پينځمې لسيزې په واکمن هارون الرشيد او د يحی پر زوی فضل او د جبريل پر زوی ابراهيم، اړه لري. په دې توګه ويلای شو، چې د غزني شابهار د دويمې زېږدې پېړۍ له وروستيو د اتمې زېږدې پېړۍ تر پايه لږ تر لږه اووه پېړۍ په بشپړ ډول جوړ او پېژندوی و.

هيون څانګ د غزني سيمه د(ستو، کو، چه) يا(تسو، کو، ته) په نامه ياده کړې او جوړښت يې د يوه ايالت په توګه(۷۰۰۰) لي اټکل کړی، چې هر چيني لي نژدې نيم کيلو متر کېږي چې په دې ډول د غزني ولايت سيمه(۳۵۰۰) مربع کيلومتره اټکلېږي.

چيني ګرځندوی په دغه ولايت کې چې دلته يې بايد"زاول" وبولو، دوه ښاره يادوی، يو د (هوسينا) او بل د (هوسالا) په نامه. دا دواړه پلازمېنې ګڼي چې د هر يو لوی والی(۳۰)لي اټکلوي. نوموړي سکهارمونه

یا بودایي مزدکونه څو سوه اتکلوي او د بودایي راهبانو شمېر د "۱۰۰۰" په شاوخوا کې ښیي. طبعاً دومره شمېر مزدکونه او دومره راهبان د غزني یازابل ولایت په ټولوشاوخواسیمه کې ویشل شوي وو.

د ده په ګروهه د ابوت لمانځونکي د خلاصون د لویې لارې "مهایانه" ملاتړي وو.

نوموړی چیني ګرځندوی څرګندوي، چې د دغه سیمې واکمن اوږده لړی، لري چې ټولویې واکمني کړې او د دغه ځای اوسنی واکمن ډېر دیندار دی، چې له مذهبي چارو سره ډېره مینه لري. په دغه سیمه کې د آشوکا له لوري(۱۰)ستوپې جوړې شوي- لمرلمانځونکي یا د(زون)=(سون) ملاتړی هم څو مزدکونه لري.

دلته د چیني ګرځندوي(هیوان څانګ) له بېلابېلو یادښتونو سره کارنه لرو، څرنګه چې دلیکنې سرلیك شابهار یانی په غزني کې بودایي شاهي مزدك دی، غواړم چې د چیني ګرځندوی د یادښتونو په لاسوند تابه (استناد) ووایم چې د هندوکوش په دغه سهیلي سیمه کې بودایي ګروهه له هدې تر کابل، کاپیسا، غزني او ان تر کندهاره د موریاواکمن(آشوکا) پر مهال خپره شوې وه.

(د همدغه واکمن پر مهال او د همده په امر بودایي مبلغان افغانستان ته راغلل او د ده څو ډبریز فرمانونه په درونته او کندهار کې لاسته راغلې دی.) او د ده په امر ستوپې هم د "زاول" په ولایت کې ودانې شوې وې.

د دوو ښارونو یا پلازمېنو یاکنه چې نوموړی چیني ګرځندوی په زاول ولایت کې یادکړي،خېرنه اوڅېړنه غواړي.لویدیځ پوهانو (هوسینا) ښار غزني ګڼلی، خو لیرې نه بریښي چې دا شوکاله(۱۰) ستوپو لږترلږه یوه په غزني کې هم وګڼو. څرنګه چې هیوان څانګ په زاول کې خپل هممهالی پاچا د واکمنو له اوږدې لړی یو پاتې تن بولي، نو دا تکل له مخې د(شابهار) جوړونه د دوی په هر یوه پوړ اړه پیدا کولای شي. څرنګه چې د کوشاني واکمنو له یو تن"هوویشکا" یو ډبرلیك د وردګو په خوات کې موندل شوی او د وردګ سیمه له غزني دومره لیرې هم نه ده، نو د ډېر اتکل له مخې د غزني دا شابهار هم د ده اړوند ګڼلای شو.

ځکه ځومره لاسوندونه چې له ښېړنو تر لاسه شوي، د دويمې زيږدي پېړۍ له وروستيو اوړد دريمې زيږدي پېړۍ تر لومړيو مخکې نه دي. باور لرم چې په راتلونکيو لاسته راوړونو کې به زما دا ټکل لابنه ځرګند شي.

دلته چې ځومره ښېړنې وشوې دايې راوښووه، چې د غزني شاهي بودايي مزدك "شاويهاره" يا "شابهار" پر همدغه غونډۍ جوړ شوی و. او "شابهاره" له آره د همدغه بودايي شاهي مزدك نوم و. او دا هم له اټکل نه لېرې نه ده چې پرتر اسلام وړاندې پېر د مزدك تر شاوخوا لويه دښته پر همدغه" شاه بهار" نامه نومول شوي وي. په اسلامي-په ځانګړې توګه دغزنويانو-پر پېر د بودايي مزدك موخه او مانا له ياده ووته او دا دښته د شابهار په نامه د لښكرو د پوځي تمرينونو، رسم ګذشت، د خوښۍ د ډګراو د اخترونو د ورځو د مراسمو د لمانځلو ډګر شو.

کټ مټ همداډول کار په بغلان کې هم شوی. بغلان يا"بغلانګ" يا"بغه لانګو" چې له اره يې د"اورتون" (اتشکدې) مانا لرله د کوشاني مزدك او اورتون ځانګړی نوم و. چې جوړ وونکي يې پخپله کوشاني امپراتور او واکمن"کنښکا" دی، "هوويشکا" هماغلته بياجوړونه او ترميم کړی دی او ډېرليك يې ودرولی، چې د شابهار په څېر د تېرو د غونډۍ له لوړونه د بغلان پر ټوله هواره ځمکه واکمن و. په اسلامي پېرکې اورتون مزدك او ويجاړيو مانا او موخه له منځه تللې، خو نوم يې تر اوسه يوه لويې سراسري هوارې ځمکې ته ويل کېږي، چې بغلان دی.

مخکې مو وويل چې ولسي خلك سردار غونډۍ چې پر سر يې "شابهار" مزدك موندل شوی، د نغاره خانې يانغاره غونډۍ په نامه هم يادوی. د دغه نامه فوکلوري نومونه مو هم وڅېړله. عام خلك ورته غزني وايي چې سلطان محمود غزنوي همدغلته په يوه لويه خيمه کې پر همدغه غونډۍ پر تخت کېناسته او د هند پر لوريې د لښکرو د يانه (حرکت) ننداره کوله او وروسته ورسره پخپله هم رواڼېده. نوموړی خو خل هند ته تللی او بودتونونه يې وران کړي، خو پخپله له دې نه و خبر، چې په کوم ځای کې چې د ده سلطنتي دربار دی او دی پر پلازکيني، د همده د پلاز تر پښو لاندې يو لوي شاهي مزدك چې له بوتانو بشپړ ډك دی- ښخ دی

# د شابهار په دښته کې د غزنوي لښکرو د رسم ګذشت ډګر

د افغانستان د اسلامي پېرونو په تاریخ کې غزني او غزنویان یوه لویه او پرتمینه برخه ده.
د دغه ښار او واکمنۍ د کورنۍ پېژندنه او ارزښت د هنر، کلتور، ادب، سیاست او د هیواد په چارو کې د هغوی پوهه د افغانستان له بریدونو او ښتې او ګاونډیو سیمو ته تر لیرې خپره وه.
غزنویانو په خپله دوه سوه کلنه واکمنۍ کې، په خپل هېواد کې پرتمینې او نامتو ودانۍ جوړې کړې، چې د هر یوې پېژندنه ځانګړې څېړنه غواړي. د غزني ټولواکو واکمنو چې په پراختیا غوښتنه پېژندوی وو،کلک پوځ او لښکر درلود. چې پرله پسې روښانه بریالیتوبونه یې په ټولو خواوو کې د نامتو شاعرانو د شعر د بوللو ښکلا او ځلا وه.
لکه چې د غزنویي دربار د تاریخي لیکنو له منځپانګو، پرله پسې څېړنو او د شاعرانو له وینا دا څرګندېږي، چې د غزني ښار په چاپېریال کې یو لوی ډګر، وچې دپوځي لښکرو ننداري یا رسم ګذشت او تمرینونو او د لیکو تېرېدنه وخت پر وخت دلته تر سره کېدل، چې دغه ځای ته یې"د شابهار دښته" ویله.
شابهار دښته یوازې د رسم ګذشت او د عسکرو د تېرېدو لپاره نه وه، بلکې زیات مهال د جشنونو، اخترونو او لیرې ځایونو ته د واکمن د تګ پر مهال د غونډو او د خوښیو د نورو ورځو لپاره وه، چې د ښار

استوګن وکړي به همدلته راغونډېدل.

د غزنوي دربار شاعران او تاریخ لیکونکي لکه استاد ابوالفضل بیهقي، امیر فرخی، امیر عنصری او نور چې په سفر او حضر کې به له پاچا سره یو ځای وو، ځوځو ځله د دغه ځای یادونه کړې ده. د دوی له لیکنو دا څرګندېږي چې شابهار دښته د ښار ودانیو تر څنګ پرته وه، چې یو پراخه ډګرو او د غزنویانو د دوه سوه کلني واکمنۍ ټولې مېلې غونډې، د اخترونو ورځې، ځیني مهال د اخترونو لمونځونه اوروېشتنه اودسدې دجشنونو ټاکلې شپې هم دلته تر سره کېدې.

د"دښت" له ویي دا څرګندېږي، چې دا ډګر په خپلې پنځیزې جولې(طبعي شکل) وحشي ګلونو او وښو پوښلی و. او د کال په ډېرو ورځو کې به شین و.

شابهار د غزنوی بریالي پوځي لښکرو د تمرینونو ډګر و، له همدې امله په تاریخي متونونو(منځپانګو) کې د(عرصه ګاه) په نامه هم یادشوی. او د لښکرو د تګ او بلوا سر چینه همدا پراخه دښته وه.

فرخي په خپلو بنګلیو بوللو کې، چې د محمود په ستا ینه کې ویل شوي د شابهار د ډګر د چتر، بیرغ او خدمتګارانو په اړه خبرې کوي داسې په ځېرنه خبرې کوي لکه قلم په لاس انځورګر.

سلطان محمود غزنوي ته د پوځ، پیلانو او پوځي ټولګیو حال داسې انځور وي.

ژباړه:

له ما سره په شه بهارکې یوه غرمه داسې سپوږمۍ مل وه، چې د ځوارلسمې سپوږمۍ ورسره حسد درلود.

وې ویل چې دومره لویه او پراخه دښته د څه لپاره ده؟

ومې ویل دا دیوه داسې پاچا د راټولېدو ځای دی چې بې شماره لښکرې لري. دې ویل چې د دې خپلواك پاچا نوم څه دی؟ ورته مې وویل چې یمین دوله محمود دین پناه. وې ویل چې د رسول د شریعت پناه ده او د دین تکیه ده، ورته مې وویل هو او دهغه دنده د الله(ج) لمانځنه ده.

وې ویل چې اوس چېرې دی، راوې ښیه؟ ورته مې وویل چې دهغه

لوی لښکر تر بیرغ لاندې دي. وې ویل چې هغه د لښکر په لومړی کتار چې ولاړ دی همغه دی؟ ورته مې وویل، چې د لوړو لومړنیو کسانو ځای په لومړي کتار کې وي، وې وویل چې له هیبت څخه ویرېږم، ورته مې وویل، چې دهغه له هیبت څخه، د غره په شان زړه د وښو(بوسو) په شان کېږي.

وې وویل چې هغه یوزر و اووه سوه غرونه څه شی دی؟ ورته مې وویل چې یوزر اووه سوه د پاچا پیلان دي. وې ویل چې دا یې ټول د هندوانو د لښکر له لومړي کتار څخه تر لاسه کړي؟ ومې ویل چې هو او په مېړانه یې ساتلي دي. وې ویل، هغه زغرې، غښتلي اندامونه او کمندونه وګوره. ماویل هو دا هېواد پال او تکړه ځوانان دي. وې ویل چې سر او صورت یې څنګه ښکلی ښکارېږي!؟

ومې ویل لکه سروې چې کمربند تړلی او سپوږمۍ خولۍ اغوستې وي.

وې ویل چې د پاچا لښکر ځای همدا دښته ده؟ ومې ویل چې هو او بل داسې لښکر ځای نه شته. وې ویل چې داسې بل پاچا په نړۍ کې شته. ومې ویل چې له ماڅخه پوښتنه مه کوه ورشه شاهنامه وګوره. وې ویل چې شاهنامه ټوله دروغ ده. ومې ویل چې ته رښتیا وګڼه او دروغ له منځه یوسه. وې ویل چې دا پاچا له نورو پاچاهانو څخه څه شی اخلي؟

ومې ویل بیرغ و لښکر و ګنج و تاج او ځای. وې ویل چې ولې یې دروم خواته نه بیایي، ومې ویل چې اوس وخت رارسېدلی دی، ښایي بوېې ځي.

وې ویل چې دهغوی له لاسه به د روم ښارونه څه ډول شي، ومې ویل لکه د غره په سر کې چې ځاګانې جوړې شي.(۱)

---

۱

با من بشه بهار بهم بود چاشتگاه
ماه من آنکه رشك برو زد دو هفته ماه
گفت این فراخ پهنا دشت کشاده چیست؟
گفتم که عرصه گاه شهٔ بی عدد سپاه

په دغه ټوټه شعر کې چې د یوه ډیالوګ په څېر ویل شوی مقتدر شاعر د غزني له پرتمینو ورځو، یوه هغه په داسې حال کې یادوي، چې ابوالقاسم یمین الدوله محمود پخپله د شابهار دښتې ته راغلی او په هغه ډګر کې چې د فرخي په وینایې بیلګه نه موندل کېده، تر چتر او بیرغ لاندې ناست و.

---

گفتا چه خوانم این شهٔ آزاده رابنام
گفتم یمین دولت محمود دین پناه
گفتا پناه شرع رسولست و پشت دین
گفتم بلی وپیشه او طاعت اله
گفتا کنون کجاست مراده نشان ازو
گفتم که زیر سایهٔ آن رایت سیاه
گفت آنکه پیش عرصه گهش ایستاده اوست؟
گفتم به پیشگاه بود جای پیشگاه
گفتاز هیبتش بهر اسد همی دلم
گفتم ز هیبتش دل چون که شود چوکاه
گفت آن هزارو هفصدو الدکوه چیست؟
گفتم هزارو هفصدو ا ند پیل شاه
گفت آنهمه زپیشرو هندوان ستد
گفتم بلی و داشت بمردانگی نگاه
گفت آن زره وران زبر هر یکی کمند
گفتم بتان مملکت آرای رزمخواه
گفتا که سر و خانمشان یامهٔ تمام
گفتم که سرو باکمرو مه با کلاه
گفتا که عرصه گاه شه این دشت خرم است
گفتم بلی ونسیت چنین عرصه گاه
گفتا چنون گربجهان هیچ شه بود
گفتم زمن مپرس به شهنامه کن نگاه
گفتا که شهنامه دروغ است سربسر
گفتم تو راست گیرو دروغ از میان بگاه
گفتا ملك همی چه ستاند زخسروان؟
گفتم رایت وسپه وگنج وتاج و گاه
گفتا چرا همی نبرد شان بسوی روم
گفتم کنون بر دکه کنون، آمده است گاه
گفتا چگونه گردد ازیشان بلادروم
گفتم چنانکه کوه کمر دارد چاه، چاه

غزنوی واکمنو تور چتر لاره او داسکالو(موضوع) د فرخي له دغه بیته ځرګندېږي:

ژباړه:

ځواب راکړه که "توروالی" غوره نه وی. د ځمکې د واکمن چتر به هم تور نه و.

له دغو نغوتو دا ځرګندېږي، چې د غزنوی لښکرو د جنګ بیرغ تور و(۱). لکه چې د پورتنی. بوللې په یوه بیت کې مو ولیدل، چې پاچا پر یادې شوې ورځ د تور بیرغ تر سیوري لاندې ناست و او د ده پروړاندې په بل اړخ کې په شابهار دښته کې(۱۷) سوه پیلان او ځونور سلطنتی پیلان چې هر یوې د غره په څېر و، په لیکو کې ولاړ وو. فرخي د محمود رسی. لرونکیو او لوړ تنو ځښتنو عسکرو د تنو ننداره په لوړوالي کې له"سبرونو" او په ښکلا کې له بوت او سپوږمی. سره برابره ګڼلې ده.

د لښکرګاه د دربار له تالار نه د محمود سلطنتي ګارډ د عسکرو د انځورونو موندنه، د محمودي لښکریانو د کالیو او سلا ښکلا راښیي. دغه عسکرو په تولیز ډول وریښمین او د اوښ د رنګ په څېر کالي اغوستل او ګروزنه یې زرین او سمیني رنګ درلود. ځکه نو فرخي د سلطان محمود غزنوي د لښکرو په ستاینه کې مبالغه نه ده کړې. محمود غزنوي دوه زرو شاوخوا جنګي پیلان درلودل، دلته شاعر څه د پاسه ۱۷ سوه یاد کړي، خو په بل ځای کې بیادا شمېر(۲۰۰۰) ته داسې رسوي:

ژباړه:

ای پاچا! پاځېږه چې د هرکال په څېر عرض ته راغلي دي، ستا ماڼۍ له شاااو ستا له بڼ څخه دوه زره پیلان دي.

د همدغه پوځي شمېر له مخې په ځرګنده توګه ویلای شو، چې د شابهار ډګر چې هلته به د رسم ګذشت په ورځو کې(۱۷۰۰) پیلان و عسکر راغونډېدل، یو ډېر لوی او پرتمین ډګر و. چې د پیلانو او د غزنوی لښکرو

---

۱ جواب ده که اګر نیستی سیاهی نید
سیه نبودی چتر حذایګان زمین

بېلابېلو قطعو په راغونډېدو به لا ځانګړې پرتمين کېده. ټوله دښته به په وسپنه او پولادو کې ډوبه وه او د بوق او سورني غږونو به د پيلانو له نڅا سره ټول غزني ښار لړزاوه.

تر هغې چې د ادبي او تاريخي سر چينو له منځپانګو څرګنديږي:

د شابهار ډګر د غزني د نامتو غځليو پر سهيل لويديځ لوري په هغه ځای کې و، چې نن ورځ يې هم په يوه څنډه کې عسکر ي تمرين کيږي.

طبعاً د دغه ډګر لمنې د غزنوي پر پرتمين پېر پراخه وې او هغه وړې غونډۍ چې مخامخ ورته پرتې دي، هم په کې را اټاله وې. ان چې نن ورځ هم د غزني خلك دا دعوه کوي چې هغه کوچنی غر(غونډۍ) چې ختيځ لوري ته ښکاري د رسم ګذشت په ورځو کې د سلطان محمود غزنوي بيرغ او چتر همدلته لګول کېده او دا الواك هم بې باوره نه شي ګڼل کېدای، ځکه د عسکرو د ليدنې لپاره ښه وړلوړ ځای و.

❁❁❁

# "نغاره خانه" او شابهار ډګر

د ناصر د اولادې د واکمنۍ پېر د خپلې امپراتورۍ په ټولو ځایونو په ځانګړې توګه په پلازمېنه ښکلي غزني کې یادښتونه پرایښې، چې یو شمېر یې تاریخونو، یو شمېر ادبي سرچینو او یو شمېریې هم فوکلوري داستانونو مونږ ته را رسولي دي.

غزنوي واکمن لکه څرنګه چې د دوی د پراخې امپراتورۍ له اداري سره ورو، له پو ځي اړخه بشپړ کلک واك درلود، چې په ختیځ او لویدیځ کې د دوی نېونې او پاڅونونه داخبره باور وي.

هغه چې د پوځي لښکرو په رسم ګذشت، د لیکو په جوړولو او د هند نیمې وچې ته د لښکر په تګ پورې اړه مومي، دوه ځایو نه دي، چې له ادبي یادښتونو او فوکلورې کیسو سره نژدې اړیکي لري. یوه "نغاره خانه" او بل "شابهار ډګر" .

نغاره خانه د غزني د،نیوولسي خلکو په پېژندنه هغه غونډۍ ده، چې اوس یې په(سردار غونډۍ) خلك ښه پېژني. او همدا رنګه د خلکو په ذهنونو کې په بت خانه(بوتخونه) هم پېژندل کېږي.

سردار غونډۍ یا"بوت خونه" د دري کیلوْ مترۍ په برید د سلطان محمود د زیارت سهیل لویدیځ لوري ته په پراخه دښته کې ده، چې پر دې وروستیو کلونو د لرغون پلټنې سپړنې د دغه ځای په منځ کې تر سره شوې او پټ رازونه یې راڅرګند شول. ولسي خلکو د"بوت خانې" په نامه د دغه ځای په یادولو کې زیاتی نه دی کړی، خو داچې نښې یې په خاورو کې پټې وې ریښتینوالی یې څرګندنه و، چې د کیندونو په ترڅ کې راڅرګند شو او

د بوتخانې پايڅوړ ومونډل شو. چې کېداى شي تر اسلام وړاندې د غزني د پرتمينتوب بيلګه نه وي ليدل شوې.

"نغاره خانه" د دغه غونډۍ بلنوم دى، چې د خلکو په ذهنونو کې ساتل شوى او وايي چې په محمودي پېر کې، چې د هند پر لورې د غزاګانو لړۍ هر کال روانه وه، سلطان چې له خپل پوځ سره د هندوستان پر لور يون پيل کا وه، سلطنتي نغاره به لومړى ځل له همدغه غونډۍ نه وهل کېده او په دې ډول به د سلطان محمود غزنوي لښکر د هند پرلوري خوځېده.

نغاره غونډۍ د جوړښت له پلوه د شابهار دښتې شمال لويديځ لوري ته پرته ده. سره له دې چې د دغه غونډۍ زيات شمېر لرې او نژدې وداني له منځه تللي او دغه ځاى اوس د يوې دښتې جوله خپله کړې، نغاره غونډۍ د پراخې دښتې په منځ کې ښکاري چې په ټوليز ډول ښايي دغه ټول ځاى ته شابهار دښته ووايو.

خو که د محمود د واکمنۍ ودانۍ، باغونه او هغې نور اړوند ځايونه په نظر کې نيسو، نو اړيو چې دشاه بهار پراخه دښته د نغاره غونډۍ سهيل ختيځ لوري ته وګڼو. دا ځايونه له اره د پراخې دښتې په لمنو کې شمال، سويل او ختيځ لورته د غرونو پر لوري غځېدلي دي او که د محمودي پېر د لښکرو د پيلانو،او سپرو پوځونو ځاى په نظر کې نيسو، نو د شابهار د لويې او پراخې دښتې ډګر د هغوى ځاى و.

يمين الدوله او امين الملة ابوالقاسم محمود د غزنوي واکمنۍ لوى واکمن ځوځل دشابهار همدغه ډګر په نامه ځمکه او همدغه غونډۍ چې نن ورځ ورته نغاره خانه وايي - تر خپل همدغه تور بېرغ لاندې لکه چې فرخي او د هغه نورو هممهاليو شاعرانو يا دکړى، ناست و. سلطنتي لښکرى يې کتلې او ننداره يې کوله.

د غزني دپاچا زابلي محمود د لښکرو واك او ښکلا د سيستانى شاعر امير فرخي په شعر کې مخکې وځېړل شول.

موخه داده، چې سردار غونډۍ، نغاره غونډۍ او بوت خانه دا ټول هماغه له تېرو ډکې غونډۍ ته ويل کېږي، چې د روضې کلي(چې د سلطان محمود غزنوي زيارت په کې دى) سويل لويديځ ته درې کيلو متره لرې د

دښتې په منځ کې پرته ده، چې هماغه (شابهار دښته) ده. او دا دښته د غزنوي لښکرو دراټولیدو ډګر و، چې ولسی خلك یې د بوتانو د درلودلو له امله بوت خانه هم بولي او دا نو مونه په او سنۍ سپړنو او څېړنو کې رېښتیني شوه، څرنګه چې"بهار" یا"ویهاره" بودایي مزدك ته ویل کېده، لیرې نه ده چې دا لویه بوت خانه هماغه لوی شاهي بودایي مزدك و چې د"شاویهاره" په نامه یې نوم په"شاه بهار" کې پاتې دی.
دا مقاله پر ۱۳۳۸/۱۲/۸ په کابل راډیو کې وویل شوه.

د دې برخې پای

PROPERTY OF ACKU 8220

# د باختر بودايي هنر

څرنګه چې د ګران هېواد افغانستان تاريخي نښوله څه مهال راهيسې د لرغونپوهانو او لويو تاريخپوهانو پاملرنه ځانته را اړولې، د افغانستان حکومت لرغونيو تاريخي نښو ته په پاملرنه لرغونپوهانو او مينه والوته د څېړنې او پلټنې دروازې پرانيستي دي. لکه چې د فرانسې د لرغونپوهنې پلاوی تر اوسه د ډېرو غوره او څرګندو نښو په موندنه بريالی شويدی او د دغه ډول برياليو پلټنو په ترځ کې يې تر لاسه شوې نښې زموږ د هيواد د ورك تاريخ پرځندو ډېره رڼاچوي.

پر ۱۳۱۵ لمريز کال د کوندوز په خانه‌اباد کې په ناڅاپي توګه د دغه ځای له تاريخي زېرمې ځايي کرګرو لرغونې نښې او پژی، وموندلې او په دې اړه دسيمه ايزو واکمنيوله خواافغانستان پلازمينې ته خبرورکړای شو.

په پايله کې يې د پوهنې وزارت له خوا د فرانسې لرغونپوه پلاوی اوښاغلی پوه موسيوهاکن د ياد شوی کال پرژمي د نښو او د هغو د ځای کتنې لپاره واستول شو. ښاغلی موسيوهاکن د نښو تر ژڅېړلو وروسته- چې يوشمېر يې په کابل او مزار شريف موزيمونو کې دی- دڅېړلو څېړنو او کتنو پايله د يوه کتابګوټي په توګه "د باختر بودايي هنر او د ګريك وبوديك هنر سرچينه" تر سر ليك لاندې په فرانسوي ژبه وليکه. ښاغلي پوه احمدعلي خان کهزاد د پښتو ټولنې د ليکنې او ژباړې د څانګې مر ستيال چې د افغانستان د تاريخ په اړه يې دوه درې کتابونه ليکلي او ژباړلي دي. له دې سکالو (موضوع) سره ډېره مينه درلوده، دا کتاب يې هم له فرانسوي په دري ژبه وژباړه. پښتو ټولنه بريالی شوه، چې د دغه کتابګوټي د ارزښت له امله دا کتاب له فرانسوي ارمنځپانګې سره يو ځای، چې په دې چاپېريال کې په لومړی ځل دا کار تر سره کيږي، تاسې ته وړاندې کړي.

پښتو ټولنه

# د باختر بودايي هنر

# او

# دګريک و بوديک هنر

# سرچينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کوندوز: جغرافيايي اوتاريخي لنډيز

کوندوز ښار چې له اداري پلوه لومړی درجه حکومت لری او د کتغن او بدخشان پر"نايب الحکومګۍ" اړه لري د کوندوز سيند ختيځ ته(٦) کيلو متره او د خان اباد لويديځ ته(٢۴) کيلو متره لرې پروت دی.
د ښکار درې له لارې چې د خان اباد پر لوري ګرځندويان ځي که کوندوز ګوري، نو چې لومړی علی اباد[1] ته ورسېږي سيده به(١٨) کيلومتره وړاندې شمال لوري کوندوز ته ورشي. خو که لومړی خان آباد ته لاړشي، پرته له دې چې بيا راوګرځي له بلې سيده لارې چې(٢۴) کيلو متره اوږده ده، کوندوز ته رسېدای شي.
په تېرو پېړونو کې هغه لوی ارزښت چې دغه تاريخی ځای تر لاسه کړی، هغه مهال ځرګندېږي چې سړی د هندوکوش دوه يو ځای شويو لاروته ورسي. دوه زره کاله وړاندې تجارتي لاره چې د هندوکش سويلي لوري ته(کاپيسا، کوه دامن، کوهستان) له لوري له شمال سره يوځای کيږي، هغه ده چې د کاپيسا له دښتې غوربند ته ننوتې او له سياه ګرده لږ پورته هغه دره چې اوس" کوشان" نومېږي، شمال لوري ته تللې. دا دواړه د اوسنی اشرف درې په شاوخوا کې له ښکار سرك سره يوځای کېږي. اولګ دغه ځای يو برابر د کوندوز سيند له مورګوسره يو ځای کوندوز ته تللي دي.
لکه چې اوس هم سره له دې د علي اباد له نومول شوي ځای يوه لاره د خان اباد پر لوري تللې، بله سيده لار د کوندوز پر لور هم لري.

---

[1] علي اباد سرك پر سر ځای دی(شکاری- خان اباد) تر دې وروسته دوه لارې راځي يو خان اباد او بله سيده پر شمال لوري کوندوز ته تللې ده.

د هندوکوش د لړیو تر تېرېدو وروسته د افغانستان په شمال کې هغه لومړنی ځای چې سکندر په کې څه مهال پاتې شوی په"دراپاسکا" یاد شوی. او که د شورتز"Schwarz" الماني(۱) الواك چې"دراپاسکا" یې کوندوز بللی ومنو، د کوندوز په ارزښت کې اړنك نه پاتې کېږي.

پر اوومه پېړۍ چیني ګرځندوی هیوان څانك سره له دې چې بلخ ښار د" فو-هو-لو" په نامه واکمن ښار ګڼلی او(۱۰۰)مزدکو نه او(۳۰۰۰) بودایي روحانیون یې په کې ښوولي، کوندوز ښار یا د هغه په وینا "هویهHwoh=" د تخارستان اوبکتریان ترمنځ منځی و.

چیني ګرځندوی له"اکسوس=امورود" تر تېرېدو وروسته، د دې پر ځای چې د سمرقند د بلخ لویه کارنده تجارتی لاره خپله کړي. په کوندوز کې ترکي شاهزی تادیو شاد= Tarduchad ته سېده راغی. هغه د کوندوز پر لو شمالي برخو او د هندوکوش پر سهیل واکمني لرله.

په دې توګه کوندوز د هندوکوش په شمالي خواوو کې د بکتریان و تخارستان تر منځ دمه ځای و، چې لویه تجارتي لار ترې درې ځایه شوی وه یوه بلخ او نورو باختري ښارونو، بله د تخارستان ودان ځایونو او دریمه سیده د اکسوس پر لور تللې وه.

څرنګه چې چیني ګرځندوی د خپل شتوالی پر مهال په کوندوز کې(۱۰) بودایي مزدکونه او د دغه ګروهې څو سوه روحانیون او ملاتړي لیدلي نورې څرګندونې یې هم په خپلو یادښتونو کې لیکلي دي. د دې لپاره چې د دغه ځای څرنګوالی لوستونکیوته ښه روښانه شي د ده د یادښتونو کټ مټ ژباړه په لاندې کرښو کې لیکو:(۱)

"دغه ځای هم د"تو-هو-لو" (تخارستان) د ځمکې یوه برخه ده. اوږد والی یې"۳۰۰۰" لي(۲) او د منځې کچه یې لس لي ده.

---

۱ وګورئ"د لویدیز پوه یادښتونه" د"بیل" پیکنه"دویم ټوك" ۲۸۸ مخ

۲ وګورئ:
(۱) د ختیځ پوه د یادښتونو لومړی ټوك ۲۸۷-۲۸۸ مخونه.
(۲) "لي" چیني اندازې واحد دی، چې ۵۷۶ متره کیږي.

ځمکه يې هواره ده چې د پرله پسې کرنې په ترڅ کې په کې غلې دانې ډېرې کېږي. ونې او واښه ډېر لري، ګلان او بېلابېلې مېوې په کې پريمانه دي اوبه‌هوايې نرمه او په طبعه برابره ده. خلک يې امين او د ساده ژوندانه څښتن دي. سړي يې چالاکه او پوه دي. پشمي کالي اغوندي د ګروهې له پلوه يې ډېرشمېر بودايي او يو شمېريې برهمني دي. دغلته "سانګارامه" (بودايي مزدك) او څو سوه تنه روحانيون شته‌چې د"مهايانيست" او" هنايانيست" په بودايي قانونونو کې پوهه لري او پر دواړو لارو ځي. واکمن يې پر تولوکوچنيو سهيلي د روا "اوسپنې دروازه"(١) واکمني لري"

د کوندوز د بودايي مزدکونو په اړه د چيني ګرځندوی دغو غوڅو خبروته په پاملرنه که په دغه ځاي کې تاريخي نښې موندل کېږي، هېښنده نه ده، څرنګه چې کوندوز د باختر واکمنی د ختيځ پای لورګاته دی، تر لاسه شوې نښې يې سره له دې چې څو توټې دي، د هېواد د تاريخ په اړه ډېره غوره والی لري. ځکه دا راښيي چې باختر دګريك وبو ديك هنر د پيدايښت ځای او هډه وګندهارا يې د وړوکوالي او ځواني روزنځای،و او د دغه لوی هنرويار- چې په کرار کراريې اور توله اسانيسي- په افغانستان اړه مومي.

د دغه هنر د"ګريك و بوديك" د نومونې پر مهال د افغانستان دروازې د اروپايي لرغونپوه پلاويو پر مخ ترل شوې وې. اوس د اروپايي ختيځ پوهانو په منښته په غوڅه توګه دا ويلای شو، چې د دغه هنر سرچينه او ښکلی زېږنځای همدا باختر دی.

احمد علي کهزاد

١ د اوسپنې دروازه د درې په دننه کې ده، چې له سمرقند (٩٠) ميله سهيل ختيځ ته ده.

# د باختر بودايي هنر او ګریک وبودیک هنر
# سرچینه

هغه کيندنې چې له ۱۹۲۳ ز کال راهیسې د فرانسې رالیږل شوي لرغونپوه پلاوي دافغانستان په بېلابېلو بودايي ځايونو او د اکسوس(اموروود) پر بريد تر سره کړې. پر ۱۹۲۲ز کال د افغانستان د شاهي حکومت له خوا د لرغونپلټنې له موخې سره يو تړون وې. هغه څه چې هیله يې وه تر لاسه شول.

هډه او باميان(د هند له بريده د اکسوس خواته پر تللې ليکه) دوه غوره ځايونه دي، چې هنري چارې په کې پرمخ تللي او دا هنر سره له دې چې په دواړه ځايونو کې له اړنګ پرته له هندي الهاماتو رامنځته شوی، بيا هم په لومړی ځای کې يونانې او په دويم ځای کې ورسره ايرانې کاردود ګډ دی.

يوازې باکتريان لکه چې پر۱۹۲۳-۱۹۲۵ ز کلونو د "موسيوفوشه" له کيندونو څرګند يږي، تر اوسه په مثبته توګه بې پايلې پاتې دی اوپه خواو شاکې يې د موندل شويو نښو په اړه څه نه شو ويلای.

څرنګه چې د موندلو په نړۍ کې غتې پوښتنې ناڅاپې پيښې حل کوي، هغه څه چې له قانوني سپړنو تر لاسه نه شول، د ناڅاپي سپړنو او موندنو په ترڅ کې ترلاسه شول.

موندل شوې نښې لکه چې هیله يې وه، د دې پر ځای چې له بلخه و موندل شي د کونډوز له درې کيلومترۍ شاوخوا وموندل شول. دا هغه

ځای دی، چې د چیني ګرځندوی "هیوان څانګ" په وینا لس بودایي مزدکونه په کې ودان و.(۱)

دا نښې چې د پڅیو وړې ټوټې دي لکه چې یادونه شوې کرګرو په ناڅاپي توګه د لښتیو د ویستلو پرمهال د اومه دیوال له بیخه موندلي دي.(د پلان له مخې د نښو موندل شوی ځای په "۸" توري ښوول شوي". دا دېوال د دیوال دبودایي ودانۍ له شمال لویدیځ دیوالونه یو هغه دی، چې پلان یې څلور واړه خو اوې راچاپېروي. هر لوری یې "۵۰" متره اوږدوالی لري او دسهیل لوېدیځ لوري تر څنګ یې یوسانګارامه "وړوکی مزدك" چې هره خوایې "۳۰" متره خواوشا اوږدوالی لري هم ښبنتی دی.(۲)

له هغه ځایه د ترلاسه شویو نښو شمېر ډیر نه دی. ټولې تر لاسه شوې نښې یې په دې ډول دي: (۷)سرونه چې د(۶) یې عکس اخیستل شوی{له(۳) تر (۹)انځور پورې} دوه ګرد مډالونه(۹)انځور، یوه کوچنۍ پڅۍ چې نیم انسان او نیم بې سره مرغه رانښيي(۱۰ انځور وګورئ) له یوې بلې کوچنۍ ټوټې پښې او څپلۍ څرګندېږي.

سربېره پر دې شیانو یوشمېر لویې او وړې ټوټې د مزدك له B او C کوټو تر لاسه شوي (پلان وګورئ) ددغه ځای د نښو خرابېدل، ډېرددوی د جوړېدو په توکیو پورې اړه مومي، چې منځمهالي چونه او غونډاري، غونډاري ده چې په لږ لاس لګېدنې اومښنې رژېږي د ویجاړتیا په پلان کې یې ناانډوله هوا او د انسان لاس ډېره برخه لري. دا منځمهالې چونه د هډې د ترلاسه شویو نښو په پرتله لږ کلکوالی لري. له دغه لوړو یادونو دا څرګندېږي چې دا ځای د کلکو توکیو د نشتوالي او د انسان د ویجاړونې

---

۱ د "لویدیځ پوه بودایي یادښتونه" کتاب د"بیل" لیکنه د دویم ټوك په ۲۸۸ مخ کې که د الماني پوه"شورتز" وړاندیځ ومنل شي. "دراپاسکا" کوندوز ګڼل کیږي.

۲ د بهلول ښار د دهمامي Dhamami دغونډۍ په پلان کې یې، چې موسیو فوشه د کېطان کننګهام د نقشې له مخې "دګندهارا دګریك بودیك هنر" کتاب په ۱۵۵مخ کې ٦۱ انځور ورکړی ورسره پرتله کړئ. همدا رنګه لکه چې موسیوفوشه د همدغه "د ګندهارا ګریك وبودیك هنر" په کتاب کې وایي "۱۵۷-۱۵٦"مخونه وګورئ .

له امله ډېره پایله ورنه کړي.

په ټولیز ډول ددغه ځای نقشه د ګندهارا له انجنیري کاردود سره (هغه مزدکونه یادوو چې پر هواره ځمکه ودان شوي) توپیر نه لري. که کوچنی برخې یې سره پرتله شي، توپیر لري. څلورارخیز خوبځایونه ۳ پر ۳ متره له اومو خښتو رغېدلي، بامونه یې ګومبزي دي، چې د څلورارخیزې لوی ودانۍ ددننني غولي لوري ته یې مخ دی. (پلان وګورئ) څلورارخیزه نقشه ګرده یا پرته له دې د کوټو دېوالونه له ګردې نقشې سره چې بام یې ګرد چوکاټ دی د غشو د اوډنې په وسیله د کوټو په څلورو کونجونو کې جوړ شوي دي.

(وګورئ ۱-۲ انځورونه)

پټه دې نه وي چې دا ودانیزه ځانګړتیا- لکه چې په ایران کې اوس هم دود ده- په ایراني کار دود جوړه شوې. نه په هندي ځکه لومړنی یاد شوی کاردود چې ګرده نقشه له ورو دېوالونو سره چې دکوټې ارخونه جوړوي په اتو ارخو بدلېږي (د فیروزآباد سروستان) هندي کار دود بیا دا ډول دی، چې تیرېږي اوږده ډول په مخکیني ارخ کې مخامخ رډيّ او پر مخ یې ګرده ګومبزي نقشه د کوټې چت اوچتوي.[1]

د خوبځي "Vihava" د دېوالونو پر مخ چې ټول له خامو خښتو رغېدلي تر اوسه ښېلا ښېلې ښکلینې لیدل کېږي. سربېره پر دې د دېوال په منځ کې دلرګي د مېخونو سوري ښکاري چې لویې پړۍ یې پر دېوال نښلولې وې دا ټکل له مخې دا ګومبزي د غورځېدو له امله ویجاړې شوې دي. داوې د ۱۹۳۷ کال پر جنورۍ په یاد شوي ځای کې د ولاړو پېښو کتنې.

هغه نښې چې له کوندوز نه تر لاسه شوي، په څرګنده توګه په دوه برخو وېشل کېږي:

یوه برخه هغه دي چې ځاني کرښې په بشپړ ډول نه لري. بل یې هغه ډول دي چې د رېښتینوالي له مخې توکمیزې ځانګړتیاوې رانښیي.

---

[1] په دې اړه وګورئ "د بامیان لرغونې نښې" د موسیووومدام ګودار او موسیوهاکن لیکنه ۵۴-۵۶ مخونه:

له دې ليکې نه (۳ انځور) ښېرو، چې په لومړۍ برخې اړه لري. ددغه پړۍ له ټوليز جوړښتي کاردود نه دا ښکاري، چې هيکل توړونکي په غوښتي توګه د ده ښېره ناانډوله جوړه کړې، چې د مرمري پړۍ جوسې ته ورته والی لري. له کورنت Corinthe موندل شوی او موسيو "پې کارد"(۱) ښېره کړې ده. د ستړګو د کاسو راوتل چې د ډېر اټکل له مخې په ټيټ ستړګو ښېزمو کې ښکاري، دلته نه شته، ډېر مهال ستړګې په پنځيز ډول په خپل چوکاټ کې وې او ستړګو ښيز مې پورته غړېدلي.(۲) پوزه لويه او شونډې يې سمې دي، جسم يې لږ څه شل غونډې ښکاري. دغه ځانګړتياوې په څو نورو پړيو کې (د بېلګې په توګه: ۴ مه) لا ښه څرګندېږي.

همدارنګه په نورو پړيو کې د ستړګو د چوکاټ راوتنه ډېره ښکاري، خو له بريده نه ده وتلې په ۴ انځور کې لويه پوزه او ښه خوله کښل شوې.

د وېښتو په اړه يې بايد ووايو چې: د وېښتوپه کړيو کې مخکيني برخه د فيتې په ښېر راوتلې ده.

۴ الف، ب او ۵ الف، ب او ۶،۷ انځورونه د سمندري مرغلرې په ښېر ناسمې تاوې راتاوې دي. د بوت جوړونې دا دود په ډېرو يوناني پړيو کې هم ښکاري. لکه څرنګه چې "موسيو پيکارد" څرګندوي: د مارانو په

---

۱ وګورئ: د يوناني لرغونپوهنې او هيکل توړنې يادښتونه، دشارل پيکارد ليکنه لومړی ټوك "لرغونې پېر" ۱۹۳۵ پاريس ۴۶۷ مخ انځور.دا توکي د المان د لرغونپوهنې دټولنې ځانګې له کالنۍ څخه اخيستل شوي. ګڼه ۴۶- کال ۱۹۳۱، لومړی ټوك، ستون ۲۴۳، انځور ۱۵ ستون ۲۳۸.

۲ د پرتلنې لپاره وګورئ: "د هډې ګلورين استعداد" په دغه پړيو کې همدغه ډول ځانګړتياوې ليدل کېږي. يانې د بوداد هغه پړيو پر خلاف دي،چې د ستړګو کاسې يې له چوکاټه ډېرې راوتلې دهډې لياقت په دغه ځای کې وروسته دی او د ستړګو ښيزې يې راوتلې دي.د دې لپاره وګورئ:
د هډې کيندنې (د انځورونو البوم) ۳۸ انځور.

ځېر د تاوېدنې دا دود پر همدغه ځېر پای ته رسېدلی دی.(۱)

له بله پلوه دا دود یو ځای په هغو ځایونو کې کارول شوی، چې د سرمخکیني وېښتان یې د فیتې په ځېر اړول غوښتل. ښایي ځېرشوچې پر ۶۰۰-۴۸۰ ز کلونو په یونان کې دغه دود یو سبك جوړ شوی و، چې د سر مخکیني وېښتان به د فیتې په ځېر جوړوي او نور شاتني وېښتان به په خپل ډول له بل سره نښتي پر اوږو پراته وي.

ځینې مهال دا دود په یو شمېر پړیو کې له مخ او څټ لوري توپیر لري(۲)

که (۴ انځور) بیا وځېړو نو وبه وینو چې د وېښتو پر فیته د پاسه یو فلزي (۱۲) متره بیرغ دی او بهرنی برخه یې د کومې بلې ښکلینې لپاره وه، چې ځای یې تر اوسه پاتې دی.۳ دوېښتو دا فیته چې په ډېره پاملرنه قودي قودي تر خولی لاندې ښکاري، لکه په (۵ الف اوب) انځور کې دي، ډېر خراب شوي دي.

دا خولی یو ډول د شپې د اغوستلو کالي ښکاري، چې د کوریومارانو په ځېر دي. ملاوستنی یې هم د مار په ځېر تړل شوی. د هډې په ګچي پړیو کې هم دا کاردود ښکاري.(۴)

---

۱وګورئ: د "شارلپیکارډ" لیکلی کتاب ۲۶۹مخ (بشپړه پېژندنه یې په مخکینو مخونو کې راغلې وه.)

۲همدا کتاب ۲۱۸ مخ

۳ د فلزي ښکلینې د تاج یوه ښکلې بېلګه د "یوناني سیکو منتخباتو "Sir George Flill" په کتاب کې چې بروکسل پر ۱۹۲۷ز کال په ۴۴ مخ ۳۳ مه لوحه کې راوړې او په پاریس کې چاپ شویدی.
د "هرا Hera" سر فلزي تاج لري چې د نوم توري یې دخرما د پاڼو په انځورکې راوړل شوي (۳۶۵-۳۸۵ز کلونو تر منځ)

۴ دا خولی د شپې د اغوستونکیو کالیو په ځېر یو شی دی، چې یو ماشوم پر سر کړې. وګورئ: د هډې کیندنې درېیم ټوك ( Figurs, etfiguriness د موسیوبرتو لیکنه ۶۶ مخ. دا پړی د هډې له کافر غونډی تر لاسه شوي چې آګېژی دپاریس په موزیم کې دي. د وېښتو دسمندري مرغلرو د انځورپه اړه د موسیوبرتو د یاد شوي کتاب

په (٦) انځور کې د وېښتو جوړښت د پاسني دود په څېر دی، د وېښتو د پاسنۍ برخې کړۍ د تاپې (مهر) په څېر ګرد ګرد جوړ شوي او له منځه ورل شوي- د نښتو وېښتو قودې يې تر اوسه د غاړې پر دوارو خواوو ځوړندې دي. دسر نور وېښتان چې توررنګ شوي،يوازې ږمنځ شوي څوکې يې د غوټې په څېر د سرونو په توپير سره راوړل شوي.

دا هيکل ځانګړی جوړښت لري، په مخ کې يې توکميز لاملونه ښکاري. د سترګو ګردچاپېره يې لوړ، سترګې يې تيټې او ګاتي يې راوتلي ښکاري له دې سره سره يې بيا هم سترګې د هډې د پژيو په څېرتيتې نه دي. شونډې يې کلکې او ښې انځور شوي، پوزه يې لنډه او ګرده، جسم يې غوښن او شل ښکاري. له دې دومره ځانګړتياوو او صفتونو سره سره دا بوت دختيځ ځانګړې ښکلا څرګندوي.

په اووم انځور کې د مخکينو ګېډيو وېښتانو فيته بشپړه ده او يوازې يوه کړۍ يې غورځېدلې ده. نور وېښتان يې د سر په توپير جوړ شوي دي چې غوټه هم ورسره يو ځای ده. يو شمېر کړۍ يې پر ښي لور د سر په کاسه کې جلا شوي دي. د دغې غوټې ښي لور خراب شوی دی. د وېښتو دا ډول چې د کړيو پر وړاندې د فيتو په څېر د سر په توپير غوټه لري د هډې په پژيو کې هم ښکاري.(١) د دغه ډول غوټو يوه غوره بېلګه په برتش موزيم کې د ارتميس Artemis بوت دی، د اووم انځور په اړه چې اوس يې مور څېړو بايد ووايو چې سترګې يې لږې کړې،پوزه يې سمه اودخولې کونجونه يې لږ کاږه دي. جسم يې بادامي اوڅېره يې په څرګنده توګه يوناني بيلګو ته ورته ده.

د مخ په ځانګړيو ليکو کې(٨ انځور) چې د مزار شريف په موزيم

A۵۵ لوحه وګورئ: دلته دوېښتو جوړښتي دود په لږ ډول بدل ښکاري او د سرغوټې يې له څو غوټو جوړې ښکاري.

(١) وګورئ: "د هډې" انځورونه د موسيوبرتو کيندنې، دريم توک ۵۵۵لوحه.

کې ابښوول شوي، زياتونې شوي، لوېې سترګې يې وړې، پوزه يې لنډه او نوکان يې راوتلي دي. پاسنی شونډې يې پر لاندينو هغو راوتلې دي. دا پړۍ چې ځانګړتياوې يې وښوول شوې، ځانګړی جسم لري. د هډې په موندل شويو نښنو کې دا ډول بېلګه نه لرو.

نهم انځور ګردمډال رانښيي چې ډېر خراب شوی، نيم مخ يې نه شته، وښتنان يې کلك ګېډۍ او لږ تاوراتاوشوي دي.

ددې مډال په څېرنور هغه له هډې هم موندل شوي دي.(۱)

"ګارودا" يا نيم انسان نيم مرغه ډوله الوتونکی". ۱۰ انځور وګورئ" دا بوت سر نه لري اود منځنۍ اسيا نښنو ته ورته دی.

❁❁❁

په کوندوز کې موندل شوې نښې، چې څېړنه يې د دې کتاب په لومړۍ برخه کې راغله له يوه لوري او د شوروي پلاوي ا بِ خواد ترمذ "اکسوس رود" په ښي اړخ کې درې کاله مخکې موندل شوې نښې بل لوري ته، لاسوندونه موږ ته برابروي. او د بوديزم او هلنيزم مسله بياً د څېړنې ډګرته راوباسي.

ناويلې دي نه وي پاتې چې د موسيوفوشه ليکلی کتاب(۲) "د يونان او ګندهارا بودايي هنر" د وروستيو برخو يو سرليك د بوديزم او هلېنزم تکر رانښيي، لوستونکي به ددغه کتاب په لوستو پوه شي، چې څه ډول تاريخي پېښې يوځای شوي، چې د هندو يونان ښوونځي ګډهنر يې رامنځته کړی دی.

د دې لپاره چې د ګريك دو بوديك هنر رامنځته کېدل ښه وڅېړو لکه چې موسيوفوشه وايي، په هغه ځای کې چې د دوی تکر رامنځته شوی د يوناني هنرګوتوهنې اود بودايي ګروهي خپرېدل دواړه داسې لاملونه دي چې بايد وڅېړل شي او د سکالو بنسټ روښانه شي.

---

۱ وګورئ: برتو، موسيو: (د هډې انځورنه) دريم ټوك C. A ۸۵ او ۹۷، لوحې.

۲ چينې ګرځندوی هيوان څانك ترمذ تامي Ta-mi ياد کړی وګورئ د "مستربيل" ياد شوی کتاب لومړی ټوك ۳۸ مخ

په دې توګه لکه چې د موسیوفوشه له خبرو څرګندېږي(۱) بودیزم د هند په شمال لویدیځ کې د ۲۵۰ م.ز په شاوخوا کې راغی؛څرنګه چې د افغانستان د سویل نیمه برخه دغه مهال د موریا کهاله تر سیاسي واک لاندې وه، د بودایي ګروهې خپرېدو ته لاره اواره شوه او خپروونکي(مبلغین) یې د مخزېزدیو پېړیو پر لومړیو، له یو نیم سل کاله زیات د یوناني واکمنی. له منځه تګه مخکې پر باکتریان (د هندوکوش پر څوکو) لاړل او هلته یې د تبلیغ بنسټ کېښود.

هغه مهال چې په باکتریان کې بودایي ګروهه خپرېده، داداسې یوه سیمه وه چې له ایراني تمدن نه اغېزمنه او له یوې نیمې پېړۍ راهیسې دبهرنیو تر واک لاندې وه. د بکتریان یوناني واکمن چې ځانساتي او اندیال وو. د ګروهي په خپرولو سره یې، چې د دغه خاورې اړتیا وه، غوښتل چې په زور یې ونیسي خو له زور پرته یې د موریا واکمني ونړوله او له بې ځایه بلهارتابه(قرباني کېدو) وژغورل شول.[2]

هغه خاوره یې بیا ونیوله چې سکندر نیولې او تر ۳۳۰ م.ز پورې د سلو سیدیانو په لاس کې وه.

له کوندوز نه تر لاسه شوې نښې د ګریک وبو دیك هنر هغه بېلګې دی، چې یونانی پرمختیا په کې ښه څرګنده وه او د دغه پرمختګ پورې په داسې برید کې وې، چې د لرغونپوهانو الواك یې وځاپه او داچې هغوی ویل د"یونان وباختر" هنرپال له اسکایي او یوچي یرغلونو وروسته له بکتریانه د ګندهارا پر لور تللي او دیوناني او بودایي ښوونځیو نښې یې څرګندولې، ناشوني څرګند شول. ځکه که دا ناشوني الواك ومنو هم، نو ورسره ښایي دا هم ومنو چې د یونان بودایي هنر پر کوشاني پېر له ګندهارا بکتریان ته تللی. که د ګریك وبو دیك هنر د دې پر ځای چې په بکتریان کې د یونانیانو د واکمنی. د پر مخ ځوړتیاپرمهال د باختر تر واك لاندې نه و راغلی او د کوشانیانو پر پېر له ګندهارا باختر ته نه و وړل شوی، د

۱ دګندهاراګریك بودیك هنر، دویم توك ۴۴۳ مخ

۲ د ګندهاراګریك و بودیك هنر، ۴۴۴ مخ دویم توك

کوندوز دا اوسنۍ موندل شوې نښې به داسې نه وې او بل ډول ځانګړتیاوې به یې درلودې. یانې د دې پر ځای چې یوناني پرمختیا په کې څرګندېده ښایي هندي اغېز پرې ډېرو. په داسې حال کې چې داسې نه ده او خبره د دې پر عکس ده.

نو ربښتیا به دا وي چې په بکتریان کې د بربریانو یرغلونه د"نوي هنر" د پرمختګ دېوال نه و.

ایا"هرایوس" او"کوجولاکدفیزس" د یوناني کهاله د پیسو د ډولونو پېروي نه وه کړې، هو چاره نه شته چې بودېزم د نوې واکمنۍ او لښکرو په بلوا او استقرار کې له ستونزو سره نه و مخ شوی. خو دا ناارامتوبونه نه شي کېدای له ناخاپي پېښو سره پرتله کړو. چې څو پېړۍ وروسته د هپتالیانو د یرغلونو په ترخ کې رامنځته شول. زما الواك دا دی چې د ګریك وبودیك هنر د باختر په کړکېچنو پېرونوکې رامنځته شوی او د ګندهارا په هډه کې یې د پرمختګ او پیاوړتیا ځای موندلی دی.(۱)

د چونې او ګچي بڼیو کارونه د اکسوس تر څنډو پورې لیدل کېږي دا د هیکل تورېنې یو ډول دی، چې له یونانیانو سره په ټوله کوچنۍ اسیا کې خپور شوی و. یوازې په هډه کې چې د باختر او ټېکسلا تر منځ غوره منځۍ و په دغه کاردود کې توپیرونه راغلي او نور ځیزونه په کې ګډشوي. دا ګډ شوي هغه سلیتي تېږي دي، چې د توکیو په ډول د ژر ماتېدونکیو ګچي نښو په هیکل جوړونه کې کارول شوي او ځانګړتیاوې لري.

د خاورې د جغرافیې سطحه چې دا کاردود په کې دود و، د کاپیسا(بګرام) له شمالي څنډو( پایتاوه د کابل شمال) ترټېکسلا رانغاړل ــــ دا اوبه رنګه سلیتي تېږې وې، چې په څرګند ډول خېښې مهال ښکلې

---

۱ که په کوندوز کې تر لاسه شوې نښې د یونان او بودایي هنر په اړه زموږ نظر بدلوی، دې ته هم موږ اړباسي، چې په باختر کې د یونانیانو د واکمنۍ په ځانګړتیا وو کې او یا دا چې" د لوی هنر په اړه د یوناني واکمنۍ لړې مرستې" یوناني واکمنۍ ته د ورپېښو ستونزو بدلون وګڼو. هاکن، په افغانستان کې د فرانسوي پلاوی کړنې او کیندنې ۱۹۳۳ز د ټوکیوچاپ ۶۵ مخ.

 څرګندېږي. د هیکل تورونې لپاره غوره توکي وڅکه درزونواو د تیږو نابرابرښت ډېر مهال د هیکل تورونکي استاد خواري له منځه وړې او دي ته یې اړیستی، چې ځینې برخې جلا جوړې او ولګوي. کارپوه استاد سلیتمي تېږي له اړنګ پرته ګچي هیکل تورنې ته په کتنه کارولي دي. نو داکار د-وډیو سیمه ایز هغه ګڼل کیږي، چې لنډمهالی ارزښت یې درلود او د ګچ کارو استادانو کارېې بولو. دوی په دې توګه د ګریك وبودیك هنر تولې ځانګړتیاوې په بشپړ ډول ختیزې اسیا ته رسولي دي.

# د انځورونو لیکلړ او څیړنه

لومړی انځور:

د څلور اړخیزې لویې ودانۍ شمال لویدیځ لوری(دا انځور په افغانستان کې د فرانسې لرغونپوه پلاوی د۱۹۳۷ز کال د جنوري پر ۷ مه اخیستی دی.)

دویم انځور:

د (ویهارا = شپې خونې) بېلابېل ځایونه، چې د څلور اړخیزې لویې ودانۍ شمال لویدیځ لوري ته دی.
غشي په کې پراته د خونې منځ ګرد، مخه یې راوتلې او د ګومبزې یوځای والی په کې څرګندیږي.
(دا انځور په افغانستان کې د فرانسوي لرغونپوهانو پلاوي د۱۹۳۷ کال د جنوري پر اوومه اخیستی دی.)

دریم انځور:

د کابل موزیم د کتلاګ نهم انځور، B.A لوړوالی ۹۴ % د نیمه تنو پلنوالی ۷۳ % متره( نیته یې د لومړۍ مخزیږ دې پیړۍ او د لومړۍ ز پیړۍ تر منځ ګنلای شو.)

څلورم انځور:

د کابل موزیم د کتلاګ پینځم انځور، A او B. لوړوالی ۱۴۹ر متره د نیمه تنوپلنوالی ۹۳ % متره، د دې نیته د لومړۍ م.ز او دویمې ز پیړیو تر منځ ګنلای شو.

پینځم انځور:

د کابل موزیم د کتلاګ دریم انځور a او b ، لوړوالی ۱۸ % متره، پلنوالی دنیمه تنوپه ډول ۷۵ % متره، د خولې لوړوالی (۹ % متره) نیته یې د لومړۍ م.ز او لومړۍ ز پیړۍ تر منځ ګنلای شو.

(c) kitabtoon.com: The Digital Library

دریمه برخه :

# د استاد کهزاد ژوند لیک

# کتابښود

# لیکني
# او
# وییپانگه

<u>شپږم انځور:</u>

د کابل موزیم د کتلاګ ۴ انځور، لوړوالی ۲ % متره پلنوالی د نیمه تنو په ډول ۸ % متره (نېټه یې د لومړۍ م.ز او لومړۍ ز پېړۍ تر منځ ګڼلای شو.)

<u>اووم انځور:</u>

د کابل موزیم د کتلاګ ٦ انځور. لوړوالی ۱۲ % متره، پلنوالی د نیمه تنو په ډول ۷ % متره(نېټه یې دلومړۍ م.ز او لومړۍ "ز" پېړۍ تر منځ ګڼلای شو).

<u>اتم انځور:</u>

د مزار شریف (افغاني ترکستان) د موزیم. نېټه یې د لومړۍ م.ز اولو مړۍ ز پېړۍ تر منځ ګڼلای شو.

<u>نهم انځور:</u>

د کابل موزیم د کتلاګ اتم او لسم انځور(دواړه یوډول دی) منځ ۸ % متره نیټه یې د لومړۍ م.ز او لومړۍ ز پېړ یو تر منځ ټاکلی شو.

<u>لسم انځور:</u>

د کابل موزیم د کتلاګ لومړی انځور لوړوالی ۱۲۵ % پلنوالی ۱۰۵ متره.له ۳-۱۰ پورې هغه انځورنه دي، چې د فرانسې لرغونپوه پلاوي په افغانستان کې اخیستي دي.

له کوندوز نه د تر لاسه شویو پڅیو د توکیو د کچ ومېچ شننه:

د دې لپاره چې له کوندوز نه د ترلاسه شویو پڅیو ګډتوکي په څېرلي ډول څرګند شي ښاغلی دیپلوم انجینرنورلله خان د کابل د طب پوهنځی استاد د دغه بوتانو یو ټوټه شنلې، چې پایله یې په دې ډول راوتلې ده:

| | |
|---|---|
| ګچ : | - % ۸۲ |
| ناګډه شوي توکي : | ٦- % ۱۷ |
| وسپنه | ۴- % |
| ټول | ۱۰۰ |

"د دویمې برخې پای"

# اروابناد استاد احمد علي کهزاد د افغاني فرهنګ ځلنده ستوری

اروابناد استاد کهزاد د افغاني فرهنګ هغه ځلنده ځېره ده، چې تر هغې افغانستان ژوندی، دی به هم ورسره ژوندی وي. اروابناد کهزاد د افغانستان دتاریخ ویاړ اود افغاني فرهنګ و کلتور افتخار و. نوموړي په خپلې عالمانه او څېړمنې لیکنې د افغانستان تاریخ ښکلي کړی افغانستان ته یې ویاړونه وربښلي او افغانان یې له نورو تاریخي توکمونو سره سیال کړي دي.

که کهزاد نه وای باور دی، چې د افغانستان پټ او پر دوړو ککړ تاریخ ډېرې غوره او ارزښتمنې خواوې به نه وې روښانه شوې، هغه بهرنیانو ته افغانستان د یو قوي او ښکلي فرهنګ لرونکی وښود، هغوی ته یې د افغانانو د استعداد کچه ورپه ګوته کړه او ویې ښووله چې افغانان په هر حال کې خپلو تاریخي ویاړونو ته پام لري.

اروابناد استاد کهزاد د افغانستان له هغو سترو څېړونکیو څخه دی، چې د ګوتو په شمېر دي. افغانان به هېڅکله د ده "اروابناد"په شان بل ستر استاد پیدا نه شي کړی. استاد کهزاد د افغانستان هغه یوازینی تاریخپوه دی، چې په بې پرې ډول یې د افغانستان ویاړمن تاریخ لیکلی په داسې بې پرې ډول چې هر پښتون، هزاره، ازبك، تاجك، بلوڅ اونور یې

د سرتاج ګڼي. استادکهزاد یوازیني پوهاند دي چې، د افغانستان له تر تاریخ له مخه، مخزېږدی او زېږدي پېړیو تاریخي مدنیتونه، ژوند او لیکونه یې موږ ته راښوولي دي.

استاد احمد علي کهزاد د میرزا محمد علي زوی د لمریز لیږدي ۱۲۸۷ کال د غویي میاشتې پر ۸مه نېټه د کابل په ښار کې زېږېدلی. په اووکلنۍ کې یې په ځانګړي ډول په درس ویلو پیل کړی دی. وروسته د اتحاد، حبیبه، جبل السراج او استقلال په ښوونځیو کې شامل شوی او پر ۱۳۰۸ لمریز کال د استقلال لیسې د فارغینو په لومړنۍ ډله کې په اعلی درجه راوتلی دی.

استاد کهزاد فرانسوي ژبه په بشپړه توګه زده کړې وه، ځکه نو همدا چې له لیسې راووت د فرانسوي پلاوي له مشر "باموسیوکول" سره، چې دارګک د دروازې د کومبزې پر بنیا جوړونه بوخت و، د ژباړن په توګه وټاکل شو. پر همدغه مهال استاد کهزاد د "هېواد پالنې" تر سرلیک لاندې په فرانسوي ژبه یوه مقاله ولیکله چې دا مقاله بیا د استقلال دلیسې د مدیر "موسیوژرار" په لاسود اعلیحضرت محمد نادرشاه حضور ته وړاندې شوه، چې هغه استاد کهزاد ته جایزه ورکړه او له همدې امله په شاهي دارالتحریر کې د فرانسوي ژبې ژباړن وټاکل شو. دا دنده یې د ۱۳۰۹ لمریز کال له لومړیو د ۱۳۱۲ لمریز کال تر پایه سرته ورسوله.

د ۱۳۰۹ لمریز کال راهیسې د خپلې رسمي دندې ترڅنګ د فرانسې دلرغونپېژندنې له پلاوي سره هم اوږه پر اوږه ګرځېدلی او د افغانستان ټولو ولایتونو ته ورسره په سفر کې یوځای و.

پر ۱۳۱۰ ل کال یې د لرغون پېژندنې له یوه بهرني پلاوي سره د ایران- افغانستان له بریده نیولې، هرات، فراه، ګرشک، کندهار، غزني، کابل، جلال آباد ان تر ډکې پورې وکتل.

د ۱۳۱۲ لمریز کال پر تلې میاشت یې له یوه فرانسوي لرغونپوه پلاوي سره د ۲۷ ورځو د سفر په ترځ کې د (۳۰۰۰) کیلومتره لارې په وهلو سره له ښکار درې لارې ایبک، مزارشریف، بلخ، کابل او اندخوی بشپړه دوره، میمنه، بالامرغاب، هرات، فراه، ګرشک، بست، کندهار مقر،

غزني، کابل او د افغانستان ټولو ولایتونو ته سفر وکړ.
په ۱۳۱۱ ل کال له یو تن فرانسوي او یوه تن سیویسي لرغونپوه سره د سروبي له لارې د کونړ اسمار، بریکوټ، نورستان د کامدیش منډه‌ګل او دنورستان نورو لرې پرتوسیمو ته په سفر تللی و.
د ۱۳۱۲ ل کال په پای کې په ایټالیا کې د افغانستان د خپلواك سفارت سکرتر وټاکل شو، دا دنده یې تر ۱۳۱۵ کال پورې تر سره کړه‌چې ایټالیوي ژبه یې هم هلته زده کړه. په ۱۳۱۵ کال د دویم ځل لپاره په شاهي دارالتحریر کې دفرانسوي ژبې ژباړن وټاکل شو.
دا چې په لیکنه کې د غوره اند او قلم څښتن و، ورسره د ادبي انجمن د لیکنې او ژباړې د څانګې مرستیال هم وټاکل شو. چې لږ وروسته د دغه څانګې مشر وټاکل شو. په ۱۳۱۷-۱۳۱۶ کلونو د پښتو ټولنې د تاریخ څانګې مشر وټاکل شو.
په ۱۳۱۸ ل کال د پښتو ټولنې د مشر مرستیال وټاکل شو. په ۱۳۲۰ کال ده په خپله یو نوښت ته لاس واچاوه اود افغانستان د تاریخ ټولنې په نامه یې د مطبوعاتو د مستقل ریاست په چوکاټ کې یو بېل دفتر پرانېست چې پینځه کاله یې هم دی مشر ټاکل شوی و.
څرنګه چې استاد کهزاد ډېرلایقه او کارنده سړی و له همدې امله یې زیات مهال له خپلې یوې رسمي دندې سره څو نورې هم تر سره کړې چې یوه بېلګه یې د افغانستان د موزیم مدیریت دی، چې وروسته په ریاست واړول شو.
د ۱۳۲۸-۱۳۱۹ ل کلونو تر منځ، دی سره له دې چې په پښتو ټولنه او تاریخ ټولنه کې ډېر بوخت و، بیا هم د افغانستان موزیم د مشرۍ چارې یې ورسره ترڅنګ پر مخ بېولې. په ۱۳۲۹ کال له تاریخ ټولنې سره همکار، د افغانستان دموزیم رییس اود افغانستان د لرغون پېژندنې رییس و. دا دنده یې تر ۱۳۳۶ ل کال پورې وه. په همدغه کال بېرته د تاریخ ټولنې مشر وټاکل شو. په ۱۳۴۰کال د ښوونې او روزنې د وزارت علمي مشاور وټاکل شو، چې دا دنده یې تر ۱۳۵۰ کال پورې تر سره کړه. د دې دندې ترڅنګ سره له دې چې ځینې مهال به استاد کهزاد د لرغون پېژندنې،

موزیم او د تاریخ ټولنې په څانګو کې رسمي دنده نه درلوده. خودغه ټولو ټولنواو مؤسسو ته یې د مشاور او مرستندوی په توګه ګڼ شمېر کارونه کړي،لیکنې یې کړې او د دغه ټولنو له خوا خپرې شوې دي.

پر ۱۳۵۰ ل کال متقاعد شو او له تقاعد سره سم د ننګرهار په جلال آباد کې مېشت شو.(۱)

❁❁❁

استاد کهزاد بهرنۍ نړۍ ته له استرالیا پرته نورو د څلورو واړو لویو وچو ټولو هېوادونو ته علمي سفرونه کړي، هلته یې د افغانستان د لرغوني فرهنګ او کلتور په اړه په سمینارونو کې د افغانستان د استازي په توګه خبرې کړي، لیکنې یې اورولي او د افغانستان د تاریخي نښو ننداري یې نړۍ والوته وړاندې کړي دي.

استاد کهزاد زښت ډېر علمي سفرونه کړي، خو د نورو په اړه یې څرګندونې تر لاسه نه شوې، یوازې د لاندې څو سفرونو یادښتونه چې د ده له خپل قلمه څېړونکیو راخیستې دلته لیکل کېږي:

- پر ۱۳۱۴ کال په ایټالیا کې د ختیځ پوهانو په نړیوال کانفرانس کې د افغانستان استازی.

- پر ۱۹۴۶ زېږدي کال په نوي ډیلي کې د بنګال د اسیایي شاهي ټولنې د جوړوونکي سرویلیم جونز د دوه سوومې کالیزې په مراسمو کې دافغانستان استازی. چې دغه مهال یې په نوي ډیلي او کلکته کې د کابل موزیم د تاریخي نښو یو.نندارتون هم پرانیست.

- پر ۱۹۴۷ ز کال د دویم ځل لپاره په هند کې د اسیایي هېوادونو په نړیوال فرهنګي کانفرانس کې د افغانستان استازی.

پر ۱۹۵۱ زکال د درېیم ځل لپاره په همدغه غونډه کې د افغانستان استازی.

- پر ۱۳۴۰ل کال په نوي ډیلي کې داسیایي هېوادونو د لرغون پېژندنې په نړۍ واله غونډه کې دافغانستان داستازي په توګه ګډون.

- پر ۱۹۵۲ز کال د امریکا متحده ایالتونو ته کلتوري سفر، چې دغلته یې د کوربه هېواد موزیمونه، کتابتونونه او فرهنګي ټولنې وکتلې

او د افغانستان د تاريخي نبنو او فرهنګي چارو په اړه يې د سانفرانسيسکو او فيلادليفيا په ټلويزيون کې ويناوې واورولې.

- پر ۱۳۵۲ کال لندن ته د برېټش کونسل په بلنه سفر.

- پر همدغه کال فرانسې ته دهغه هېواد دبهرنيو چارو د وزارت پر رسمي بلنه تګ.

- پر ۱۳۳۰ لمريز کال ايران ته سفر، چې د ايران په لرغوني موزيم کې يې د افغانستان او ايران د تاريخي اړيکو په اړه يو اوږده وينا واوروله، د ده دا وينا خپره شوې هم ده.

- پر ۱۳۴۳ او ۱۳۴۹ لمريز کلونو کې دوه ځله شوروي اتحاد ته د افغان شوروي د ملګرتيا ټولنې په بلنه د ختيځ پوهانو په نړيوال کانفرنس د ګډون لپاره تللی دی. دغه هېواد ته استاد کهزاد ځوځل نور هم تللی، چې څرګندونې يې په لاس کې نه شته.

- چين ته د افغاني کلتوري پلاوي د مشر په توګه تګ. نېټه يې څرګنده نه ده.

- مصر ته کلتوري تګ چې هلته يې د افغانستان پېژندنې په اړه يو کانفرانس جوړ کړی و.

- ترکيې ته کلتوري سفر.

استاد کهزاد نورو هېوادونو ته هم علمي سفرونه کړي، چې څرګندونې يې په لاس کې نه لرو.

❁❁❁

## په نړۍ والو علمي ټولنو کې غړيتوب:

۱ - د بنګال د اسيايي ټولنې غړی.

۲ - د واشنګټن د جغرافيا ټولنې غړی.

۳ - په فرانسه کې د "ختيځ اقصا" د ټولنې غړی.

۴ - د فرانسې د ليکوالو ټولنې غړی.

۵ - د اسيايي هېوادونو د نړۍ والې شاهي ټولنې غړی.

❁❁❁

## استاد کهزاد د غوره لیکوال او څېړونکي په توګه لاندې کورني او بهرني نښانونه اخیستي دي:

۱ - د رښتین د طلا نښان
۲ - دشوالیې دهنر او ادب نښان،دفرانسې دجمهوررئیس شارل دوګول په لاس.
۳ - په فرانسوي ژبه د ښې پوهې له امله د ایتالیې د جمهوررییس موسلوليني له خوا د طلا نښان.
۴ - د ایتالیوي ژبې د ښې زده کړې له امله د دغه هېواد د جمهوررییس په لاس د طلا مډال
۵ - د لویې جرګې نښان (افغانستان)
٦ - د پوهنې نښان (افغانستان)
۷ - د اریانااو خوشال ختك جایزه (پښتو ټولنه- کابل)
۸ - د ایتالي د جمهوررئیس له خوا افتخاري ډاکټري.(۲)

❁❁❁

اروانباد استاد احمد علي کهزاد له ١٦ کلنۍ د عمر د پای تر ورځې د لرغوني افغانستان د تاریخ، هنر او فرهنګ په پېژندنه ښکلا او ځلا ډېرې تیارې شپې روښې کړې، ډېرې منډې یې وهلې، ځان یې ستړی کړی او له کومې ګټې وټې پرته یې د افغانستان د تاریخي، ښو په ساتنه کې خپل اند و ژوند او به کړی دی.

د افغانستان له تاریخ سره د ده د ډېرې مینې له امله د همده په مرسته او غوښتنه له بهرنه په لسګونو او ان سلګونو لرغونپوه پلاوي او د لرغون پېژندنې د نړۍ والو ټولنو پازوال رابلل شوي، له ده سره یو ځای په شپو شپو، ورځو ورځوپه غرونو، او دښتو کې تللي او په داسې حال کې چې دسفر توښه ورسره نه وه، هلته یې ویجاړې کنډرې، تیرېږې، غونډۍ او غرونه په نښه کړي، ډېرلیکونه یې ترې راوړي، د افغانستان ملي موزیم ته یې سپارلي او بیایي قلم را اخیستی او خپل یادښتونه یې کورنیو او بهرنیو تاریخپوهانو او د افغانستان د تاریخ ټولو مینه والو ته لیکلي دي.

هغه مهال چې د ده په مرسته په کابل کې د تاریخ ټولنه جوړه شوه نود خپرونې لپاره وزته د "اریانا" نوم همده وټاکه او دا له دې امله چې دا تاریخي خاوره یو لرغونی فرهنګ او مدنیت لري، چې بویه او سمهال وساتل شي- کورنیو او بهرنیو څېړونکیو ته د اریانا نوم همده ورپه یاد کړ او په دې توګه یې د دغه ویاړلې خاورې لرغونی نوم بیاپه لیکنو کې دود کړ.

په افغانستان کې د "اریانا دایرة المعارف" د ټولنې جوړېدود نومونې چارې همده پر غاړه اخیستې وې- او د دغه ډول یوې تاریخ سازې ټولنې لپاره د لرغوني افغانستان لرغونی نوم( اریانا ) دهمده په خوښه او غوښتنه کېښوول شو چې تر ډېره به ژوندی وي.

استاد کهزاد د لرغونیو نښو د ساتنې په اړه هم ډېرې هڅې کړي، چې ځینویې ځای نه دی نیولی.

د همغه مهال چارواکو دکابل د زړې کوتوالی تاریخي ګومبزه ورانوله، استاد کهزاد ډېرې منډې ترړې وکړې، چې دا تاریخي نښه وژغوري خو ناپوهو چارواکو د ده خبروته غوږ کېښنبود.

د کندهار د چارسوق د ګومبزي د ژغورلو لپاره هم استاد کهزاد ډېرې هڅې وکړې، خو د تعصب په پردو کې نغښتو چارواکو کله د ده منله.(۳)

د کندهار د څلویښت پوړیزې(چهل زینې) موندنه د همده د زیار پایله وه، چې د ده یو شاګرد یې له دغه ډول یوه تاریخي ځایه خبر وي او دا په کابل کې هر څه پرېږدي او هلته په منډه ځان رسوي، عکس اخلي په انګلیسی او فرانسوی لرغونپوهانو یې ستمپ جوړوي، لیکنې پرې خپروی او چارواکي یې ساتلوته رابلی.(۴)

محمد اسحاق ابراهیمي د ده، د لرغونیو نښو د ساتنې په اړه یو لنډه کیسه داسې کړې ده:

"زه پر ۱۳۲۵ ل کال په کندهار کې دولتي مامور وم- هلته یو ډبرلیک و، چې د چندراکوپتا د زوی اشوکا د هندوستان د امپراتور په امر په دوو ژبو کښل شوی و. او له ۲۲۰۰ کلونو هم لرغونی و.

استاد کهزاد راغی او دواړه د دغه ډبرلیك د لیدو لپاره لاړو. دا ډبرلیك په لویه توره تیږه کې د یو په یونیم مترکچه، کیندل شوی و. خو د دغه ډبرلیك په چاپیر کې یو چاکلا جوړونه پیل کړې وه او ان تر سره یې رسولې وه. استاد د کندهار والي ته ورغی چې لږ تر لږه دغه ډبرلیك له ویجاړتیا وژغورل شي. د کندهار والي هغه ته وویل چې پروا نه کوی د دغه ډبرلیك پر سر به یوه د تراټ غټه بوجۍ زوړنده کړو چې څرگند پاتې شي. موږ هېښ شو چې اياد ډبر لیك د ساتنې لاره چاره همدا ده- اوس پته نه شته چې به دا ډبرلیك څه شوی وي. اورمرو به د کورڅښتن د خپل کاله د ورانېدو له وېرې له منځه وړی وی."(۵)

لنډه دا چې استاد کهزاد د افغانستان د تاریخي نښو د ساتنې او د دغه له ویاړه ډکې خاورې د تاریخ د څرگندولو لپاره په کورنۍ او نړۍ-واله کچه دومره هڅې کړي، چې نور خلك يې نه شي کولای.

استاد د افغانستان د تاریخ او فرهنگ په اړه نيمه پېړۍ له(۶۰) توکو-زیات علمي او تاریخي کتانونه لیکلي، چې له یوه نیم پرته یې ټول خپاره شوي دي.

د افغانستان وټییزه اوتا(اقتصادی وضعه) لکه چې څرگنده ده د بهرنیو او ان دگاونډیو هېوادونو په پرتله ډېره ټیټه وه، له همدې امله د استاد کتابونه په داسې توگه خپاره شوي، چې یوازې د خپراوۍ اټکل ترې کیدای شي. د ښکلا او ځلا او د کتابونو د بیاخپرونې په اړه يې نه یوازې دا چې چاپاملرنه نه ده کړې، لامخه يې نېول شوې ده. دا د لمړیه څېر څرگنده ده، چې په افغانستان کې دووتنو: اروانباد علامه پوهاند عبدالحی-حبیبی او اروانباد دکتور استاد احمد علي کهزاد د تاریخ او لرغونیو نښو په اړه هغه څه لیکلي چې بل هېچانه دي لیکلي. دغه دواړوتاریخپوهانو په بې پرې توگه د دغه سیمې تاریخ لیکلی او د دغه تاریخي لرغوني ټاټوبي د آرواستوگنواو وگړیو، دودونه، پېښې، جگړې او کلتوریې په کې روښانه کړي- پاتې تاریخ لیکونکیو چې څه لیکلي یایې د تعصب کالي اغوستي او یایې ځان نه دی ستړی کړی. له همدې امله ده چې زموږ گاونډي هېواد ایران د افغانستان د ډېر شمېر تاریخ لیکونکیو کتابونه په

وارو وارو چاپ او خپاره کړل، خو د استاد کهزاد کتابونو ته په ایران کې هېڅ اد خپراوی په منظور لاس ورنه وور. یوازې یو کتاب رهنمای- بامیان(دبامیان لارښود) چې ژباړه ده په ایران کې د مېشتو بامیاني فرهنګیانو له خوا بیا خپور شوی، چې دا له ارواښاد کهزاد او یاله افغاني تاریخ سره د مینې لاسوند نه شي ګڼل کېدای.

زموږ ګاونډي ایران د افغانستان د لیکوالو یوازې همهغه کتابونه خپروی چې یاخو په کې پښتنو ته ښکنځلې او بدو رد ویل شوي وي، متعصبونو لیکلي وي او یا په افغانستان کې د پښتون ولس د ونډې او برخې په اړه په کې ځان تېرېدنه شوي وي او په دې اړه هډو په کې چاڅه نه وي لیکلي.

استاد کهزاد له دري ژبې پرته په ایټالوي، فرانسوي، پښتو او نو- رو ژبو ډېر ښه پوهېده او په دغو ژبویې کتابونه هم خپاره شوي، خو دا چې دري یې مورنی ژبه وه، ځکه نو د ده ټول شته اثار په همدغه ژبه دي او په پښتو ژبه یې یوازې دوه ټوکه(دافغانستان پخوانی تاریخ) او یوه نیمه بله لیکنه شته چې له دې امله د استاد د کتابونو د پښتو کونې په اړه ډېره اړتیارامنځته ده.

اوس غواړم د استاد ټول خپاره شوی کتابونه او لیکنې په لنډه توګه تاسې ته دروپېژنم خو څرنګه چې کتابونه زیات شمېر په دري ژبه دي، ځکه نو ورسره د ژبې نوم نه لیکل کېږي او یوازې څرنګوالی یې په پښتو لیکو. هغه کتابونه چې له دري پرته به نورو ژبو دی له هغو سره د هرې ژبې نوم کښل کېږي.

# داستاد احمد علی کهزاد خپاره شوي کتابونو او لیکنې

## لومړی: کتابونه

### الف :لیکنې

### ۱ - بګرام

د استاد کهزاد لومړی کتاب دی، چې پر ۱۳۱٦ کال د کابل د ادبي انجمن له خوا په عمومي چاپخونه کې په کوچنی کچه خپور شوی او لکه چې له نامه یې څرګندیږي په(۹) څپرکو کې د بګرام جغرافیه، د بګرام اوسنی کنډرې، بګرام او ملي کیسې، بګرام او د کاپیسا نورې سیمې تر اسلام وړاندې کیسوکې، بګرام او خواوشا سیمې په بودایي پېر کې، بګرام په کوشاني پېر کې، د بګرام مزدکو نه د بګرام سیاسي او تجارتي حالت، په بګرام کې تر سره شوې سپړنې، په کې څېړل شوي دي.

دا لیکنه د کابل مجلې د اووم (۱۳۱٦) کال په دوو وروستیو او د اتم کال(۱۳۱۷) په لومړنیو(٦) ګڼو کې هم خپره شوې ده.

### ۲-مسکوکات قدیم افغانستان:

(دافغانستان پخوانۍ سیکې)

لومړی ځل د افغانستان د۱۳۱٦ کال کالنۍ په (۳۰۱-۳۴۰) مخونو کې خپور شوی او بیا پر۱۳۱۷ کال په عمومي چاپخونه کې په ځانګړې توګه چاپ شوی چې(۴۰) مخونه لري او یو شمېر عکسونه هم ورسره مل دی.

د لیکنې په پیل کې د سیکو پر ارزښت رڼا اچول شوې او بیا په لرغوني پېر کې د سیکو د رامنځته کېدو اړتیاپه کې ښوول شوې او هم ویل شوی، چې په لرغونیو پېرونو کې سیکې څه ډول کارېدې. د دغه برخې په پای کې د افغانستان لرغونې او تر اسلام مخکې سیکې راپېژني، چې د یونان- باختری پېر، سکایي واکمنو، د کندهار او سیستان د پهلوانانو،

د کوشاني واکمنو، د هیطالي واکمنو، دکوچنیو کوشانی واکمنو او کابلشاهانو په اړه په کې اوږدې خبرې شوي دي. همدا رنګه په کې د سیکو ډولونه، کچه، تول، مهال او دوه اړخیزې جولې او نور ښوول شوي دي.

## ۳- مردان پارو پامیزاد

(د پارو پامیزاد میړني)

دا یو تاریخي ډرام دی، چې په څلورو پردو کې د پارو پامیزاد(هندوکوش) په شاوخوا کې د سکندر نښتې او افغانستان د لرغونیو وګړیو میړانې په کې ښوول شوي. همدا رنګه د ځینو یوناني ځایونو او نومونو په اړه وییپانګه هم لري. داکتاب پر ۱۳۱۸ل کال په ۶۴ مخونو کې په عمومي چاپخونه کې چاپ شوی دی.

## ۴- امپراتوري کوشان:

(د کوشانیانو امپراتوري)

دپښتو ټولنې له خوا په(۵۳) مخونو کې په لویه کچه خپور شوی دی. چې لومړی ځل پر ۱۳۱۷ کال په افغانستان کالنی کې هم چاپ شوی دی. دا کتاب د کوشاني امپراتورۍ هر اړخیزه څېړنه ده، چې د ده دخپلوهڅو پایله په کې انځور شوې ده.

په دې کتاب کې د کوشاني پېر(۶۰۰) کلنه واکمني د افغانستان د یوې لرغونې واکمنۍ کورنۍ په توګه د دوی د رامنځته کېدو لارې چارې، د دوی د واکمنۍ ځایونه، د دوی اقتصادي او ټولنیزه او تا(حالت) د دوی پوهه او ګروهه په کې څېړل شوي دي.

## ۵- مسکوکات افغانستان در عصراسلام:

(په اسلامي پېرکې دافغانستان سیکې):

د تر اسلام مخکې د افغانستان سیکې) کتاب دویم ټوک دی، چې پرې لیکل شوي نه دي، خو لیکوال دا د هماغه مخکینۍ څېړنې بشپړونه او دویمه برخه بولي.

دا کتاب په منځنۍ کچه پر ۱۳۱۹ کال د پښتو ټولنې له خوا په(۵۰۰) مخونو کې خپورشوی چې دا برخې په کې څېړل شوي.

د سامانیانو، غزنویانو، تیموریانو او هوتکیانو سیکې په هند، ایران او افغانستان کې د دُراني پاچاهانو د سیکې وهلو ځایونه، د تیمور شاه، زمان شاه، د شاه محمود دوه ځلي واکمنی، شاه شجاع، قیصر شاه، شاه نورالدین، ایوب شاه، کامرانشاه، دمحمدزی پاچاهانو: امیردوست محمد خان، د امیر شیر علیخان د دوځلي واکمنی، امیرمحمداعظم خان، امیر محمدیعقوب خان او امیر عبدالرحمان خان د سیکو څیړنه او سپړنه ده، چې ورسره د سیکو دولونه، کچه، د وهلو ځای، پرمخ وشتې لیکنې او ځینې نورې ځانګړتیاوې هم ښوول شوي دي.

## ٦- رتبیل شاهان:

په(۱۸) مخونو کې د افغانستان د تاریخ د عمومي مدیریت له خوا په منځنۍ کچه خپور شوی، چې لومړی ځل د افغانستان کالنۍ په ۱۱ مه ګڼه (۱۳۲۱) کې هم چاپ شوی دی. په دغه کتاب کې: د رتبیل نوم، د واکمنۍ سیمه، د افغانستان د تاریخ په لړۍ کې د رتبیلي واکمنو ځای، عربي لښکر او رتبیلي واکمنو په دغه کوچني کتاب کې له اسیایي اخځونو پرته له ګڼ شمېر اروپایي اخځونو هم ګټه اخیستل شوې ده.

## ۷- آریانا:

لومړی ځل د کابل مجلې په پرله پسې( ۹۸) مه ګڼه(۹ کال - ۱۳۱۸) کې خپور شوی، وروسته لیکوال له دغه لیکنې یو اوږده څیړنه جوړه کړې او بدلون یې په کې راوستی، چې په ۱۴۸ مخونو کې د تاریخ عمومي مدیریت له خوا په منځنۍ کچه پر۱۳۲۱ ل کال خپور شوي. په دې کتاب کې دا څېړل شوي دي:

د آریا آرځای، آریاویې په واوېستاکې، په یو شمېر نومونو کې د آریا ریښه، آریااو د یونان کلاسیک لیکوال، آریانا ولایت، د آریانا استوګن، د آریانا ښارونه، آریانا او د اروپا د ۱۸ مې او ۱۹ مې پېړۍ لیکوال او ورسره د دې په شاوخواکې نوره څیړنه.

**۸-شاهنامه ومقایسهٔ میان بعض پهلوانان آن واوستا:**

(په شاهنامه او اوبستاکې د ځینو یادوشویو پهلوانانو پرتلنه)

په ۱۸ مخونو کې په لویه کچه دافغانستان د تاریخ عمومي مدیریت له اړخه چاپ شوی دی.

په دې رساله کې د اوبستا پهلوان" یاتکار، زریران" او "خواتای نامك" او داسې نور په شاهنامه کې له راغلیو پهلوانانو سره پرتله شوي دي.

**۹ - تاریخ افغانستان**

(د افغانستان پخوانی تاریخ)

په( ۴۹۵ +۱٦=۵۱۱) مخونو کې د افغانستان د تاریخ ټولنې له خوا په لویه کچه په پنځو ځپرکو کې پر ۱۳۲۲ کال چاپ شوی او دا سرلیکونه په کې څېړل شوي دي:

لومړی برخه : دافغانستان تر تاریخ وړاندې پېرته کتنه

دویمه برخه : اریا د باختری هندو اروپایي او ویدي مدنیت یو برخه

درېیمه برخه : اوېستایي مدنیت

څلورمه برخه : دپردیو(هخامنشیانو) واکمني

پېنځمه برخه : موریا واکمني.

د افغانستان د پخواني تاریخ دا لومړی ټوك د تاریخ ټولنې له خوا په ۵۳۵ مخونو کې پر ۱۳۳۴ کال د ښاغلیو محمد یونس مراد، عتیق الله معروف، غلام جیلاني جلالي او استاد قیام الدین خادم له خوا په پښتو ژبه هم ژباړل شوی او خپور شوی دی.

**۱۰-تاریخ افغانستان:**

(دافغانستان پخوانی تاریخ:)

دویم ټوك

پر۱۳۲۵ لمریز کال په(۶۰۰) مخونو کې د افغانستان د تاریخ ټولنې له خوا زر ټوکه چاپ شوي او دا برخې په کې راغلې دي:

د یونانو باختری له خپلواك سلطنت نه(۲۵۰مخزیږدی) تر د

کابلشاهانو دواکمنۍ ترپایه.
د اسلام د سپڅلي دين خپرېدنه.په (۹) څپرکوکې په کې څېړل شوې، چې د لومړی توك په پرله پسې څپرکوپسې راغلي دي.
دا کتاب په ۶۱۱ مخونو کې پر ۱۳۳۷ ل کال د محمد یونس مراد، پاینده محمد زهیر، استاد قیام الدین خادم، غلام جیلاني جلالي، محمد ابراهیم ثابت، پوهاند صدیق الله رښتین او عبدالباقي باغوانیوال په ژباړې په پښتو هم چاپ شوی دی، چې لومړی چاپ یې د چاپخونې د سوزېدا په پېښه کې له منځه تللی او دویم ځل پر۱۳۳۹ کال بیا خپور شوی دی.

## ۱۱- کنښکا:

لومړی ځل د افغانستان کالنۍ په۱۴ مه گڼه(۱۳۲۴-۱۳۲۵) کې خپور شوی او دویم ځل د تاریخ ټولنې له خوا په۳۴ مخونو کې په وړه کچه او دریم ځل په(۴۰) مخونو کې د اطلاعاتو او کولتور وزارت له خوا(۵۰۰) ټوکه خپور شوی دی.
د دغه کتاب په لومړی برخه کې په افغانستان کې یو شمېر لاسته راغلی پیسې او له کوشانی پیسو سره د هغوی اړیکې، په دویمه برخه کې د یوچیانو د مهاجرت په اړه، چې د بتتیانو یوه څانگه ده، څېړنه شوې ده.
وروسته دکوشاني کهاله دیوې کورنۍ کدفیزس(۴۰-۱۲۰ز) او دکنیشکا(۱۲۰-۲۶۰ز)د کهاله په اړه خبرې لري.

## ۱۲-ادبیات افغانستان در ادوار قدیم:

(په لرغوني پېرونو کې د افغانستان ادبیات)
دا د ښوونځیو د دوولسمو ټولگیو ښوونیز کتاب دی، چې له(۴) نورو لیکوالو سره په گډه لیکل شوی، په عمومي چاپخونه کې چاپ او(۴۰۸) مخه لري.
د دغه کتاب د لرغونیو ادبیاتو برخه د اروانښاد کهزاد له خوا په(۹) څپرکو کې لیکل شوې او هندو اروپایي ژبې، ویدي ادب، اوېستایي ژبه او ادب، لیکدود، په افغانستان کې د یونان فرهنگي او ادبي نفوذ،

پهلوي ژبه او ادب، بودايي کوشاني ادبيات، پهلوي ساساني، دري او پښتو ژبې په اړه څرګندونې په کې راغلې دي.

**۱۳-افغانستان و ايران:**

(افغانستان او ايران)

پر ۱۳۳۰ کال استاد کهزاد امريکا ته تللی، د بېرته راتلو پر مهال څو ورځې په تهران کې هم و، چې هلته يې د ايران په ملي موزيم کې يو کانفرانس ورکړ. د دغه کنفرانس د وينا کتابي بڼول دا کتاب دی چې:

د ايراني او افغاني ولس ګډې سرچينې د افغانستان او ايران په سهيلي ساحلونو، د خزر او د جله رودونو پر غاړو د دوی مېشتېدنه او نورې لرغونې پېښې په کې څېړل شوې دي.

دا کتاب په وړه کچه د مظاهري چاپخونې له خوا په ۳۷ مخونو په ايران کې خپور شوی دی.

**۱۴-به يادبود جشن هزارمين سال تولد**

**شيخ الرئيس ابوعلی ابن سينابلخی**

(د شيخ الرئيس ابوعلی ابن سينابلخی د

زوکړې د زرمې کاليزې په ياد)

د افغانستان تاريخ ټولنې پر ۱۳۳۱ کال د ابن سينا د زوکړې د زرمې کاليزې په وياړ يوه غونډه جوړه کړې، چې د دې په وياړ دا کتاب په ۲۸ مخونو کې چاپ شوی چې(۴) مخه ورسره د محمد ابراهيم خليل يو بولله هم خپره شوې ده.

په دغه رساله کې د ابن سينا د زوکړې، زده کړې، او نور ژوندانه په اړه څرګندونې شوي دي.

**۱۵-ګلدسته عشق:**

(د عشق ګل ګېډۍ)

د مولاناجلال الدين بلخي د اووسووم تـلين په وياړ کوچنۍ ۱۴ مخيزه رساله ده، چې د ده د دوه ايزې منتخبات په کې راغلي- د ده د

مثنوي دا ټاکنې استاد کهزاد کړې او یوه سریزه یې هم پرې لیکلې ده.

## ۱۶-در زوایای تاریخ معاصر افغانستان

(د افغانستان د اوسمهالي تاریخ په ګڼډوکې)

پر۱۳۲۷ ل کال لیکل شوی او پر ۱۳۳۱ کال د افغانستان د تاریخ ټولنې له خوا په۱۴۲ مخونو کې خپورشوی دی.

دا کتاب په(۹)څپرکو ویشل شوی او داسر لیکونه په کې څېړل شوي دي:

د بارکزیو او سدوزیو مرسته او رقابت، په کشمیر کې افغاني واکمن، د غزني کلابندي، دکابل تش پاتې کېدل او د جلال اباد پر لور د الفنسټن یون، د شاه شجاع د وژنې په ګڼډوکې، د امیر دوست محمد خان د امارت لومړي کلونه او...

دا کتاب په انګلیسي ژبه په۱۴۴ مخونو کې د اقبال علی شاه په ژباړه هم د تاریخ ټولنی له خوا پر همدغه کال چاپ شوی دی.

د دري متن دویم چاپ پر۱۳۷۶ کال په پېښور کې د دانش کتابتون له خوا خپور شوی دی..

## ۱۷-رجال ورېداد های تاریخي:

(تاریخي پېښې او شخصیتونه)

په ژوندون مجله کې د(۱۳۲۸-۱۳۳۱)کلونو تر منځ د استاد کهزاد یو شمېر لنډې تاریخي لیکنې خپرې شوې، چې د تاریخ ټولنې په غوښتنه له دغه لیکنو (۴۶) سرلیکونه انتخاب شوي او لیکوال بیاپه کې ګوتې وهلې او په ۱۴۶ مخونو کې(۴۶) سرلیکونه په کتابي ډول چاپ شوي دي.

د دغه کتاب لیکنې د احمد شاه بابا له مهاله تر امیرشرعلي خان پورې د افغانستان د واکمنو او په واکمنیو کې د یو شمېر غوره شخصیتونوپېژندنه او تر سره کړې چارې راپه ګوته کوي.

دا کتاب پر۱۳۷۶ د دویم ځل لپاره په پېښورکې د دانش کتابتون له خواهم خپور شویدی.

### ۱۸- روابط فرهنگی افغانستان وهند:

(د افغانستان او هند فرهنګي اړيکي)

استاد کهزاد پر۱۳۳۳ل کال د دریم ځل لپاره هند ته تللی و او هلته یې د افغانستان د تاریخي نښو د کلکسیون یو ننداړتون هم پرانیستی و، چې هلته یې په دغه اړونده غونډه کې په انګلیسي ژبه وینا اوروله، چې دري متن یې په لنډیز سره دافغانستان په اریانا مجله کې هم خپور شو. دغې انګلیسي ویناد هند او افغانستان پر خپرونو ښه اغېز ښندلی و، له همدې امله په یوه وړه رساله کې انګلیسي او دري دواړه وینا په لیکلي توګه چاپ شوې ده.

### ۱۹- لښکر ګاه:

په۱۵۲ مخونو کې د افغانستان د تاریخ ټولنې له خوا په منځنۍ کچه(۱۰۰۰) ټوکه چاپ شوی دی.

دا کتاب د استاد کهزاد د هغو پلټنو ګزارش او یاد ښتونه دی، چې له فرانسوي پلاوي سره یې یو ځای پر۱۳۲۷-۱۳۲۸-۱۳۳۰ کلونو د بست په لښکر ګاه کې کړې وې. د ده په دغو پلټنو د لښکرګاه ورك ښار وموندل شو او دا نوم په عاموخولو کې ولوېد لو د کارونې وړوګرځېد.

په دغه کتاب کې لس سر لیکه راغلي:

لښکرګاه څه ډول او څه وخت وموندل شوه؟

- د لښکرګاه سپړنې
- لښکرګاه اوبست د فرخي په اند
- د لښکرګاه سلطنتي ماڼۍ د ملك الشعرا استادعنصري په اند
- د هلمند د اوبو پر سر ببرې چلونه
- د لښکرګاه د ماڼۍ دیوالي انځورونه
- دلښکرګاه سلطنتي لوي جومات...
- ښکار او غزنوي واکمن
- په لښکر ګاه کې د مسعود لنډمهالی ژوند
- د لښکرګاه پیل، لوړوالی او له منځه تګ

۲۰- از سروبي تاأسمار:

(له سروبي تر اسماره)

پر۱۳۳۴ کال په۲۷ مخونو کې د افغانستان د تاریخ ټولنې له خوا چاپ شوی او د استاد کهزاد د(۲۸۰) کیلومتره سفر گزارش دی، چې د افغانستان ختیزو ولایاتو ته یې کړی و.

په دغه کتاب کې د لغمان او کونړ ولایتونو په جغرافیه، تاریخي نومونو اوځایونو او دلرغونیو نښو په اړه څرگندونې شوي دي.

۲۱ بالا حصار کابل و پیشامد های تاریخي:

(کابل بالا حصار او تاریخي پېښې)

« لومړی ټوک »

په(۳۱٦) مخونو کې د افغانستان د تاریخ ټولنې له خوا په لویه کچه خپور شوی دی. په دغه کتاب کې د کابل د نومه ونې، تاریخي دیوالونو، اړونده کیسو، د کابل له بېلابېلو سیمو تر لاسه شوې لرغونې نښې، د کابل پلازمېنه کېدنه، د کابل د نیولو لپاره د بېلابېلو مهالونو واکمنو هڅې او نورو په اړه څرگندونې شوې دي.

۲۲ بالاحصارکابل و پیشامد های تاریخي:

(کابل بالاحصار او تاریخي پېښې)

« دویم ټوک »

په ۴۴۰ مخونو کې د افغانستان د تاریخ ټولنې له خوا په لویه کچه خپور شوی، چې د پورتني کتاب دویم ټوک دی. په دغه ټوک کې له۱۱۵۱ لیږدیز لمریزنه تر د محمد یعقوب واکمنی د انگلیسي جنرال رابرت په هڅه د بالاحصار د سوزیدو (۱۲اکتوبر ۱۸۷۹) او د کابل د اوسمهالی ارگ تر جوړیدو، چې د بالاحصار پرځای د واکمنی منځی شو، پېښې څېړل شوي دي.

## ۲۳-افغانستان در پرتو تاریخ:

(افغانستان د تاریخ په رڼاکې)

دا کتاب په۲۸۴ مخونو کې پر۱۳۴۶ کال د کتاب چاپولو موسسې له خوا په لویه کچه خپور شوی دی.

په دې کتاب کې د استاد کهزاد هغه ۱۱۴ سرلیکه لیکنې راغلي، چې هغه په افغانستان راډیو کې یو ځل لوستي- البته په راډیو کې د استاد اورولې لیکنې ډېرې وې، خو دا له هغوي ټاکل شوي او تمه وه، چې نورې به یې هم په ګانده کې چاپ شي، خو تر اوسه نه دي چاپ شوي.

دا کتاب د افغانستان د تاریخي ځایونو د نومونو، مزدکونو او لرغونیو واکمنو په اړه ګټوره څېړنه ده، چې څوسر لیکه یې د بېلګې لپاره دلته لیکو:

- د ارغنداب او هیرمند سیمه د تر تاریخ وړاندې ژوندانه یو منځی.
- د جغرافیایي یادښتونو له پلوه ویدي سر ودونه او افغانستان.
- د افغانستان موسیقي.
- زردشت او له اسپه کهاله سره د هغه اړیکي.
- د اوېستا له نظره د افغاني خاورې لرغونتوب.
- په افغانستان کې د سکندر تګلاره.
- په لرغوني افغانستان کې د یوناني لیکدود د ودېدنه.
- په افغانستان کې د بودېزم خپرېدل.
- کنېشکا د تاریخي امپراتورۍ واکمن.
- د افغانستان پر لوري د وریښمو دلارې دریځ.
- د کابل د خواوشاه بودایي مزدکونو پایځوړ.
- د کابل لرغوني دېوالونه.
- بامیان د ګرځېدا لپاره.
- د هندو کوش فرهنګ.
- چغان تپه یا اوسنی چغه سرای او نور.

## ۲۴-فروغ فرهنګ:

(د فرهنګ رڼا)

په۵۲ مخونو کې په لويه کچه ليکلی کتاب دی، چې لومړی ځل په انيس کالنی او بيا په ځانګړې توګه چاپ شوی دی.

دا کتاب په افغانستان کې د فکري او کلتوري مدنيت رامنځته کېدل څېړي، چې له لرغونيو پېرونو تر(۷) زېږدي پېړۍ پورې په کې څېړنه شوې ده، په دې اړه تر اوسه هېڅ آن کومه مقاله هم نه ده ليکلې، د دې کتاب څېړنه د ايتالوي، فرانسوي، امريکايي او نورو بهرنيو لرغونپوهانو په لاسوند تابه شوې ده، چې هغوی په بلخ، باميان، پغلان، سمنګان، د سيستان شاوخوا، ارغنداو او هيرمند، منډيګك، غزني، هډه، بګرام صوف دره، قره کمر او نور ځايونو کې پلټنې کړي او ده د هغوی په رڼاکې د افغانستان فرهنګ څېړلی دی.

## ۲۵-سپرلو:

يو کوچنی کتاب دی، چې پر۱۳۴۶ کال په"۲۲" مخونو کې د کتاب چاپولو موسسې له خوا په کوچنی کچه خپور شوی او د افغانستان د لرغونيو لوبو لکه بزکشي، نيزه وهنه، اربوجوړونه او نورو په اړه په کې څېړنه شوې ده.

همدا رنګه دا رساله دا رابنيي چې په افغانستان کې اسونه څه وخت انسان رام کړي، لومړی چېرته له اسونو کار واخيستل شو او اسونو په افغانستان کې څومره ارزښت درلود؟

## ۲۶-شابهار:

په۲۰ مخونو کې پر۱۳۴۶ کال د کتاب چاپولو موسسې له خوا په کوچنی کچه خپور شوی، چې څو عکسونه هم ورسره يو ځای دی.

د دې کتاب په منځپانګه کې دا لولو چې د غزني د شابهار مزدك څه وخت وموندل شو، چا وموند او څرنګه يې وموند. شابهار مزدك د غزني

د شابهار دښتې په منځ غونډۍ کې، چې سردارغونډۍ او نغاره غونډۍ هم ورته ویل کېږي، دهغه مزدك نوم دی، چې د سلطان محمود غزنوي پلازناستې ځای و او د غزنویانو د دوه سوه کلنې واکمنۍ منځی و. خو پر لرغونیو وختونو دا له آره یو بودایي مزدك و، چې د راهبانو او ګرځندویانو لپاره یې تر ځنګ د استوګنې خونې او دېرې هم لرلې. د ستاسو په لاس کې کتاب لومړی برخه د همدغه کتاب پښتو ژباړه ده.

## ۲۷ تاریخ برای صنف هفتم

( تاریخ د اووم ټولګي لپاره)

په منځنۍ کچه په۱۴۴ مخونو کې د افغانستان د ښوونې او روزنې وزارت له خوا پر ۱۳۵۰ کال چاپ شوی، چې له دغه کال مخکې هم درې ځل څو زره ټوکه چاپ او خپور شوی او دایې څلورم چاپ دی.

دا کتاب پر۱۳۵۵ کال په پښتو ژبه هم په۱۳۲ مخونو کې د ښوونې او روزنې وزارت له خوا خپور شوی، خو ژباړن یې څرګند نه دی کېدای شي پخپله استاد پښتو کړی وي.

دا کتاب په درې برخو کې د افغانستان لرغونی تاریخ دی، چې له تاریخ وړاندې پېرنه تر د اسلامی دین راتګه پورې مهال په کې څېړل شوی دی.

## ۲۸-درفش ملی جمهوریت

اد جمهوریت ملي بیرغ)

په منځنۍ کچه په۳۶ مخونو کې پر۱۳۵۴ کال دبیهقي کتاب خپرولو موسسې له خوا خپور شوی دی.

دا کتاب په افغانستان کې د بیرغ تاریخچه ده او دایې په کې څېړلي چې د افغانستان ملي بیرغونه پر کوم مهال کوم یووو- او همدارنګه د دوی رنګونه او څرنګوالی په کې څېړل شوی دی.

## ۲۹-افغانستان در شاهنامه:

(افغانستان په شاهنامه کې)

دا کتاب د بيهقي کتاب خپرولو موسسې له خوا په۱۱۴ مخونو کې په دولتي چاپخونه کې په منځنۍ کچه خپور شوی دی.

شاهنامه د فردوسی هغه کتاب دی چې(۶۰۰۰۰) بيتونه لري او په ۳۵ کلو کې بشپړ شوی، چې د غزنوی پېر د امپراتور سلطان محمود غزنوي په امر او غوښتنه ليکل شوی و.

استاد کهزاد شاهنامه لوستې او د افغانستان په اړه يې په کې راغلي بيتونه په نښه کړي او بيايې پرې څېړنه کړې ده.

په دې کتاب کې ۱۲ سرليکونه راغلي، چې تر هر سرليک لاندې د شاهنامې تر بيتونو وروسته څېړنه او ګروېږنه شوې. د دغه کتاب ځينې سر ليکونه دا دي.

البرز کوه او سيمرغ، رودابه د کابل خدای لور،د دقيقی بلخی شاهنامه، لهراسپ د بلخ واکمن، په بلخ کې د ګشتاسب واکمني، همدارنګه د افغانستان او افغان د لرغونې کلمې په اړه هم پر زړه پورې ځروګندونې په کې شوي دي.

## ۳۰-غربنت ياګرشاسپ:

پر۱۳۵۵-۱۳۶۰ کلونو په۸۸۲ مخونو کې په منځنۍ کچه(۱۵۰۰) ټوکه خپور شوی دی.

دا کتاب د چاپ کال نه لري، خو د ليکونکي د سريزې په پای کې چې د کتاب په سر کې راغلې(۱۳۵۵) کال ليکل شوی دی.

ګرشاسپ نامه د حکيم ابونصر علی بن احمد اسدی طوسي منظوم کتاب دی، چې (۱۰۰۰۰) بيتونه لري او پر۴۵۸ س.ل کال ليکل شوی او د غربنت د سفرونو، پهلوانيو او هنر ښوونې په اړه په کې خبرې راغلې دي.

استاد د دغه کتاب يو شمېر تاريخي بيتونه را اخيستي او څېړنه يې پرې کړې ده او دايې ثابته کړې چې ګرشاسپ هماغه پښتون غربنت دی

چې پراسلامي پېر افغانستان کې و. په ګرشاسبنامه کې راغلي"اترت" او"سرند" يې"بتن" او "سړبن" ښوولی چې يوه پر زړه پورې څېړنه ده.

خو ښاغلی حسين نايل په"کهزاد وپژوهشهای او" کتاب کې د تعصب په ناله راغلی او داسې يې ليکلي:

"غرغښت ياګرشاپ" که در انشای ان ونيزګاهی در املای ان نشانه های سستی وبی حرکتی انګشتان کهزاد به مشاهده ميرسد از اخرين اثر های او ميباشد که توانسته بود بنويسد....

تحرير کهزاد در اثر مورد ګفتګو، ضعيف و نا رسا و نامنسجم ميباشد که اين امر ناشی از ضعف جسمی و ناتوانی انګشتان اوست، دريغ و درد که او درين هنګام ان توانايي و حال را نداشت که تحليل اشعار ګرشاسبنامه را به مانند کتابهای ديګر خود به انشای رساو زيبا به نګارش بياورد."

ژباړه: غرښت يا ګرشاسپ چې کله يې په املا او کله يې په انشا کې د کهزاد د ګوتو سستي اوناخوځند توب ښکاري، د ده وروستی ليکلی کتاب دی...

په بيان او خبرو کې د کهزاد ليکنه کمزورې ناسمه او بې نظمه ده چې دا د ده د ګوتو د کمزورۍ اغېز دی، کاشکې چې دی دغه مهال جوړوی او د ګرشاسبنامې شعرونه يې لکه د خپلو نورو مخکينو کتابونو په څېر ښه څېړلي وای.

دی بياوړاندې ليکي:

"ګر چه کهزاد يکی بودن ګرشاسپ وغرغښت را نتيجه خوابی ميداند که ديده است و به هيچ وجه عالمانه و مطابق معايير تحقيق نيست و...."

ژباړه:

سره له دې چې کهزاد د ګرشاسب او غرښت يووالی د هغه خوب پايله بولي، چې ده ليدلی او دا کار هيڅ مهال د تحقيق له مېتود سره برابر نه دی او....(٦)

ښاغلی نايل د تعصب قلم په لاس هغه مهال، چې استاد

کهزاد "زبان تخاري، زبان اصلي، اهلی باختر وتخارستان" ليکي او تخاري ژبه ايراني ګڼي (افغانستان در پرتو تاريخ ۱۸۵ مخ) د کهزاد د ګوتو سټتي او خوب ليدنه نه ګڼي، خو چې اروانښاد استاد کهزاد کله د غرښت او ګرشاسب د يو والي خبرې کوي دا مهال ورته کهزاد ناروغه او ناپوهه ښکاري. دا ښاغلی د استاذ کهزاد بل يو کتاب هم د املا او انشاله لوري ضعيف او ناسم نه بولي، يوازې همدا کتاب بولي او دا ځکه چې ده د افغانستان د يوه تر ټولو لوی ټبر او تر ټولو لويې ژبې په اړه پخه او ژوره څېړنه کړې ده.

د ښاغلي نايل په اند افغانستان يوازې د دري ژبو کور دی او پښتانه، نه خو د دغه ځای پخوانی اِستوګن بايد وبلل شي او نه د دغه ډول يو پرتمين فرهنګ څښتنان. ښاغلی نايل په دا ډول خبرو غوښتي، چې په افغانستان کې له لرغونيو پېرونو تراوسه دوروڼو قومونو او ژبو تر منځ د جلا توب کرښه راکاږي؛ يوه لوړه وښيي اوبله ټيټه. خو دی له دې نه دی خبر چې لکه په څرګنده توګه چې له داڅو پېړيو راهيسې يوازې پښتنو د ټول افغانستان د ننګ او غيرت شمله اوچته کړې پر لرغوني مهال هم د همدوی نيکونه وو، چې د دغې خاورې ننګيالي بلل کيږي. ايا دابه ريښتني وی چې د احمد شاه بابا په څېر ننګيالی مېړنی چې د خپلو متو په زورې يوه امپراتوري جوړه کړې وه- له بل ځايه راغلی وي او دهغه قام به دلته هېڅ ډول تاريخ، ژبه او غځېدلې ريښې ونه لري!؟

دا کتاب ترچاپ وروسته د همدغه نايل او د ده دنورو اندېوالانو او ايران پلوه متعصبينو او ان پخپله له ايرانيانو له خوا په داسې حال کې چې (۱۵۰۰) ټوکه چاپ شوی وو له بازاره ټول او ورك شو، چې ارومرو به سوزول شوی وي. او اوس يې يوازې ۳-۴ ټوکه راپاتې دي چې په دوربين کې نه ليدل کيږي.

پر دغه کتاب د متعصبينو له خوا د بې ځايه شکونو او اړنګونو په اړه ځانګړيو ليکنو ته اړتيا ليدل کيږي، چې داځای يې د څېړنې نه دی، پورته خبرې يوازې يوه يادونه وه.

### ۳۱-زمانشا و فعالیت دستگاستعماری:

(زمانشاه او د ښکیلاکي دستګا ګوتوهنې)

په لویه کچه په ۲۸ مخونوکې د پښتو نستان د ورځې په ویاړ پر۱۳۲۹ کال د کورنیو خپرونو د مدیریت له لوري چاپ او خپور شوی.

همدا کتاب پر۱۳۲۹ کال په افغانستان کالنۍ کې هم خپور شوی دی.

دا کتاب د زمانشاه واکمنۍ(۱۲۰۷-۱۲۱۵ل) پر پېر د ده اندوژوند، سهوې او د افغانستان په کورنیو چارو کې د ختیز هند د کمپنۍ په مرسته د انګرېزي ښکیلاکي دستګاه پر ګوتوهنو پر زړه پورې خبرې لري.

### ۳۲-رهنمای بامیان:

(د بامیانو لارښود)

په(۵۰) مخونو کې د بامیانو د تاریخي سیمې لار ښود دی، چې په منځنۍ کچه دافغانستان د تاریخ ټولنې له خوا پر۱۳۳۴ کال(۵۰۰) ټوکه خپور شوی دی.

په کتاب کې: د ګرځندویانو په اند د بامیان ارزښت، د بامیان د تاریخي او جغرافیایي جوړښت لنډیز- د نوموړي لامل، لوېې او کوچنۍ پڅې، غلغله، ضحاك او سرخك ښارونه، پولادې درې، ککرك اواهنګران، د ګرځېدو وړ سیمې، بند امیر، بامیانو ته د تګلارې، دتګ مهال او نور راغلي دي.

# د استاد کهزاد سیاسي لیکنې:

اروابناد استاد کهزاد د تاریخي لیکنو تر څنګ یو شمېرسیاسي لیکنې هم لري، چې ځینې یې د کتابګوټو په جوله په کوچنۍ کچه خپرې شوې هم دي. هسې خو به استاد په ورځنیو اخبارونو او خپرونو کې ډېرې سیاسي لیکنې کړې وي، خو هغه د کتابونو یارسالو په جوله د چاپ ډګر ته نه دي راوتلې او د هماغې ورځې په تېرېدو په خپرونو کې ساتل شوي دي.

خو هغه چې دکتابګوټو په شکل د ده په نامه خپرې شویدي، دلته به په لنډه تو ګه دروپېژندل شي:

دا باید هېره نه شي، چې د ده سیاسي لیکنې هم په پخپله د معاصر تاریخ یوه برخه ده.

## ۳۳- حدود نفوذ سیک در اینطرف اباسین:

(د اباسین دې غاړې ته د سیکانو د پرمختګ بریدونه)

په۱۲ مخونو کې د کورنیو خپرونو د مدیریت له لوري په کوچنۍ کچه خپور شوی دی، چې د ځېړنې سکالویې له نامه څرګندیږي.

## ۳۴- دعوای امیر دوست محمد خان باانګلیس ها درمورد قبایل سرحد:

(دسرحد دقبایلوپه اړه له انګریزانو سره دامیردوست محمدخان دعوه)

په لسو مخونو کې د کورنیو خپرونو د مدیریت له خوا په کوچنۍ

کچه خپور شوی دی.

**۳۵- اختلاف بین افغانستان و پاکستان از نظر سرجارج کنگهم:**

(دسرجارج کنګهم په اند د پاکستان او افغانستان تر منځ اختلاف)

په(۲۰) مخونو کې په کوچنۍ کچه پر۱۳۲۹ ل کال خپره شوې.

د همدې رسالې لنډیز په پښتو ژباړه هم د کورنیو خپرونو د مدیریت له خوا خپور شوی دی.

**۳۶- سیاست خارجی پاکستان**

(د پاکستان بهرنی سیاست)

د سرویلیم بارتن په قلم لیکل شوې رساله ده، چې استاد کهزاد ژباړلې،څرګندونې یې پرې لیکلې او د کورنیو خپرونو د مدیریت له خوا پر۱۳۳۰ کال په(۱۰) مخونو کې په کوچنۍ کچه خپره شوې ده.

**۳۷-امیر شیرعلی خان در مقابل سیاست انگلیس:**

(امیر شېر علی خان د انګریزي سیاست پر وړاندې)

د انیس ادارې له خوا په(۸۰) مخونو کې په لویه کچه پر۱۳۳۰ کال خپور شوی کتاب دی، چې له امیر شېرعلی‌خان سره د انګرېزانو له چالونو نه په کې پرده پورته شوې ده.

**۳۸-افغانستان درمجاورت هند:**

(افغانستان په هند ګاونډیتوب کې)

د کورنیو خپرونو د مدیریت له خوا په(۹) مخونو کې په کوچنۍ کچه خپور شوی دی.

**۳۹- اعلان ریچاداونیو قیام سرحد در۱۸۹۷:**

(پر ۱۸۹۷ د ریچاداودني خبره ونه او د سرحدي خلکو پاڅون)

د کورنیو خپرونو دمدیریت له خوا په(۸) مخونو کې خپور شوی دی.

**۴۰- در تجسس خط سرحدي:**

(د سرحدي ليکې په لټه کې)

په(۷) مخونو کې د کورنيو خپرونو د مديريت له خوا په کوچنۍ کچه خپور شوی دی.

**۴۱- امير امان الله خان و مسايل سرحدي:**

(امير امان الله خان او سرحدي مسالې)

د کورنيو خپرونو د مديريت له خوا پر۱۳۳۲ کال په(۱۲) مخونو کې په کوچنۍ کچه خپور شوی دی.

**۴۲- سياست متوقف، احتراز**

**اشتباهات يک و نيم قرنه:**

(په يونيمه پيړۍ کې پر سهوې

او ځانساتې ولاړ سياست)

د کورنيو خپرونو د مديريت له خوا په۱۵ مخونو کې په کوچنۍ کچه پر۱۳۳۳ کال خپور شوئ دی.

**۴۳-شيرشاه سوری یاممثل روح افغانيت درهند:**

(شيرشاه سوری په هند کې د افغانيت ژوندی انځورګر)

د کورنيو خپرونو د مديريت له خوا په(۹) مخونو کې په کوچنۍ کچه پر۱۳۳۴ کال خپورشوی دی.

د استاد پورته ټول کتابونه چې څه ناڅه سياسي جوله لري د پښتونستان د ورځې په وياړ خپاره شوي دي.

*ب: ژباړې:*

استاد کهزاد يو شمېر بهرني ايټالوي، انګليسي او فرانسوي کتابونه په دري ژباړلي دي، چې دلته ښوول کيږي:

## ۴۴-اثار عتیقه بودایي بامیان(جلددویم)

(د بامیانو زړې بودایي نښې)(دویم ټوک)

پر۱۳۱۵ ل کال په کابل مجله کې تر خپرېدو وروسته په۸۷ مخونو کې د کابل د ادبي انجمن له خوا چاپ او په لویه کچه خپور شوی دی.

دا کتاب موسیو، مادام گودار او پروفیسر هاکن په فرانسوي لیکلی او استاد کهزاد ژباړلی دی.

په دغه کتاب کې له(۲۴) تاریخي عکسونو پرته چې د انځورونو سیکو(پیسو) پڅیو، مزدکونو، سمځو او د بامیانو د تاریخي او هنري ځایونو دي، د تصویر پېژندنې په اړه څېړنه، په اروپایي لیکنو کې د بامیانو د تاریخي نښو یادون، په افغانستان کې دلرغونپلټنې څرنګوالی، له۱۹۲۲ کال مخکې لرغونپلټنې، لوی بوتان او تګلارې یې، د ځینو مزدکونو پېژندنه او د ودانۍ څرنګوالی یې او د بامیان نوم په چیني لیکنو کې، څېړل شوي دي.

پر دغه کتاب ژباړن هم یو۱۴ مخیزه سریزه لیکلې ده.

## ۴۵- صنعت بودایي باختر و مبدأ صنعت گریکو بودیک:

(بودایي باختري هنر او دګریکو بودیک هنرسرچینه)

په کوچنۍ کچه په(۱۷) مخونو کې له فرانسوي ژبې په دري ژباړل شوی چې(۱۴) مخه هماغه آره فرانسوی منځپانګه هم ورسره یو ځای خپره شوې او ورسره(۱۴) تصویرونه هم مل دي.

داکتاب په کوندوز کې د تر لاسه شویو تاریخي نښو څېړنه او سپړنه ده، چې موسیوژ وژف هاکن په فرانسوي لیکلی او پر۱۳۱۶ کال د پښتو ټولنې له خوا په کابل کې چاپ شوی دی.

ستاسې په لاس کې کتاب دویمه برخه د همدې کتاب ژباړه ده.

## ۴۶- منظره افغانستان:

(د افغانستان منظره)

پر ۱۹۵۱ ز کال په کابل کې د بریتانیا استوګن استازي(سفیر) د خپلې استوګنې پر مهال د افغانستان سیاسي او تا د یوې لیکنې په ترڅ کې په یادښتي بڼه په "مارتن ریویو" خپرونه (لندن) کې خپره کړې ده. چې دري ژباړه یې د استاد له خوا پر ۱۳۳۰ کال په (۲۰) مخونو بشپړه شوې او د کورنیو خپرونو دلوی مدیریت له خوا د پښتو نستان دملي ورځې په ویاړ خپره شوې ده.

## ۴۷- سرخ کوتل:

(سور کوتل)

په (۲۱) مخونو کې د افغانستان د تاریخ ټولنې له خوا ۲۰۰ ټوکه چاپ او خپور شوی دی.

دا کتاب په فرانسوي ژبه د استادکهزاد او د فرانسې د یوه تن لرغونپوهاند دانیل شلوم برژه د هغو دوو لیکنو ټولګه ده، چې پر ۱۹۵۲ ۱۹۵۳ کلونو په سرخ کوتل کې د تر سره شویو پلټنو په اړه په کې خبرې شوي دي.

د استاد کهزاد مقاله په لنډه توګه د سرخ کوتل د موندل شوي اورتون، چې په زیږدي لومړنیو دوو پیړیو کې دلته ودان شوی- پېژندنه ده.

د دانیل شلوم برژه لیکنه د دغه اورتون د څانګړتیا وو،ودانۍ، خواوشاوموندل شویو نښو، ډبر لیکونو، لوښیو او موندل شویو سیکو د څرنګوالي په اړه ده.

## ۴۸- تایان:

دا کوچنی کتاب په۴۴ مخونو کې د"شی،چې" کتاب "۲۳۱" څپرکی دی، چې په چین کې د مشهور تاریخپوه "ثه ماچه ین" په قلم لیکل شوی او د افغانستان د یو پلاوي د سفر په ترڅ کې په چین کې د دغه پلاوي مشرته سپارل شوی و.

په دغه کتاب کې د چیني ګرځندوی "چانګ. چه. ین" له خوا د افغانستان د شمالي سیمو په اړه د"تاهیشا" تر سر لیك لاندې څېړنه شوې چې تر"۲۰۰۰"کاله مخکې دغلته راغلی و.

د افغانستان تاریخ ټولنې دغه کتاب له انګلیسي منځپانګې سره یو ځای پر۱۲۳۷ کال خپور کړی دی.

**۴۹- هنر قدیم افغانستان:**

(د افغانستان لرغونی هنر)

دا کتاب د افغانستان د لرغونیو هنري نښو هغه کتلاګ دی، چې د یو نړیوال کانفرانس په ترڅ کې د ۱۹۶۶ کال د جنوری له۱۳ مې تر د مارچ ٦مې پورې په نیویارك کې او د مارچ له ۲۵مې تر د مې ۱٦مې پورې د لاس انجلس په هنري موزیم کې او د جون له ۲۹مې تر د اګست۲۳مې پورې د واشنګټن د ښکلیو هنرونو په کلکسیون کې نندارې ته ایښوول شوې وې.

د دغو نښو د ټاکلو لپاره د دغه کتاب لیکوال او ټولوونکی بنجامن رولاند د اسیا فاونډیشن ټولنې په غوښتنه پر۱۹٦۴ کال کابل ته راغلی و.

په دغه لرغونیو تاریخي نښو کې د منیډیګك. بګرام، پایتاوې، هډې، بامیان، کابل، فندقستان، بلخ، غزنې او دننګرهار د کمې ډکې شاملې وې.

د هارورډ پوهنتون د ښکلیو هنرونو استاد بنجامن رولاند، دغه نښې تر نندارې وروسته په څېرلې بڼه وکتلې او د هر یو له پېژندګلوۍ او څېړنې وروسته یې له عکسونو سره یو ځای په انګلیسي ژبه په کتابې بڼه خپرې کړې چې ۱۲۰ قطعې عکسونه هم ورسره مل وو.

استاد کهزاد د دغه کتاب دري ژباړه د افغانستان د لرغوني هنر په نامه پر۱۳۴٦ ل کال تر سره کړه، چې د زړو نښو د ساتنې او د موزیم مدیریت له خوا د ښوونې او روزنې په چاپخونه په۱۴۴ مخونو کې"۱۰۰۰" ټوکه خپور شوی دی.

# په بهرنيو ژبو د استاد کهزاد خپاره شوي کتابونه:

**۵۰- سکندر په افغانستان کې:**

په فرانسوي ژبه په(۳۱) مخونو کې پر۱۹۴۶ز(۱۳۲۵هـ.ل) کال د کابل په چاپخونه کې په منځنۍ کچه خپور شوی دی.

دا په څلورو پر دوکې يو نندار ليك دی، چې په افغانستان کې سکندر ته د ورپېښو ستو نزو په اړه په کې څېړنه شوې ده.

**۵۱- د افغانستان دودونه:**

د ګيمي موزيم له خوا د پاريس پوهنتون په چاپخونه کې په منځنۍ کچه په۲۰۴ مخونو کې په فرانسوي ژبه پر۱۹۵۳ کال خپور شوی دی.

دا کتاب د فرانسوي لرغونپوه موسيوهاکن په غوښتنه ليکل شوی، چې غوښتل يې په افغانستان کې له لرغونيو موندل شويو نښو سره د افغانانو ننني فوکلوري کيسې او دودونه پرتله کړي او ريښتېنې پايله لاسته راوړي.

**۵۲-د باميانو لنډ لارښود:**

انګليسي- فرانسوي.

دا کتاب۱۲ مخه په دوو ژبو له۲۴ عکسونو سره د افغانستان د تاريخ ټولنې(۲٦) مه نومره خپرونه ده، چې د اټکل له مخې به پر۱۳۲۴ لمريز کال خپور شوی وي.

دا کتاب د استاد کهزاد د هماغه کتاب لنډيز دی، چې په دري ژبه د"باميان لارښود" په نامه پر۱۳۲۴ کال د افغانستان د تاريخ ټولنې له

خوا خپور شوی دی.

د دغه کتاب څرنګوالی او سکالو هماغه ده، چې د پورته کتاب په اړه مخکې لیکل شوې ده.

## ۵۳-شخصیتونه او تاریخي پېښې:

د men and Events تر سرلیك لاندې دافغانستان د تاریخ ټولنې له خوا پر(۴۴) مه خپرنۍ لړۍ په ۱۷۰ مخونو کې، په انګلیسي ژبه په منځنۍ کچه خپور شوی دی.

د دغه کتاب لومړی چاپ نښته نه لري، خو دویم ځل پر ۱۹۷۲ کال د افغان کتاب خپرولو موسسې له خوا خپور شوی دی.

د دغه کتاب سکالو(موضوع) هماغه ده، چې د"رجال و رویداد های تاریخي" تر سرلیك لاندې په دري ژبه لیکل شوی او د دغې لیکنې په مخکینیو مخونو کې تاسې ته در پېژندل شوی دی.

## ۵۴- لرغونی او ننني افغانستان:

په ایټالوي ژبه په۵۳ مخونو کې پر۱۹۵۵ کال د ایټالیا په پلازمېنه روم کې چاپ شوی دی.

په دې کتاب کې په افغانستان کې د لرغونې او ننۍ واکوالۍ جولیز توپېرونه څېړل شوي او همدارنګه په کې د نورو یرغلونو له امله د افغاني واکمنیو د رنګېدو تاریخي لاملونه په ګوته شوي دي.

## ۵۵- اریانا یا لرغونی افغانستان:

په انګلیسي ژبه پر ۱۹۵٦ زېږدي کال په ۱۱۷ مخونو کې په منځنۍ کچه په ښکلی کاغذ د فرانسې په پلازمینه پاریس کې چاپ شوی دی.

کېدای شي، چې داکتاب په دري ژبه د استادکهزاد د لیکل شوي کتاب "اریانا" ژباړه او یا په لږتو پیر سره نوې ګوتوهنې په کې شوي وي. چې د لرغونې اریانا په اړه په زړه پورې څېړنه لري.

همدارنګه په دغه کتاب کې ځای پر ځای ښکلي رنګه عکسونه

هم خپاره شوي دي.

## ۵٦- د کابل تاریخي لارښود:

په"۷۰۰" مخونو کې په انګلیسي ژبه په لویه ښکلي کچه د بریتانیې په پلازمینې لندن کې خپور شوی دی.

په دې کتاب کې د کابل تاریخي نومونې، د کابل پخوانی او ننني جغرافیه، په لرغونیو واکمنیو کې د کابل اړوندې سیمې او منځې، په کابل کې بودایي مزدکونه، په اسلامي پېرکې دکابل او نا او نور څېړل شوي چې ګڼ شمېر رنګه او توروسپین عکسونه هم ورسره مل دي.

# د استاد کهزاد ناخپاره شوی کتابونه:

## ۵۷- رایان کابلي:

(په کابل کې لرغوني هندي واکمن)

په(۸۱) مخونو د استاد کهزاد په خپل لاس لیکل شوی کتاب دی، چې د اټکل له مخې به پر۱۳۲۳ کال کښل شوی وی. په دې کتاب داسر لیکونه څېړل شوي دي:

کابل واکمني یا کابل واکمن، د کوشانو یفتلي یا خبونیانو سرچینه، رتبیل واکمن یا کوشانو یفتلي واکمن، د واکمنۍ منځی او کابل ختیځ لورته د هغې بدلون. د برهمني واکمنۍ، دلړۍ جوړوونکی. غزنویان او هندي واکمن، د دغه کهاله نور واکمن، نامتو بودتونونه، سکاوند بودتون، په خیرخانه کوتل کې د موریا برهمني مزدك، د کابل د برهمني واکمنو سیکې.

## ۵۸- افغانستان چهار راه تمدن و تهذیب:

(افغانستان د مدنیتونو او کلتورونو څلور لارې)

دا کتاب په(۱٦٦) لویو مخونو کې یو تاریخي البوم دی، چې د افغانستان د ټولو تاریخي سیمو او نښنو ښکلي رنګه عکسونه او تر (۲۰۰۰۰) کالو وړاندې د افغانستان د بېلابېلو لرغونیو نښنو په اړه په کې په دې ډول څېړنه شوې، چې ترهر عکس لاندې نسبتاً اوږده شرح راغلې ده.

استاد کهزاد پخپله د دغه کتاب په سریزه کې لیکلي:

"دا کتاب "یا د تاریخي عکسونو ټولګه" چې په یوه ټوك کې د(افغانستان د مدنیتونو او کلتورونو څلورلارې) تر سرلیك لاندې سره

يوځای شوی دی، یو شمېر فرهنګي او هنري لاسته راوړنې په کې خوندي دی، چې د دغه هېواد د خلکو په برخليك کې ترشلو زرو کالو مخکې د"ګارما" تر ورځو- ډېر غوره ارزښت لري.

د دغه ټولګې ليکنه د يو کتاب په څېرنه ده. يوازې هڅه شوې، چې په يوه مخ کې تر عکس لاندې آره موخه څرګنده شي او په مخامخ مخ کې لوی سر ليکونه د يوه تاريخي فارمول په توګه څرګند شي.

هېله لرم چې د دغه کتاب کتنه ستاسې وخت بې ځايه ونه لګوي او د يو تاريخي انځور په توګه يې ننداره وکړئ او په اسانۍ ترې ګټه ترلاسه کړئ."

دا کتاب د۱۳۵۶ کال د وري پر(۲۰) مه پای ته رسېدلی او د ده د زوی"زرګي کهزاد" په وينا، ده غوښتل چې دا کتاب په يوه بهرني هېواد(جاپان؟) کې ښکلی چاپ کړي.

خو د ده تر مړينې وروسته دا کار پاتې شو. که افغان خپرندويو ټولنوته خدای(ج) وسه وکړي، هېله ده دا کتاب چاپ او خپور کړي.

## ۵۹- رويين تن و تهمتن يا
## جنګ اسفنديار و رستم در وادی هيرمند:

(روين تن او تهمتن يا
د هيرمندپه دښته کې د اسفنديار او رستم جګړه)

دا د استاد د عمر وروستی کتاب دی، چې د"افغانستان در شاهنامه" په څېر د شاهنامې د شعرونو تفسير تعبير او څېړنه ده.

ده د رويين تن(د اسفنديار بلنوم) او تهمتن(د رستم بلنوم) د کيسو اړوند شعرونه له شاهنامې را اخيستي او څېړنه يې پرې کړې، چې يو غور څېړنيز کتاب ګڼل کېږي.

دا کتاب په۲۱۴ لويو مخونو کې ليکل شوی او تر اوسه نه دی خپور شوی.

## ٦٠- کابل موزیم:

د دغه کتاب نوم په انګلیسي ژبه د کابل په تاریخي لاربنود نومي کتاب کې راغلی، خو د چاپ او یا نه چاپ په اړه په کې څه نه دي لیکل شوي، کېدای شي د کابل موزیم پېژندنه وي.(؟)

# نا چاپ ژباړې:

## ٦١- نتایج تاریخي کشفیات جدید افغانستان:

(د افغانستان د نویو موندل شویو نښو تاریخي پایلې)

دا د"ایچ-تی،پرنسپ" په انګلیسي ژبه دلیکل شوي کتاب دري ژباړه ده چې په(۱۴۹) لویو مخونو کې د استاد په خپل لاس لیکل شوې ده.

دا کتاب پر ۱۳۱۲ل کال ژباړل شوی او د ایتالیې په پلازمینه روم کې ده پخپله بیالیکلی(پاکنویس کړی) دی.

د دې کتاب په منځپانګه کې د لرغونې اریانا تاریخ څېړل شوی چې د یوناني، پارتي، پهلوایي او اسکایي پېرونو په اړه اوږده څېړنه ده.

## ٦٢- از چنگیز تا تیمور:

(له چنګیز تر تیموره)

دا کتاب په فرانسوي ژبه په ۴۳ لویو مخونو کې د"موسیورونه-ګروسه" د کتاب ژباړه ده، چې د مغلو د امپراتورۍ د څېړنې په ترڅ کې په کې د افغانستان په اړه ډېرې څېړنې هم شوي دي. وایي چې داکتاب استاد د خپریدو په منظور نه بلکې په خپلو څېړنو کې د ګټې اخیستو په منظور ژباړلی- خو وروسته یې په کې بیا د چاپ په منظور ګوتې وهلي دي. دا کتاب تر اوسه نه دی خپور شوی.(۸)

# په خپرونو کې داستاد کهزاد لیکنې (مقالې):

استاد کهزاد د څېړنیز ژوند په"۵۰" کاله کې وخت ناوخت تر افغانستان دننه او بهر په مهالنیو او نا مهالنیو خپرونو کې پر بېلابېلو سکالوې(موضوعگانو) لیکنې خپرې کړې دي، چې ځینې یې ان د کتاب ارزښت لري.

په ټولیزه توګه د استاد کهزاد ټولې خپرې شوې لیکنې د افغانستان د لرغوني تاریخ، لرغون پېژندنې، تاریخي، جغرافیوي، د موسیقۍ د تاریخ او پېژندنې، د لرغونيو ځایونو تاریخي نومونې، د لرغونيو نښو د سپړنې بېلابېل ګزارشونه، د لرغونيو توکيو په اړه یونلیکونه او د بهرنیو لرغونپوهانو د تاریخي لیکنو ژباړې دي.

په بهرنیو خپرونو کې د استاد کهزاد د خپرو شویو لیکنو په اړه خو اوس څرګندونې په لاس کې نه لرو، خو په کورنیو خپرونو کې د ده ډېرې لیکنې تر سترګو کېږي. چې په لنډیز سره به دلته پرې خبرې وشي:

## په کابل مجله کې:

کابل مجله پر ۱۳۱۰ کال د کابل د ادبي انجمن د خپرني ارګان په توګه په خپرونو پیل وکړ. په دغه خپرونه کې د استاد کهزاد لیکنې د لومړني کال له پېنځمی ګڼې راپیل کېږي، چې لومړنۍ لیکنه يې"د افغانستان لرغونی مدنیت" نومېږي او موږ داهم ویلای شو، چې دا د استاد لومړۍ لیکنه ده، چې د خپرونو ډګرته راوتلې وه.

د کابل مجلې په(۱۱) پرله پسې کلونو کې د استاد کهزاد لیکنې چاپ دي، مانا داچې له۱۳۱۰ کاله پیل او ان د ۱۳۲۰ کال تر وروستیو ګڼو پورې په کې خپرې شوې دي.

په کابل مجله کې د استاد کهزاد ټولې(۲۳) سرلیکه لیکنې

راغلي، چې ځينې ډېرې اوږدې او ان کلونه کلونه تر همدې يوه سرليك لاندې خپرې شويدي. چې د استاد(۲۳) سرليکه ليکنې د مجلې په(۵۷) ګڼو کې خپرې شوې دي.(۹)

## په اريانا مجله کې:

د اريانا مجلې موسس او د لومړنيو پينځو کالو چلوونکی پخپله اروانباد استاد کهزاد و، دا چې اريانايو تاريخي خپرونه وه، ځکه د استاد کهزاد ګڼ شمېر ليکنې په دغه مجله کې خپرې شوې دي.
په دغه خپرونه کې د استاد کهزاد ليکنې شاوخوا(۲۵) کاله پرله پسې خپرې شوي، چې شمېرې ۱۷۵ شاوخواته رسي که موږ د استاد کهزاد ليکنې او د مجلې ګڼې سره پرتله کړو، بويه چې د مجلې د يو کال له هر دوولسو ګڼونه په لسو هغو کې د استاد ليکنې خپرې شوي دي. او که په بله وينايې وګڼو؛ نو پرله پسې(۲۲) کاله د اريانا مجلې په هره ګڼه کې د استاد ليکنې خپرې شوي دي.

## په ژوندون مجله کې:

ژوندون مجلې پر۱۳۲۸ل کال په کابل کې په خپرونو پيل وکړ. استاد کهزاد له هماغه لومړي کاله له دغه مجلې سره(۳٦) کاله پرله پسې ليکنې مرسته کړې ده، چې په دغه شاوخواکې په اټکلي ډول د استاد کهزاد(۱۷۰) سرليکه ليکنې خپرې شوي دي. البته ځينې ليکنې تر يوه سرليك لاندې په څو برخو کې خپرې شوي، چې نورې اټکل لوستونکيو ته سپارو.

## په افغانستان کالنۍ کې د استاد کهزاد ليکنې:

د افغانستان کالنۍ لومړۍ ګڼه د"سالنامهٔ مجله کابل" په نامه په کابل کې خپره شوې، چې وروسته يې نوم د افغانستان کالنۍ شوی او ټوله د کالنۍ خپرونې په ټوګه ۵۷ ګڼې خپره شوې ده.

له دغه خپرونې سره د استاد کهزاد "همکاری له پېنځمې گڼې (۱۳۱۵ل کال) را پیل شوې، چې تر ۱۳۳۸ کال شاوخوا پورې روانه وه.

له دې دا څرگندېږي، چې په افغانستان کالنۍ کې (۲۴) کاله د استاد کهزاد اوږدې لیکنې خپرې شوې دي. همدارنگه په دغه خپرونه کې ځینې لیکنې نو مونه نه لري، چې هغه هم د استاد گڼل کېږي، چې په پورته کلونو کې نه دي گڼل شوي.

## په اریانا دایرة المعارف کې:

د اریانا دایرة المعارف لومړی ټوک پر۱۳۲۸ل کال خپور شوی. استاد کهزاد د دغه ټولنې د یو کارنده غړي په توگه پرله پسې په دایرة-المعارف کې لیکنې کړي دي، چې په ټولیز ډول په لومړی ټوک کې(۱۲) سرلیکه په دویم ټوک کې(۴) سرلیکه، په دریم کې(۱۵) سرلیکه، په څلورم ټوک کې ۲۲ سرلیکه، په پېنځم ټوک کې ۹ سرلیکه او په شپږم ټوک کې (۱) سرلیك لیکنې راغلې چې ټولې (۷۳) سرلیکه کیږي.

## په اتحاد مشرقي(اوس ننگرهار) ورځپانه کې:

اتحاد مشرقی جریده، چې اوس یې ننگرهار نوم دی، پر ۱۲۹۸ل کال د ننگرهار ولایت په مرکز جلال اباد کې په خپرونو پیل وکړ. پر ۱۳۲۰ل کال د دغه جریدې (٦) چلوونکی استاد قیام خادم وټاکل شو. د ده د مدیریت په دویم کال(۱۳۲۱) په دغه ورځپانه کې د استاد کهزاد یو شمېر لیکنې په پښتو ژبه خپرې شوې دي، چې د لرغونیو توکیو او د افغانستان دلرغوني تاریخ په اړه دي. دالیکنې ټولې په پښتو ژبه دي او ژباړونکی یې هم نه دی څرگند او یاهم کېدای شي چې پخپله استاد په پښتو لیکلې وي. کېدای شي په دغه خپرونه کې د استاد د لیکنو شمېر ډېر وي- خو ماېې ټولې(۲۱) سرلیکه ولیدې.

## په نورو خپرونو کې:

پورته چې کومې خپرونې یادې شوې دا هغه دی، چې د استاد کهزاد لیکنې یې په پرله پسې او عمده ډول خپرې کړې. له دې پرته نورې ډېر داسې خپرونې هم شته، چې د اروانباد استاد کهزاد لیکنې په کې خپرې شوي . په دې کې د افغانستان مجله چې په انګلیسي او فرانسوي ژبو خپرېده د لومړيتابه حق لری، خو په هغې کې د استاد د لیکنو ځرګندونه اوس مهال شونې نه ده.

له دې پرته په انیس ورځپانه، اصلاح ورځپانه، پښتون غږ مجله او نوروکې هم د استاد بېلابېلې لیکنې خپرې شوې دي.

استاد کهزاد ګڼ شمېر لیکنې په افغانستان راډیو کې هم اورولې، چې یوه برخه یې د"افغانستان در پرتو تاریخ" په نامه پر۱۳۴۶ کال خپره شوه، خو ځرنګه چې هغه پخپله لیکلي چې دا د هغو لیکنو یوه برخه ده او نورې هم شته، چې په ګانده کې یې د چاپ تمه لرم. په دې توګه د استاد پخپله وينا هلته هم د ده ګڼ شمېر لیکنې ناچاپ پاتې دي.

خو د یادونې وړ ده چې:

د استا د دغه لیکنو یوه برخه د ده په کتابونو کې هم بېرته را یوځای شوې او خپرې شوي دي. مانا دا چې د استاد یو شمېر لیکنې لومړی په خپرونو کې خپرې شوي او بیا په کتابي بڼه یا رایو ځای شوي او یاکټ مټ- که اوږده لیکنه وي- خپره شوې ده. خو که موږ د استاد ټولې چاپ شوې لیکنې(مضمونونه) مخې ته کېږدو او د ده له چاپ شویو کتابونو سره یې پرتله کړو، نو په سلو کې شل ۲۰ % په خپرونو کې د ده خپرې شوې لیکنې په کتابي بڼه خپرې شوي او نورې همداسې پاتې دي.

استاد کهزاد ځینې مهال شعر هم وایه چې یوازې یو شعر یې تر موږ رارسېدلی او دا په دري ژبه د هیواد د ملي ویاړونو په اړه ترانه ده، که مو هېواد خدای(ج) بیا ودان کړي، د ده د شعر په اړه به نورې ځرګندونې هم ومومو.

## اخځونه او پايليکونه:

١- حسيني، نعمت: سيماها و اواها، د چاپ او خپرونو دولتي کمېټه١٣٦٧،کابل، ٥٩٥ او٩٦ مخونه.
٢- همدا کتاب٥٩٧-٩٨مخونه او يادنامۀ کهزاد.
٣- ابراهيمي، محمداسحاق: يادنامۀکهزاد(د سر محقق هېواد مل په زيار) د کابل پوهنتون د تاريخ او فلسفې پوهنځي خپرونه ١٣٦٧ل، کابل ٨ مخ.
٤- همدا کتاب ٩مخ.
٥- پورتنی کتاب ١٠مخ.
٦- نايل، محقق حسين، کهزاد و پژوهشهای او، د افغانستان جمهوريت د علومو اکاډمي١٣٦٦ کابل ٦٨-٦٩ مخونه
٧- همدا کتاب٧١ مخ
٨- د استاد کهزاد ګڼ شمېر خپاره شوي کتابونه: د ليکونکي ځانګړی کتابتون.

د استاد کهزاد د کتابونو په پېژندنه کې ډېره ګټه د ده له شتو خپروشويو کتابونو اخېستل شوې ځينې يې چې نه دي موندل شوي له لاندې کتابونو او سرچينو اخيستل شوي دي:

- کهزاد و پژوهشهای او، د محقق حسين نايل ١٣٦٦ ل کابل
- د تاريخ ټولنې کتابونه د استاد جبيب الله رفيع ١٣٥١ ل کابل
- فهرست کتب چاپی دری افغانستان، دمايل هروی١٣٦٧ل کابل
- د ننګرهار پوهنتون او د ننګرهار د اطلاعاتو او کلتور رياست کتابتونونه.
- ياد نامۀ کهزاد د سرمحقق هيواد مل په زيار ١٣٦٧ ل کابل
- بناغلی نايل په"کهزاد و پژوهشهای او "کتاب کې د اروابناد استاد کهزاد د ليکنو په اړه نسبتاً اوږده څېړنه کړې ده، په"کابل" او يو شمېر نورو خپرونو کې د استاد کهزاد د ليکنو شمېر او څرنګوالی له همدغه کتاب راخيستل شوی دی.

# وییپانګه

آر : اصل
آره موخه : اصلي هدف
اتاله : ایسار، یوځای، شامل
اخځ : ماخذ (داخیستلو ځای)
اړنګ : شك، توهم
استازی : نماینده، سفیر
اسمانځك : لوړ، هسك،
اغیز : تاثیر
الواك : نظر
اند : فکر
اورتون : اتشکده، د اوربلولو ځای
برم و پرتم : شان و شوکت
بلوا : پاڅون
بنستیز : اساسي
بوت خونه : بتخانه
بوق : د موسیقۍ یو ډول اله
بولله : قصیده
بېلګه : نمونه، مثال
پایځوړ : بقایا، پاتېشوني

| | | |
|---|---|---|
| پایله | : | نتیجه |
| پرتله | : | مقایسه |
| پرتلیز | : | مقایسوي |
| پژی | : | مجسمه، بوت |
| پلاز | : | تخت |
| پلازمېنه | : | پایتخت |
| پلازناسته | : | تخت ناسته |
| پلاوی | : | هیئت |
| پنځیز | : | طبیعي |
| پېر | : | دوره، حالت (اوتا) |
| پېژندوی | : | مشهور |
| پیسي | : | سیکې |
| تچیر | : | لویه خیمه |
| ټولواك واكمن | : | مقتدر پاچا |
| ټولیزډول | : | مجموعی شکل |
| | | عمومي شکل |
| جوله | : | شکل |
| جولیز | : | شکلي |
| چاپخونځ | : | مطبعه، د چاپ ځای |
| چارواکی | : | حاکم، پاچا، د واك څښتن |
| چمتو | | تیار، اماده |
| ځېرلی ډول | : | دقیق شکل |
| ځمکپوه | : | زمین شناس |
| ختیځ | : | شرق |
| ختیز | : | شرقي |
| دختیځ پېژندنې | | |
| ټولنه | : | موسسه شرق شناسي |
| دنده | : | وظیفه |

| | | |
|---|---|---|
| زېږدي(ز) | : | ميلادي (م) |
| زېږدي پېړۍ | : | قرن ميلادي |
| سپوږميز | : | قمري |
| سرچينه | : | ماخذ، مبداء |
| سکالو | : | موضوع |
| سکالوي | : | موضوعګاني |
| سهيل | : | جنوب |
| سهيلي | : | جنوبي |
| ښندلی | : | پرايستی، اچولی، شيندلی |
| غولی | : | حويلۍ، انګړ |
| کارنده | : | فعال |
| کچه | : | اندازه |
| کنډرې | : | ويجاړې، کنډوالې |
| ګانده | : | اينده، راتلونکې |
| ګرځندويان | : | سياحين |
| ګروېږنه | : | پلټنه |
| ګروهه | : | عقيده |
| ګروهمن | : | عقيدتمن |
| لاسوند | : | سند |
| لاسوند تابه | : | استناد |
| لامل | : | وجه |
| لرغونپوه پلاوی | : | هيئت باستانشناسي |
| لرليد | : | پيش ګويي |
| لږترلږه | : | حداقل |
| لمر لمانځنه | : | د لمر عبادت |
| لويديځ | : | غرب |
| لويديز | : | غربي |
| لي | : | چيني اندازې واحد |

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکدود : رسم الخط
لیکه : "پوځي" کرښه، خط، صف
مخزیږدی ،م،ز : قبل المیلاد، ق.م
مزدك : معبد، د عبادت ځای
منځپانگه : متن
موخه : هدف
مهالنۍ : موقوته
نامتو : مشهور، معروف
نامهالنۍ : غیرموقوته
نښې : آثار
نغوته : اشاره
نندارلیك : نمایشنامه
نوښت : ابتکار
نومه ونه (نومونه) : نامگذاري
وټییز : اقتصادي
وټیزه اوتا : اقتصادي وضع
ویی : لفظ ویـیونه جمع
وییپانگه : لغت نامه
هېښ : حیران
هېښنده : حیرانوونکی، عجیب
یون : تګ، حرکت
یانه : "د یون"او ښتی پېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Acknowledgement

This book in your hand Sa summation of three different pieces of work. The first two parts are the Pashto translations from two small booklets written in Dari while the third one is a small contribution from the author himself.

The late Ustad Ahmad Ali Kuhzad in Dari language wrote those two booklets whose translation is presented here. The first booklet was published in the year1337, in Kabul.It is in fact a research work carried out the same year in Ghazni. the historic capital of Sultan Mahmood Ghaznawi. It is a research about a temple of the Buddhist in Shah Bar of Ghazni. Ustad kuhzad had gone there with French team of archaeologist as a guide and adviser. During digging over there a large number ofBudds and other things werediscovered, wich could be counted a golden Doors of our history and national heritage. Ustad kuhzad wrote all these findings and discoveries in the form of a booklet and arranged for its publication later on.

The second booklet was written in French by the name of [Buddhist skill of Bacteria] and translated in Dari by Ustad Kuhzad.This book encompasses the original work done by Mr.Hoken the of the then French archaeological team by digging places of Khan Abad of the Kunduz province .The French work was published in Paris in the year 1315.


Both these booklets carry a great amount of informations about the archaeological value of these mentioned areas.

The third part of the book is not a translation but awritting from the author Mr. Daud Wafa and presents the life career and the written monuments of the late Ustad Kuhzad, a famous and illustrious archaeologist of Afghanistan.

Here I will like to take the opportunity to appreciate Mr. Parwash Shaheen for reading this book and writing introduction for it. At last it must be said the without Kindness of the Danish Publication Center this work would have been a failure.

Mohammad Daud Wafa
6jun 1999.

(c) ketabton.com: The Digital Library




Plan

پرته نقشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



Fig : ( 1 )　　　　لومړی انځور



( Fig : 2 )　　　　دویم انځور



Fig : ( 3 b )



Fig : ( 3 a ) درئيم انخور



Fig. ( 4 a ) ثلورم انخور




Fig. ( ٤ b )

(c) ketabton.com: The Digital Library



Fig. (5 b)



Fig. (5 a) پینځم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



Fig : ( 6 ) شپږم انځور



Fig . ( 7 ) اووم انځور



Fig . ( 8 ) اتم انئور



Fig : ( 9 ) نهم انئور




لسم انځور

Fig . ( 10 )



غزني: د شابهار مزدك



غزني: د شابهار د مزدك يوه بله خوا



غزني: د شابهار مزدك .

(c) ketabton.com: The Digital Library



غزني: د شابهار د مزدك يوه بله خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



استادکهزاد دځوانی په کلونوکې


PROPERTY OF ACKU 8290

اروانباد استاد کهزاد دایټالیا دختیځ پېژندنې په کنفرانس کې دافغانستان دلرغونیو اثارو په اړه وینا اوروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



PROPERTY OF ACKU
8220

استاد کهزاد په شوروي اتحادکي




استاد کهزاد دایران پېژندنې په لومړنۍ نړیواله کنګره کې له افغاني او ایراني پوهانو سره


تهران ۱۹۶۵ ز

PROPERTY OF ARIC Established 1989

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد داود وفا



دانش خپرندویه ټولنه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**